مجله علمی سلام

Salam Academic Journal

*Journal Homepage:* https://www.resaearch.salam.edu.af

سال نهم، دور دوم، شماره ۵، بهار سال ۱۴۰۳هـ ش

# د شورا جوړښت، حکم، کیفیت او الزامیت

# Consultation (Shura): Formation, Ruling, Procedures, and the Binding Nature of its Resolutions

DOI: 10.64104/SecondRound.Issue.5.n1.2024

دکتور مصباح الله عبدالباقی[1]

ORCID: https://orcid.org/0009-0004-4224-2339

## لنډيز

په دې څېړنه کې د شورا او شورائيت مهمه مسئله څېړل شوې ده. شورا په اسلام کې د ټولنيز ژوند بنسټ دى او د دې بنسټ اهميت هغه مهال لا پسې ډيرېږي كله چې د ټولنې د ډېرو وګړو او سياسي مسئلو پورې تړاو ولري. شورا يو شرعي واجب دى او پر دې د اسلامي امت د علماوو اجماع ده. اسلام د شورا لپاره ډېر پراخه ډګرونه ټاکلي دي، او د مشوره ورکوونکي لپاره يې هم ځانګړني ټاکلي دي. د شورا د كيفيت په اړه د شريعت لارښوونه دا ده چې د ټولنيزو مسئلو په اړه شورا بايد په ټوليزه توګه سرته ورسېږي. په اوسنيو حالاتو کې چې په اسلامي نړۍ کې مجتهد حاكمان نشته، نو د اسلامي شريعت حکم دا دى چې د شورا پرېکړې بايد الزامي وي. له شورا وروسته بايد پرېکړهپه اکثريت وشي ځکه اکثريت د اسلامي فقهې له نظره د ترجيح يوه بنستيزه وسيله ده او د شورائيت په حالت کې پرېکړو ته د رسېدلو لپاره همدا يواځينۍ لاره ده. كه په اوسنيو شرايطو کې په همدې شرعي طريقه او د نورو شرعي معيارونو په نظر کې نيولو سره شورائيت حاكم شي، نو ډېرې ستونزې به هوارې شي. دا او دې ته ورته موضوعات په دې څېړنه کې څېړل شوي دي.

**کليدي کلمې: شورا، د شورا کيفيت، د شورا ډګرونه، د شورا الزاميت، په اکثريت پرېکړه**

ISSN: 3078-9583 (Online) ISSN: 3078-9575 (Print)

تاریخ نشر: ۱۴۰۳/۰٦/۱۵ تعداد صفحات: ٦۰ از صفحه ٦ تا ٦٦

[1]. د شرعياتو پوهنځي استاد او د سلام پوهنتون رئيس، 0771694474، Misbah.abdulbaqi@gmail.com

**سریزه**

الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين و على آله و أصحابه أجمعين، أما بعد.

د شورا قضیه ډېره مهمه ده او په دې اړه ډېر زیات نصوص راغلي دي، په ډېرو ځایونو کې یې په قرآن کریم کې عملي بېلګې هم وړاندې شوي دي، لکه د حضرت ابراهیم علیه السلام او د هغه د زوی حضرت اسماعیل علیه السلام ترمنځ محاوره او د الله تعالی د حکم د تطبیق په اړه مشاورت، همدا راز د ملکه سبا او د هغې د قوم د مشرانو ترمنځ مشوره او محاوره او هغه صریح نصوص چې د شورا په اړه راغلي دي له چا هم پټ نه دي، د دې تر څنګ د کورنیو مسایلو په اړه د شورا حکم د قرآن کریم په څو ځایونو کې یاد شوی دی.

همدا راز د رسول الله صلی الله علیه وسلم ټول ژوند په حقیقت کې د (**وشاورهم في الأمر**) او د (**و أمرهم شورى بينهم**) عملي تطبیق و، همدا راز د راشدینو خلفاووټول تعامل د همدې شورا پر بنسټ ولاړ و او په ډېر دقت سره یې د (**وأمرهم شورى بينهم**) او (**وشاورهم في الأمر**) حکمونه په عملي ژوند کې پلي کړي دي، دې ټولو روایتونو ته هر څوک په ډېره اسانۍ لاسرسی درلودلی شي، له دې امله مو د دې نصوصو په رڼا کې د شورائیت د اهمیت د بیانولو څخه ډډه کړې ده.

دا نصوص او د پیغمبر علیه السلام او د راشدینو خلفاوو دا تعامل شورا ته د یو داسې ارزښت حیثیت ورکوي چې هر څوک چې په هر موقعیت کې قرار لري باید التزام پرې وکړي، دا خبره ابوبکر بن العربي په ډېر قوت سره کوي، وایي: «**والمُشَاوَرَةُ أَصْلُ الدين، وسُنَّة الله في العالمين، ومُحَمَّدٌ أَوَّلُ مستشير، وجبريل أَوَّل ناصح، صلَّى الله عليهما**»[2]. مشوره د دین بنسټ دی او په مخلوقاتو کې د الله تعالی یو ټولنیز قانون دی، په دې امت کې لومړنی مشوره اخیستونکی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وه او لومړنی مشوره ورکوونکی او نصیحت کوونکی حضرت جبریل علیه السلام و.

خو د هغه چا لپاره چې په سیاسي او ټولنیز موقعیت کې قرار ولري او په دغو برخو کې مسؤولیت ور ترغاړې وي، په دې ارزښت باندې التزام ورته نور هم لازمي ګرځي، همدا خبره مشهور شافعي المذهبه فقیه امام نووي رحمه الله داسې کوي، وایي: «**ويتأكَّدُ الأمرُ بالمشاورة في حقّ ولاة الأمور العامة، كالسلطان، والقاضي، ونحوهما**»[3]. د مشورې کولو حکم د هغه خلکو په حق کې چې ټولنیز مسؤولیتونه یې په غاړه دي نور هم لازمي ګرځي، لکه پادشاه، قاضي او داسې نور...

د افغانستان په اوسنیو شرایطو کې د دې ارزښت بیا را ژوندي کولو ته اړتیا ده او دا ځکه چې زموږ ډېر ټولنیز، سیاسي، اداري، حقوقي او ډېرې نورې چارې د شورائیت د همدې میکانیزم پورې تړلي دي، تر دې چې د هېواد استقرار، امنیت، د اسلامی امارت بقاء، یو موټی پاتې کېدل او د هېواد لپاره د سترو لاسته راوړنو چاره د واقعي شورائیت د ژوندي کولو سره تړاو لري.

سره له دې چې اوس هم شورائیت پلي کېږي، خو هغه یو داسې تطبیق دی چې د هغې په پایله کې د شورائیت شرعي مقاصد نه تر لاسه کېږي او نه هم هغه ټولنیز مصلحتونه ترلاسه کېږي چې د شورائیت پورې تړلي دي او کېدای شي دا له دې امله وي چې د شورا اړوند د ځینو مسئلو په اړه تصورات ډېر څرګند نه وي او یا د حنفي فقهې د مصادرو د یو لړ عبارتونو څخهپوهه سمه نه وي شوي او دا خبره ځکه کوم چې د هغه څه په پرېښودلو او سرغړونه کې قصد شامل نه وی چې هغه د اسلام حکم وبلل شي او نه قصداً د هغه څه مخالفت شته چې د معتبرو فقهاوو د فهم سره سم د قرآن کریم او پیغمبر علیه السلام د سنتو تشریح وګڼل شي او دا ځکه چې الحمدلله ټول مشران دې ته ژمن دي چې په اسلام به عمل کوي او تطبیقوي بهیباو دا خبره په ټولو ناستو کې په تکراري ډول سره ویل کېږي.

[2] - سراج المريدين في سبيل الدين، ابوبكر بن العربي ج ٣ ص ٣٥٦.

[3] - الأذكار، د امام نووي ليكنه ص ٣٢۴.

هغه مسئلې چې د شورا د تطبيق په اړه موږ ورسره په افغانستان کې مخ يو، له هغوی څخه دا يو څو مسئلې ډېرې مهمې او بنسټيزې دي، د بېلګې په توګه:

1. ايا په ټولنيزو مسئلو کې شورا يوازې يو مستحب کار دی؟ که د شخصي مسئلو د حکم سره توپير لري؟
2. که په انفرادي ډول د يو څو اشخاصو څخه د يوې مسئلې په اړه نظرونه واخيستل شي ايا دا په ټولنيزو مسئلو کې د شورائيت صحيح تطبيق ګڼل کېږي؟
3. ايا موږ د شورائيت يوازې په هغه ډول تطبيق باندې ملزم يو چې د پيغمبر عليه السلام او د خلفای راشدينو په وخت کې يې بېلګې وينو، که دا تطبيقات يوازې د هغه ډول تطبيقاتو په جواز باندې دلالت کوي او موږ د (لا عموم للفعل) پر بنسټ نور تطبيقات هم درلودلی شو؟
4. ايا موږ د شورائيت د څرنګوالي په اړه د پيغمبر عليه السلام او خلفای راشدينو د عملي تطبيقاتو او د فقهاوو د تصريحاتو څخه ځينې اصول استنباط کولی شو، که ځواب هو وي، نو دا اصول څه کېدلی شي؟
5. ايا د هېواد په کچه د سياستونو د تعيين، ټولنيزو، سياسي، حکومت دارۍ اړوند قضيو، قانون جوړونې او داسې نورو مسئلو په اړه د شورائيت د سم تطبيق لپاره د هېواد په کچه يو ځانګړی مجلس چې د ټولنې نماينده مجلس وي، درلودلی شو؟
6. که دا نماينده مجلس پرېکړې وکړي، ايا دا پرېکړې به د حاکم لپاره واجب التطبيق او لازمې وي که نه؟
7. ايا د شورائيت د پرېکړو د عدم الزاميت کومه تصريح چې د حنفي فقهې په کتابونو کې راغلې ده ايا هغه د مجتهد حاکم او قاضي لپاره نه ده؟
8. که د شورا د مجلس غړي د يوې قضيې په اړه سره اختلاف ولري او د ټولو هڅو سره هم د نظر يووالي ته نه رسېږي، په دې حالت کې د اکثريت پر بنسټ پرېکړه کېدلی شي؟

دا او داسې نور ډېر مسايل دي چې موږ يې په اړه څېړنې ته اړتيا لرو، له دې امله د دې اړتيا ليدل کېږي چې د شورا اړوند يو څه مفاهيم په ځانګړي ډول د حنفي مذهب د فقهاوو د عبارتونو او تصريحاتو په رڼا کې وڅېړو، همدا راز په دېاړه که په ځينو مسايلو کې اړتيا شي د نورو فقهي مذهبونونظريات به هم راوړو ترڅو د هېواد په کچه د مسؤولينو ترمنځ د دې مهم ميکانيزم په اړه د فهم نږدېوالی رامنځته شي، تر څو د شورا دا مهم اصل په صحيح ډول تطبيق شي او د دې د نا سم تطبيق په پايله کې چې کومې ستونزې راولاړېدلی شي له منځه يوړل شي.

**د شورا په اړه د څېړنو مخينه**

په دې کې شک نشته چې د شورا او شورائيت په اړه ډېرې زياتې ليکنې شوي دي او اوس هم خلک د دې اړتيا احساسوي چې په دې اړه نورې څېړنې هم وشي، ځکه د شورا او شورائيت قضيه ډېره مهمه او بنسټيز ده، دې ته پاملرنه نه کول ټولنه د استبداد، د سليقې د حاکميت په ګډون د ډېرو ستونزو سره مخ کوي، همدا راز په دې کې د شرعي پولو څخه وراخوا زياته مبالغه د تصميم نيولو اهليت له منځه وړي، نو دا قضيه ډېره مهمه ده، په دې اړه بايد نورې ليکنې هم وشي.

تر دې مخه ليکل شوو کتابونو او مقالو سره زما د دې څېړنې توپير شايد په محتوا کې ډېر نه وي، خو د څېړنې په مېتود کې دا څېړنه د پخوانيو څېړنو سره بنسټيز توپير لري، همدا راز په دې څېړنه کې ما هغه مشخصې پوښتنې ځواب کړي چې په اوسنيو شرايطو کې زموږ ملت ورسره مخ دی او د مطلق شورائيت، د هغې اهميت او د هغې د مجالسو لپاره د غړو د انتخاب او ډېر داسې نور موضوعات مې له پامه غورځولي دي، ځکه د دې څېړنې بنسټيز هدف د څه واقعي ستونزو معالجه ده چې زموږ ټولنه ورسره لاس او ګريوان ده.

### د څېړنې مېتود او تګلاره

د بحث او څېړنې مېتودونه او تګلارې د څېړنې د هدف پر بنسټ د یوې څېړنې څخه بلې څېړنې ته توپیر لري، د شریعت اړوند په ځینو څېړنو کې څېړونکي او لیکوالان د شریعت د مصادرو څخه خپل فهم لوستونکو ته وړاندې کوي چې دا د یو شمېر خلکو لپاره د منلو وړ وي، خو که یو شمېر خلک د نصوصو او د شریعت د مصادرو څخه د څېړونکي په فهم اعتماد نه کوي په دې صورت کې بیا لیکوال او څېړونکی مجبوربږي چې په دې اړه د شرعي نصوصو او د شریعت د مصادرو څخه د هغو فقهاوو او پخوانیو علماوو فهم په خپل بحث کې منعکس کړي، چې د لوستونکو لپاره د منلو وړ وي، په دې څېړنه کې له همدې دویمې تګلارې څخه کار اخیستل شوی دی، دا ډول څېړنې مخاطب سره یوې پایلې ته د رسېدلو لپاره سرته رسېږي او دا مېتود د دې هدف د لاسته راوړلو لپاره ګټور دی.

له همدې امله په دې څېړنه کې د حنفي فقهې د معتبرو کتابونو څخه په استفادې او د مذهب د معتبرو فقهاوو د څرګندونو او عبارتونو په رڼا کې د موضوع اړونده مسئلې څېړل شوي دي او په داسې عبارتونو بسنه شوې ده چې هغه په مسئله کې صریح دي. په څېړنه کې د انساني توان سره سم هڅه شوې ده چې د شورا په اړه د شریعت درست فهم وړاندې کړی شي، خو له دې امله چې انساني او بشري هڅې همېشه نیمګړتیاوې لري، نودا څېړنه هم د دې قاعدې څخه مستثنی نه ده، نو په دې څېړنه کې چې څه حق وي هغه د الله تعالی په توفیق ممکن شوي او څه چې په کې نا سم افکار وي د هغه څخه د الله تعالی شریعت پاک او مبرا دی او هغه به د انساني سهوې پایله وي او د درنو لوستونکو څخه مې هیله دا ده چې داسې سهوې را په ګوته کړي تر څو یې اصلاح وکړی شو.

### شورا څه ته وایي؟

شورا د عربي ژبې لفظ دی، او په عربي ژبه کې په څو معناګانو راغلې ده:

1. هغه اشاره چې له هغه څخه څه شی فهم کړی شي، لکه په عربي کې چې وایي «**أشار إلیه بیده**» په لاس یې ورته اشاره وکړه، په شورا کې هم مناقشه د دې لپاره سرته رسېږي چې د یوې مسئلې په اړه یو صحیح نظر ته ورسېږي.
2. د شودو د را پرېخودلو لپارهڅاروی مخکې وروسته کولو او وړلو او راوړلو ته په عربي ژبه کې شوری ویل کېږي، لکه عرب چې وایي: (**شرت الدابة**) څاروی مې مخکې وروسته کړ، په شورا کې هم خبرې سره د دې لپاره تبادله کېږي چې درسته نظر ترې را وویستل شي.
3. یو چا ته د مراجعې په معنی هم راځي، لکه په عربي ژبه کې چې ویل کېږي (**شاورته في کذا، واستشرته**) د دې معنی دا ده چې ما ورته مراجعه وکړه تر څو یې نظر معلوم کړم، او همدا د شورا حقیقت هم دی.
4. د شهدو را جمع کولو ته هم په عربي ژبه کې شورا ویل کېږي لکه وایي: (**شرت العسل**) عسل مې را ټول کړل، او په شورا کې هم د خلکو تر ټولو د ښو افکارو د را ټولولو کوښښ کېږي.

المشورة: اسم دی، دا په عربي ژبه کې په دوه تلفظونو ویل شوی دی (المَشْوَرة) د میم په فتحې، د شین په سکون او د واو په فتحې سره لکه موږ یې چې په پښتو کې تلفظ کوو او (المَشُورَة) د شین په ضمې او د واو په سکون سره د (معونة) په وزن باندې. او د «شوری» لفظ یا اسم دی او معنی یې ده هغه شی چې مشوره په کې کېږي او یا مصدر دی، چېد نظرونو تبادلې او د مسئلو په اړه د بحث پروسې ته ویل کېږي.[4]

[4] - المصباح المنیر في غریب الشرح الکبیر، تألیف: أحمد بن محمد بن علي الفیومي ثم الحموي، أبو العباس (ت نحو 770 هـ)، چاپوونکې اداره: المکتبة العلمیة – بیروت، بدون تاریخ.

### د شورا اصطلاحي تعريف

د شورا په اصطلاحي تعريف کې همدا لغوي معناګانې په نظر کې نيول شوي دي، له همدې امله يې امام ابوبکر بن العربي داسې تعريف کوي: «**أَنَّ الْمُشَاوَرَةَ هِيَ الِاجْتِمَاعُ عَلَى الْأَمْرِ لِيَسْتَشِيرَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ صَاحِبَهُ وَيَسْتَخْرِجَ مَا عِنْدَهُ، مِنْ قَوْلِهِمْ: شُرْت الدَّابَّةَ أَشُورهَا إذَا رُضْتهَا لِتَسْتَخْرِجَ أَخْلَاقَهَا**»[5]. مشوره د يوې مسئلې په اړه راټولېدل، چې هر يو د خپل ملګري سره تبادل نظر وکړي او هغه سره چې کوم افکار دي هغه ترې تر لاسه کړي او دا د (شرت الدابة) څخه اخيستل شوی، معنی يې دا ده چې ما څاروی مخکې او ورسته يوړ راوړ تر څو يې شيدې راشي. د ابوبکر بن العربي په دې عبارت کې د شورا په تعريف کې «**هي الاجتماع على الأمر**» باندې ټينګار شوی دی، معنی يې دا ده چې شورا به په ټوليز ډول سرته رسېږي.

په معاصرو خلکو کې د شورا پروسې ته په کتلو هر چا د شورا يو تعريف کړی دی، خو يو د هغه تعريفونو څخه چې عام تعريف دی او ټولو انواعو ته شامل دی د دکتور توفيق الشاوي دی، هغه وايي: "**استخراج الرأي بمراجعة البعض إلى البعض**"[6]. شورا يو بل سره د مناقشې په پايله کې نظر ته رسېدل دي. له دې امله چې موږ د شورا همدا عامه معنی په نظر کې لرو او دا څرګنده ده نو د بېلابېلو تعريفونو په راوړلو د لوستونکي په ذهن کې تشويش را پيدا کول نه غواړو.

سره له دې چې يو شمېر خلک د شورا، مشورې، استشارې او داسې نورو ترمنځ په تفاوت قايل دي، شورا هغې ته وايي چې پايلېې ملزمې وي او استشاره او مشوره هغې ته وايي چې پايلې يې ملزمې نه وي، ځينو بيا د دې سرچپه خبره کړې ده.

همدا راز څوک شورا هغه مناقشه او محاوره ګڼي چې د ملت او امت اړونده مسئلو په اړه تر سره شي او هغه څه چې د شخصي، فردي او وړو کورنيو مسئلو په اړه تر سره کېږي هغې ته مشوره او استشاره وايي، خو موږ په دې څېړنه کې دا توپيرونه په نظر کې نه دي نيولي، شورا، مشوره، شورائيت او استشاره مو ټول په يوه معنی باندې اخيستي دي.

### د شورا او مشورې کولو حکم

له دې امله چې شورا د اسلام يو عام ارزښت دی، اسلام د ژوند په ټولو اړخونو کې د شورا او مشورې په تطبيق تأکيد کوي، هغه که د ژوند سياسي اړخ دی او که د ژوند نور ټولنيزاو فردي اړخونه دي، خو د ژوند په ځيو اړخونو کې د مشورې پرېښودل عام فساد او زيانونه رامنځته کوي او فردي مسايلو او اړخونو کې بيا دا زيانونه کم وي، نو د مشورې له اړخه قضيې په دوه ډوله دي:

### لومړی: فردي قضيې

فردي او شخصي قضيې هغه دي چې پراخې ټولنيزې اغېزې پرې نه مرتبېږي، بلکې د ډېرو محدودو کسانو پورې تړاو ولري، لکه د يو ماشوم لپاره د مور د شيدو د ورکولو او د شېدو څخه د پرې کولو قضيه، يا د يو چا د شخصي تجارت او يا خپلوۍ قضيه، دا او دا ډول نورې قضيې شخصي او فردي قضيې شمېرل کېږي، د دې ډول قضيو په اړه په احاديثو او آثارو کې خلک د خپلو فردي او شخصي ګټو او مصلحتونو لپاره شورا او مشورې ته هڅول شوي دي، همدا راز په کورنۍ کې دننه د ځينو مسئلو د حل لپاره په قرآن کريم کې شورا يو ښه وسيله ګڼل شوې ده، خو دا يو مستحب کار دی او په فقهي مذهبونوکې چا ورته الزامي حيثيت نه دی ورکړی، په دې اړه امام نووي رحمه الله په صراحت سره دا توپير يادوي

---

[5] - أحكام القرآن، تأليف: القاضي محمد بن عبد الله أبو بكر بن العربي المعافري الاشبيلي المالكي (ت 543هـ)، تحقيق وتعليق: محمد عبد القادر عطا، چاپوونکې اداره: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان، دريم چاپ، کال: 1424 هـ - 2003 م. ج ١ ص 389.

[6] - فقه الشورى والاستشارة، دكتور توفيق الشاوي، دار الوفاء، المنصورة، مصر، الطبعة الثانية عام 1992م ـ 1413. ص ٥١.

وايي:"**واعلم أنه يُستحبّ لمن همّ بأمرٍ، أن يُشاورَ فيه مَن يثقُ بدينهِ وخبرتهِ وحذقهِ، ونصيحته وَوَرَعِه وشفقتيه. ويُستحبّ أن يُشاور جماعة بالصفةِ المذكورة، ويستكثر منهم، ويعرّفهم مقصودَه من ذلك الأمر، ويُبينّ لهم ما فيه من مصلحة ومفسدةٍ إن علم شَيْئاً مِنْ ذلك، ويتأكدُ الأمرُ بالمشاورة في حقّ ولاة الأمور العامة كالسلطان والقاضي ونحوهما**"[7].

پوهه شه چې هغه څوک چې د کوم کار کولو اراده وکړي هغه لپاره دا مستحب دي چې د هغه چا سره مشوره وکړي چې د هغه په دين، تجربې، عقل، خيرخواهۍ، تقوا او شفقت باندې اعتماد ولري، دا ورته مستحب دي چې د همدې ځانگړتياوو درلودونکي يو جماعت سره مشوره وکړي او د زيات شمېر خلکو سره دې مشوره وکړي، هغوی تهدې د دې مشورې څخه خپل هدف واضح کړي او په دې کې چې کوم گټه او زيان دی هغه دې ورته بيان کړي که دا شيان ورته معلوم وي. د مشورې دا حکم د عامو مسؤوليتونو درلودونکو خلکو لکه پادشاه، قاضي او دې ته ورته نور خلکو باندې نور هم اړين او لازمي دی.

په دې عبارت کې د فردي قضيو په اړه مشورې ته امام نووي رحمه الله مستحب وويله او د عامو مسؤوليتونو درلودونکو لپاره يې مشوره مؤکده او لازمي ښودلې ده.

**دويم: ټولنيزې قضيې**

دلته يوې مهمې قضيې ته اشاره کول غواړم او هغه دا چې زموږ په فقهي تراث کې د شورا او شورائيت بحث د قضا په باب کې د قاضي د مسؤوليتونو په ضمن کې شوی دی، سره له دې چې يو شمېر فقهاء لکه امام سرخسي او نور بيا په دې ضمن کې اشاره کوي چې دا حکم هغه ټولو خلکو ته شامل دی چې «الولاية العامة» يعنې ټولنيز مسؤوليتونه يې تر غاړې وي او دا له دې امله چې قضا همعام ولايت (ټولنيز مسؤوليت) دی او د حاکم منصب هم همداسې عام ولايت او مسؤوليت دی او د ټولو عامه ولايتونو(ټولنيزو مسؤوليتونو) حکم يو شان دی، له همدې امله کله چې د فقهاوو عبارتونه او نصوص نقل کېږي هغه به هماغه وي چې د قضا په ضمن کې يې د ولايت عامه حکم بيان کړی دی.

د ولايت عام او ټولنيزو قضيو کې په مسؤولينو باندې شورا کول لازم دي او دا د الله تعالی حکم دی، په دې باندې فقهي مذاهب متفق دي، سره له دې چې يو شمېر ليکوالان يې د استحباب قول قتادة بن دعامة الدوسي، محمد بن اسحاق بن يسار، امام محمد بن ادريس الشافعي[8] او د بصرې مشهور زاهد او عالم ربيع بن صبيح البصري ته منسوبوي، خو دا له دې امله درست نه دی، چې د دوی وينا د رسول الله صلى الله عليه وسلم په اړه ده، چې د (وشاورهم) امر د رسول الله صلى الله عليه وسلم په حق کې په استحباب باندې حمل دی نه په وجوب باندې[9]، ځکه خو د امام شافعي رحمه الله

---

[7] - حلية الأبرار وشعار الأخيار في تلخيص الدعوات والأذكار المستحبة في الليل والنهار، چې په (الأذكار النواوية) مشهور دی، تأليف: أبو زكريا، يحيى بن شرف النواوي (631 - 676 هـ) تحقيق او اهتمام: بَسّام عبد الوهّاب الجابي [ت 1438 هـ]، نشرونکې اداره: الجفان والجابي للطباعة والنشر - دار ابن حزم للطباعة والنشر، لومړی چاپ، د چاپ کال: 1425 هـ- 2004 م. ص ۵۱۸.

[8] - له همدې امله کله چې امام شافعي رحمه الله د پيغمبر عليه السلام څخه وروسته د حکامو په اړه د شورا حکم بيانوي په هغه کې وايي: «باب المشاورة (قال الشافعي): قال الله تبارك وتعالى {وشاورهم في الأمر} (أخبرنا الربيع) قال (أخبرنا الشافعي) قال أخبرنا ابن عيينة عن الزهري قال: قال أبو هريرة «ما رأيت أحدا أكثر مشاورة لأصحابه من رسول الله صلى الله عليه وسلم» وقال الله عز وجل {وأمرهم شورى بينهم} (قال الشافعي): قال الحسن إن كان النبي صلى الله عليه وسلم لغنيا عن مشاورتهم ولكنه أراد أن يستن بذلك الحكام بعده إذا نزل بالحاكم الأمر يحتمل وجوها، أو مشكل انبغى له أن يشاور ولا ينبغي له أن يشاور جاهلا لأنه لا معنى لمشاورته ولا عالما غير أمين فإنه ربما أضل من يشاوره ولكنه يشاور من جمع العلم، والأمانة وفي المشاورة رضا الخصم، والحجة عليه». وگورئ: الأم، تأليف: الشافعي أبو عبد الله محمد بن إدريس بن العباس بن عثمان بن شافع بن عبد المطلب بن عبد مناف المطلبي القرشي المكي (المتوفى: 204هـ)، نشرونکې اداره: دار المعرفة، بيروت، د چاپ کال: ۱۹۹۰م ۱۴۱۰هـ ق.

[9] - په دې اړه د امام قرطبي عبارت واضح دی، چې دا اختلاف يوازې د پيغمبر عليه السلام په اړه وه، هغه وايي: «واختلف أهل التأويل في المعنى الذي أمر الله نبيه عليه السلام أن يشاور فيه أصحابه ؛ فقالت طائفة : ذلك في مكائد الحروب ، وعند لقاء العدو ، وتطييبا لنفوسهم ، ورفعا لأقدارهم ، وتألفا على دينهم ، وإن كان الله تعالى قد أغناه عن رأيهم بوحيه. روي هذا عن قتادة والربيع وابن إسحاق والشافعي». د هغه علت په اړه چې له امله يې الله تعالی خپل پيغمر عليه السلام ته د خپلو صحابه کرامو سره د مشورې حکم کړی دی، د تفسير علماء په خپلو کې سره اختلاف لري، يوه ډله وايي: چې دا د جنگي ترتيباتو، او د دښمن سره د مخ کېدو په وخت کې ورته دا حکم ورکړ

خپل عبارتونه او د هغه مذهب د معتمدو علماوو لکه امام نووي او امام رازي عبارتونه چې لږ وروسته به يې ولولو په دې دلالت کوي چې د حاکمانو او د ټولنيزو چارو د مسؤولينو په اړه د (وشاورهم) امر په وجوب باندې دلالت کوي.

**د جمهورو علماوو نظر د شورا وجوب دی**

د حاکم او قاضي لپاره مشوره کول يو داسې حکم دی چې د مذهبونوپر بنسټ په دې کې اختلاف نه شي راتللی، ځکه د علماوو په اصطلاح مشوره کول د دين د بنسټيزو قضيو له جملې څخه ده او يو شمېر علماوو يې په وجوب باندې اجماع نقل کړې ده[10]. تر دې چې اکثره علماء په دې نظر دي چې، سره له دې چې حضرت رسول اکرم صلى الله عليه وسلم ته وحې راتله او الله تعالى ورته نيغ په نيغه لارښوونه کوله، خو بيا هم په مشوره کولو مکلف و، دا خبره حنفي علماء هم کوي او مالکي او شافعي المذهب علماء يې هم کوي، دلته يوازې د امام سرخسي دا عبارت لولو، هغه وايي: "**والدليل عليه أنه كان مأمورا بالمشاورة مع أصحابه، قال تعالى: (وشاورهم في الامر) وقد صح أنه كان يشاورهم في أمر الحرب وغير ذلك**"[11].

د دې خبرې دليل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپلو اصحابو سره په مشوره کولو مکلف و، د الله تعالى دا وينا ده چې فرمايي: (**وشاورهم في الأمر**) او په صحيح رواياتو کې ثابت دي رسول الله صلى الله عليه وسلم به د صحابه کرامو سره په جنګي قضيو کې او همدا راز په نورو قضيو کې مشورې کولې.

دا خبره ابو بکر بن العربي مالکي او امام نووي شافعي هم کوي. بلکې د مشهور مفسر ابن عطية الأندلسي د وينا سره سم خو دا يوه اجماعي مسأله ده، هغه وايي: «**والشورى من قواعد الشريعة وعزائم الأحكام ومن لا يستشير أهل العلم والدين فعزله واجب هذا ما لا خلاف فيه، وقد مدح الله المؤمنين بقوله " وأمرهم شورى بينهم " وقال النبي صلى الله عليه وسلم: ( ما خاب من استخار ولا ندم من استشار )**»[12]. شورا د شريعت د اصولو او د ثابتو او محکمو احکامو له جملې څخه ده او هغه حاکم او مسؤول چې د علماوو او ديندارانو سره مشوره نه کوي د هغه عزل واجب دی او دا يوه داسې قضيه ده چې په دې کې هيڅ اختلاف نشته، الله تعالى مؤمنان په همدې ستايلي دي چې فرمايي: (**وأمرهم شورى بينهم**) د هغوی معاملات ټول د شورا پر بنسټ روان وي او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: هغه څوک چې مشوره کوي هغه هيڅکله هم نه ناکامېږي. خو له دې سره بيا هم موږ د قضيې د اهميت له امله د مذهبونود فقهاوو نظرونه دلته وړاندې کوو.

**لومړی: د حنفي فقهاوو نظر**

حنفي فقهاء د هغه خلکو لپاره مشوره کول لازمه ګڼي چې ټولنيز مسؤوليتونه يې پر غاړه وي، په دې اړه الحاکم الشهيد په خپله هغه کتاب کې چې (الکافي نومېږي) او د امام محمد رحمه الله د ظاهر الرواية کتابونه يې په کې تلخيص کړي

شوی دی، او دا حکم يوازې د دې لپاره ورکړ شوی چې د هغوی زړونه خوشحاله کړي، د هغوی قدر او منزله لوړه کړي، او هغوی په خپل دين سره را ټول کړي، او دا له دې امله چې الله پاک خپل پيغمبر د وحي د نازلولو له لارې خپل پيغمبر د صحابه کرامو د نظرياتو او مشورې څخه مستغني کړی وه (يعني پيغمبر عليه السلام ته وحي راتلله، او د وحي د راتللو په صورت کې پيغمبر عليه السلام د صحابه کرامو مشورې او نظر ته هيڅ اړتيا نه درلوده، مګر سره له دې يې هم استحبابا خپل پيغمبر د دې تيرو اسبابو له امله د صحابه کرامو سره د مشورې کولو حکم ورکړی وه) د د قتادة، ربيع، ابن اسحاق او امام شافعي څخه نقل شوی نظر دی. وګورئ: الجامع لأحكام القرآن، تأليف: أبو عبد الله، محمد بن أحمد الأنصاري القرطبي، تحقيق: أحمد البردوني وإبراهيم أطفيش، چاپوونکې اداره: دار الكتب المصرية – القاهرة، دويم چاپ، کال، 1384 هـ - 1964 م. ج ۴ ص ۲۵۰.

[10] - موسوعة الإجماع في الفقه الإسلامي، تأليف: د دکتوراه د رسالو مجموعه چې په جامعة الملك سعود سعودي کې ليکل شوي دي، چاپوونکې اداره: الناشر: دار الفضيلة للنشر والتوزيع بالرياض، المملكة العربية السعودية، لومړی چاپ، کال (۲۰۱۲م څخه تر ۲۰۲۱م پورې). ج ۵ ص ۳۸۷. په دې کتاب کې وايي: «اتفقت الأمة على أن الشورى من قواعد الشريعة، وعزائم الأحكام». او بيا دا خبره د ټولو فقهي مذهبونو تر دې چې د ظاهريانو له کتابونو څخه هم نقل کوي.

[11] - تمهيد الفصول في الأصول، چې په أصول السرخسي مشهور دی، تأليف: الإمام أبو بكر محمد بن أحمد بن أبي سهل السرخسي (ت 483 هـ)، تحقيق: أبو الوفا الأفغاني، رئيس اللجنة العلمية لإحياء المعارف النعمانية [ت 1395 هـ]، چاپوونکې اداره: جنة إحياء المعارف النعمانية بحيدر آباد بالهند. ج ۲ ص ۲۵۰.

[12] - المحرر الوجيز في تفسير الكتاب العزيز چې په تفسير ابن عطية مشهور دی، تأليف: أبو محمد عبد الحق بن غالب بن عبد الرحمن بن تمام بن عطية الأندلسي المحاربي (ت 542هـ)، تحقيق: عبد السلام عبد الشافي محمد، چاپوونکې اداره: دار الكتب العلمية – بيروت، لومړی چاپ، کال 1422 هـ.ج ۱ ص ۵۳۴.

دي، وايي: "**فإن أشكل عليه شيء يشاور رهطا من أهل الفقه، فإن اختلفوا فيه نظر إلى أحسن أقاويلهم و اشبهها بالحق فأخذ به، فإن رأى خلاف رأيهم أحسن و أشبه بالحق قضى بذلك، و لا يعجل بالحكم إذا لم يتبين له الأمر حتى يفكر فيه ويشاور أهل الفقه**"[13].

که قاضي ته کوم شی په ښه ډول څرګند نه و، نو د اهل فقهې د يو ټولګي سره دې مشوره وکړي، که د هغوی (مشوره ورکوونکو) ترمنځ اختلاف و، نو د هغوی د اقوالو څخه چې کوم بهتر او د حق سره يې ورته والی درلوده، هغه دې انتخاب کړي، که د هغوی د نظر څخه پرته بل څه ورته بهتر او د حق سره مشابه ښکاره شول، نو په هغې دې پرېکړه وکړي، خو تر څو چې ورته قضيه بالکل څرګنده شوي نه وي د پرېکړې په صادرولو کې به تلوار نه کوي او تر هغې به پرېکړه نه صادروي چې ښه فکر يې نه وي کړی او د فقهاوو سره يې مشوره نه وي کړي. په دې عبارت کې د يو مجتهد قاضي لپاره هم د پرېکړې د صادرولو د مخه د مشورې حکم دی، دا خو لا پرېږده چې غير مجتهد قاضي او حاکم حکم به څه وي، هغوی خو بالطريق الأولی په دې کار مکلف دي.

د شورا د وجوب په اړه د مشهور حنفي عالم امام ابوبکر جصاص رازي عبارت ډېر صريح دی، هغه وايي: «**وأمرهم شورى بينهم يدل على جلالة موقع المشورة لذكره لها مع الإيمان وإقامة الصلاة ويدل على أنا مأمورون بها**»[14].

«**و أمرهم شورى بينهم**» د شورا په عظمت باندې دلالت کوي، ځکه الله تعالی د شورا يادونه د ايمان او د لمانځه د اقامې په سياق کې کړې ده او دا ايت په دې دلالت کوي چې موږ په مشوره کولو مکلف يو او په کوم شي چې انسان د الله له لورې مأمور شي هغه پرې په طبيعي توګه واجب وي.

امام طحاوي رحمه الله په خپل مختصر کې وايي: «**قال أبو جعفر: فإن أشكل عليه: شاور رهطًا من أهل الفقه... وذلك لقول الله تعالى: {وشاورهم في الأمر}. وقال: {وأمرهم شورى بينهم}. وقال: {فبشر عباد (17) الذين يستمعون القول فيتبعون أحسنه}**»[15]. ابو جعفر (طحاوي) وايي: که کومه قضيه ورته څرګنده نه وه، نو د فقهاوو د يوې ډلې سره دې مشوره وکړي او په دې دليل چې الله تعالی فرمايي «**وشاورهم في الأمر**» او په بل ځای کې فرمايي: «**وأمرهم شورى بينهم**» او په بل ځای کې فرمايي:{**فبشر عباد (17) الذين يستمعون القول فيتبعون أحسنه**}.

امام سرخسي رحمه الله وايي: «**قَالَ وَمُشَاوَرَةُ أُولِي الرَّأْيِ، وَفِيهِ دَلِيلٌ عَلَى أَنَّ الْقَاضِيَ، وَإِنْ كَانَ عَالِمًا فَيَنْبَغِي**[16] **لَهُ أَنْ لَا يَدَعَ مُشَاوَرَةَ الْعُلَمَاءِ، وَقَدْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَكْثَرَ النَّاسِ مُشَاوِرَةً لِأَصْحَابِهِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ - يَسْتَشِيرُهُمْ حَتَّى فِي قُوتِ أَهْلِهِ وَإِدَامِهِمْ «قَالَ الْمَشُورَةُ تُلَقِّحُ الْعُقُولَ». وَقَالَ «- صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَا هَلَكَ قَوْمٌ عَنْ مَشُورَةٍ قَطُّ» وَكَانَ عُمَرُ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - يَسْتَشِيرُ الصَّحَابَةَ - رِضْوَانُ اللَّهِ عَلَيْهِمْ - مَعَ فِقْهِهِ حَتَّى كَانَ إذَا رُفِعَتْ إلَيْهِ حَادِثَةٌ قَالَ أُدْعُوا إلَيَّ عَلِيًّا**

---

[13] - الکافي مخطوط ورقه ۲۸۲، خط يې واضح لوستل کېږي. د دې کتاب په مقدمه کې وايي: "قال أبول الفضل الحاكم رضي الله عنه: قد أودعت كتابي هذا معاني محمد بن الحسن رحمه الله في كتبه المبسوطة وما في الجوامع المؤلفة مع اختصار كلامه وحذف ما كرر من مسائله قاصدا تسهيل سبيل الراغبين في حفظه". هدف دا دی چې په دې کتاب کې راغلي عبارتونه غالبا د امام محمد بن حسن شيباني عبارتونه دي. د دې مخطوط تصوير په انترنت باندې نشر شوی دی، او ما سره يې په کمپيوټر کې يوه نسخه شته دی.

[14] - أحكام القرآن، تأليف: أحمد بن علي أبو بكر الرازي الجصاص الحنفي (ت 370هـ)، تحقيق: عبد السلام محمد علي شاهين، چاپوونکې اداره: دار الكتب العلمية بيروت – لبنان، لومړی چاپ، کال: 1415هـ/1994م. ج ۳ ص ۵۱۰.

[15] - شرح مختصر الطحاوي، تأليف: أبو بكر الرازي الجصاص (305 - 370 هـ)، تحقيق: په ام القرى پوهنتون کې د دکتوراه د محصلينو يوه مجموعه، چاپوونکې اداره: دار البشائر الإسلامية - ودار السراج، لومړی چاپ، کال 1431 هـ - 2010 م. ج ۸ ص ۲۴.

[16] - د ينبغي کلمة په ډېرو ځايونو کې د وجوب لپاره استعمالېږي، په دې اړه د رد المحتار دا څو عبارتونه لولو: رد المحتار(2/ 77): "وَالظَّاهِرُ أَنْ يَنْبَغِيَ هُنَا لِلْوُجُوبِ" و (4/ 208): "وَالظَّاهِرُ أَنْ يَنْبَغِيَ هُنَا بِمَعْنَى يَجِبُ" و (6/ 369): "وَأَفَادَ الْعَلَّامَةُ الْبِيرِيُّ أَنْ يَنْبَغِي مَعْنَاهُ الْوُجُوبُ هُنَا" و (6/ 371): "وَالظَّاهِرُ أَنَّ " يَنْبَغِيَ " هُنَا لِلْوُجُوب". حاشية رد المحتار، على الدر المختار: شرح تنوير الأبصار، تأليف: محمد أمين، الشهير بابن عابدين [ت 1252 هـ] چاپوونکې اداره: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي وأولاده بمصر، دويم چاپ، کال: 1386 هـ = 1966 م.

**وَادْعُوا إِلَيَّ زَيْدِ بْنِ أَبِي كَعْبٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ - فَكَانَ يَسْتَشِيرُهُمْ، ثُمَّ يَفْصِلُ بِمَا اتَّفَقُوا عَلَيْهِ فَعَرَفْنَا أَنَّهُ لَا يَنْبَغِي لِلْقَاضِي أَنْ لَا يَدَعَ الْمُشَاوَرَةَ، وَإِنْ كَانَ فَقِيهًا**»[17].

د الكافي د عبارت «**ومشاورة أولي الرأي**» په اړه وايي: په دې کې دليل دی چې که قاضي عالم هم وي، نو ورته په کار نه ده چې د علماوو سره مشوره ترک کړي (يعنی مشاورت بايد وکړي) او پيغمبر عليه السلام د خپلو اصحابو (رضي الله عنهم) سره له هر چا زيات مشوره کوونکی و، تر دې چې د خپلې کورنۍ د خوراک او کتغ په اړه به يې هم د هغوی سره مشوره کوله او وايي چې مشوره (په نويو افکارو) عقلونه تغذيه کوي او پيغمبر عليه السلام فرمايلي دي: هغه قوم چې مشوره کوي هغه هيڅکله هم نه هلاکېږي. حضرت عمر رضي الله عنه به د صحابه کرامو رضوان الله عليهم اجمعين سره مشوره کوله سره له دې چې هغه يو فقيه انسان و، کله به چې ورته کومه قضيه يا حادثه وړاندې شوه، نو وه به يې ويل: ما ته علي کرم الله وجهه او زيد بن أبي کعب را وغواړئ، نو د دوی سره به يې مشوره کوله او بيا به يې د هغه قضيې په اړه هغه پرېکړه کوله چې دوی به پرې متفق شول، نو له دې څخه موږ ته جوته شوه چې که قاضي فقيه (مجتهد) هم وي د مشورې پرېښودل ورته درست نه دي.

امام سرخسي مخکې عبارت کې د مجتهد حکم ياد کړ، خو د غير مجتهد حاکم او قاضي په حق کې د مشورې کولو حکم نور هم مؤکد او لازمي ګرځي، ځکه په دې حالت کې ورته همدا يوه لار پاتې کېږي، او دا له دې امله چې هغه مجتهد نه دی چې پخپله حکم استنباط کړي او حکم ته رسېدل اړين دي، نو بايد چې د علماوو نظر ته مراجعه وکړي او يوې پايلې ته ورسېږي.

امام سرخسي وايي: «**فَإِنْ أَشْكَلَ عَلَيْهِ شَاوَرَ رَهْطًا مِنْ أَهْلِ الْفِقْهِ فِيهِ، وَكَذَلِكَ إِنْ لَمْ يَكُنْ مِنْ أَهْلِ الِاجْتِهَادِ فَعَلَيْهِ أَنْ يُشَاوِرَ الْفُقَهَاءَ، لِأَنَّهُ يَحْتَاجُ إِلَى مَعْرِفَةِ الْحُكْمِ لِيَقْضِيَ بِهِ، وَقَدْ عَجَزَ عَنْ إِدْرَاكِهِ بِنَفْسِهِ فَلْيَرْجِعْ إِلَى مَنْ يَعْرِفُ ذَلِكَ كَمَا إِذَا احْتَاجَ مَعْرِفَةَ قِيمَةِ شَيْءٍ**»[18].

که د کومې قضيې حکم ورته ښکاره نه وي، نو بايد په اړه يې د فقهاوو د يوې ډلې سره مشوره وکړي، همدا راز که حاکم او قاضي مجتهد نه و، نو پرې لازم دي چې د فقهاوو سره مشوره وکړي، ځکه هغه د حکم پېژندلو ته اړتيا لري تر څو د هغه سره سمه پرېکړه وکړي او پخپله په ځانته ځان د حکم د معلومولو او پېژندلو څخه عاجز دی، نو بايد چې هغه چا ته مراجعه وکړي چې دا حکم ورته معلوم دی، لکه څوک چې د يو شي قيمت معلومولو ته اړ وي.

په دې عبارت کې په ښکاره ډول د دې يادونه کوي چې کوم والي، حاکم او قاضي چې مجتهد نه وي، نو هغه په دې ملزم دی چې مشوره وکړي، ځکه هغه لپاره همدا يوه لاره پاتې ده چې د قضيو حکم پرې معلوم کړي.

امام سرخسي په يو بل ځای کې هم په دې اړه جدي تأکيد کوي او وايي: «**وَذَكَرَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ «مِنْ الْحَزْمِ أَنْ يَسْتَشِيرَ أُولَى الرَّأْيِ، ثُمَّ يُطِيعُهُمْ»، وَفِيهِ دَلِيلٌ أَنَّهُ لَا يَنْبَغِي**[19] **لِلْقَاضِي أَنْ يَتْرُكَ الِاسْتِشَارَةَ، وَكَذَلِكَ غَيْرُ**

---

[17] - المبسوط، تأليف: محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي (ت 483 هـ) تحقيق: ابو الوفاء الأفغاني، چاپوونکې اداره: مطبعة السعادة – مصر، بيا ترې دار المعرفة - بيروت، لبنان کاپي کړی، ج ١٦ ص ٧١.

[18] - المبسوط مخکينی مصدر ج ١٦ ص ٨۴.

[19] - د لا ينبغي معنى په داسې مسايلو کې د لا يجوز په معنى وي، ځکه د امام سرخسي نور عبارتونه د مشورې په وجوب دلالت کوي. د لاينبغي لفظ امام سرخسي د لايجوز په معنى استعمالوي لکه په دې عبارت کې چې وايي: «وَالصَّلَاةُ مَعَ الْجَنَابَةِ أَمْرٌ عَظِيمٌ فَلَا يَنْبَغِي أَنْ يَتَعَرَّضَ لِذَلِكَ مِنْ غَيْرِ ضَرُورَةٍ». المبسوط للسرخسي مخکينی مصدر (1/ 117).

**الْقَاضِي إِذَا حَزَبَهُ أَمْرٌ فَالْمَشُورَةُ تَلْقِيحٌ لِلْعُقُولِ، وَقَدْ قَالَ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «مَا هَلَكَ امْرُؤٌ عَنْ مَشُورَةٍ» «وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَسْتَشِيرُ أَصْحَابَهُ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ - فِي كُلِّ شَيْءٍ حَتَّى فِي قُوتِ أَهْلِهِ وَإِدَامِهِمْ»**[20].

امام سرخسي وايي چې امام محمد بن حسن شيباني د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا حديث نقل کړی چې په کې فرمايي: د عقل خبره دا ده چې انسان د اهل نظر خلکو سره مشوره وکړي او بيا د هغوی مشوره ومني. امام سرخسي وايي: په دې کې پر دې دليل دی چې قاضي بايد مشوره پرې نه ږدي او همدا راز د قاضي څخه پرته نور مسؤولين هم، کله چې مسأله ورته را پېښه شي بايد مشوره وکړي، ځکه مشوره په عقلونو کې افکار توليدوي، او پيغمبر عليه السلام فرمايي: څوک چې مشوره کوي هغه نه هلاکېږي، او رسول الله صلى الله عليه وسلم به د خپلو اصحابو سره په هر څه کې مشوره کوله، تر دې چې د خپلې کورنۍ په خوراک او کتغ کې به يې هم ورسره مشوره کوله.

په دې عبارت کې د امام سرخسي رحمه الله درې خبرې ډېرې مهمې دي، لومړی دا چې کومو حديث ته امام سرخسي اشاره کړې چې امام محمد بن حسن شيباني روايت کړی دی هغه دا لاندې احاديث دی، چې دا احاديث امام سرخسي د مشورې په لزوم باندې دليل ګڼي، د دې احاديثو عبارتونه په لاندې ډول دي: (**محمد عن أبي يوسف عن أبي بكر ابن عبد الله بن أبي مليكة عن عبد الله بن عبد الرحمن رفع حديثه إلى النبي - صلى الله عليه وسلم - قال: "من الحزم أن تستشير أولي الرأي ثم تطيعهم". محمد عن أبي يوسف عن علي بن أبي محمد عن عبد الرحمن بن يزيد رفعه إلى النبي - صلى الله عليه وسلم - قال: سأل النبي - صلى الله عليه وسلم - رجل: ما الحزم يا رسول الله؟ قال له: "أن ينظر الرجل إلى ذي رأي يستشيره ثم يطيعه**)[21].

امام محمد په خپل سند سره مرفوع حديث نقل کړی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: د عاقلانه د کارونو څخه يو کار دا دی چې د اهل نظر خلکو سره مشوره وکړې او بيا د هغوی خبره ومنې (يعنې د مشورې پايلې ومنې). او په بل روايت کې وايي: چې يو سړي د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې ای د الله پيغمبره! عقلمندي څه ته وايي؟ نو پيغمبر عليه السلام ورته وويل: چې انسان يو عقلمند او صاحب نظر سړی ولټوي، د هغه سره مشوره وکړي او بيا د هغه مشوره ومني.

دويمه دا چې د مشورې په اړه د عامو منصبونو او ټولنيزو مسؤوليتونو درلودونکي ټول يو حکم لري، هغه که قاضي وي او که حاکم، پادشاه وي او که والي، له همدې امله وايي: "**وكذلك غير القاضي إذا حزبه أمر**" همدا راز د قاضي څخه پرته د نورو مسؤولينو لپاره هم مشوره اړينه ده چې کله د کومې مسئلې سره مخ شي.

درېيمه مسأله په دې عبارت کې دا ده چې په دې عبارت کې د مجتهد قاضي لپاره د مشورې په لزوم باندې خبره کوي، ځکه د دې فقهاوو په عبارتونو کې چې کله قاضي يادېږي، نو مراد ترې مجتهد قاضي وي، نو کله چې د مجتهد قاضي او مجتهد حاکم حکم دا شو چې د شورا پايلې بايد په الزامي توګه ومني نو د غير مجتهد حاکم او قاضي بالأولی همدا حکم دی.

### دويم: د شافعي فقهاوو نظر

سره له دې چې د مشورې د وجوب په اړه په شافعي مذهب کې ډېر تصريحات شته دی، خو پخپله د امام شافعي رحمه الله عبارتونه په دې اړه ډېر مهم ځکه دي چې امام شافعي رحمه الله ته په نا سمه توګه د استحباب قول منسوبېږي، خو د

---

[20] - المبسوط د امام سرخسي، مخکينی مصدر، ج ١٦ ص ١٧۴.

[21] ـ الأصل، چې د امام محمد بن حسن په مبسوط باندې شهرت لري، تأليف: امام أبو عبد الله محمد بن الحسن بن فرقد الشيباني (ت 189 هـ)، تحقيق: دکتور محمد بوينوکالن، چاپوونکې اداره: دار ابن حزم، بيروت، او وزارت اوقاف قطر، لومړی چاپ، کال: 1433 هـ - 2012 م. ج ١١ ص ۵۵١.

امام شافعي رحمه الله عبارتونه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پرته د نورو حاکمانو او ولایت عامه (ټولنیزو مسؤولیتونو) درلودونکوافرادو لپاره د شورائیت په لزوم دلالت کوي، امام شافعي رحمه الله وایي: « **باب المشاورة: (قال الشافعي): قال الله تبارك وتعالى {وشاورهم في الأمر} (أخبرنا الربيع) قال (أخبرنا الشافعي) قال أخبرنا ابن عيينة عن الزهري قال: قال أبو هريرة: «ما رأيت أحدا أكثر مشاورة لأصحابه من رسول الله صلى الله عليه وسلم» وقال الله عز وجل: {وأمرهم شورى بينهم} (قال الشافعي): قال الحسن إن كان النبي صلى الله عليه وسلم لغنيا عن مشاورتهم، ولكنه أراد أن يستن بذلك الحكام بعده إذا نزل بالحاكم الأمر يحتمل وجوها، أو مشكل، انبغى له أن يشاور، ولا ينبغي له أن يشاور جاهلا؛ لأنه لا معنى لمشاورته ولا عالما غير أمين؛ فإنه ربما أضل من يشاوره، ولكنه يشاور من جمع العلم والأمانة، وفي المشاورة رضا الخصم، والحجة عليه**»[22].

د مشورې په اړه باب دی، (امام) شافعي وایي: الله تعالی فرمايي: (**وشاورهم في الأمر**) بيا د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت کوي چې هغه وايي: ما هيڅوک داسې نه دی ليدلی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دې د خپلو صحابه کرامو سره زيات مشوره کونکی وي. (يعنې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو اصحاب کرامو سره تر هر چا څخه زيات مشوره کوونکی و) او الله تعالی فرمايي: (وأمرهم شورى بينهم) د دوی معاملات په خپل منځ کې د شورا پر بنسټ مخ ته ځي. امام شافعي رحمه الله وايي: حسن بصري وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو سره له مشورې کولو مستغني و (ځکه الله تعالی د وحې په ذريعه مستغني کړی و) خو د دومره ډېرو مشورو کولو هدف يې دا و چې د راتلونکو حاکمانو لپاره يو سنت او څرګنده لاره پرېږدي، کله چې دوی ته داسې کومه قضيه پيښه شي چې ډېر احتمالات په کې وي او يا د يو نا څرګند حال سره مخامخ شي، نو دوی ته په کار دي چې مشوره وکړي، خو مشوره به له جاهل (د جاهل څخه مراد هغه څوک دي چې د شورا اړوند مسئلې په اړه علم او تجربه نه لري) سره نه کوي، ځکه د جاهل سره د مشورې کولو کوم هدف نشته (کومه ګټه پرې نه مرتبېږي)، همدا راز د داسې عالم سره به هم مشوره نه کوي چې هغه امانتدار نه وي، ځکه کېدلی شي چې مشوره کوونکی دوکه او ګمراه کړي، بلکې د هغه چا سره به مشوره کوي چې علم او امانت دواړه په کې وي او د مشورې ګټه دا هم ده چې ستا مقابل لوری هم پرې قناعت کوي او پر هغه دليل هم قايمېږي.

په دې عبارت کې امام شافعي رحمه الله په لنډه توګه دا وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په مشوره مأمور و او په هر کار کې مشوره هم کوله او دا يې يوازې د دې لپاره کوله چې وروسته راتلونکي حاکمان او مسؤولين ور پسې په دې اړه اقتداء وکړي او د دوی لپاره يوه څرګنده تګلاره پرېږدي.

د امام شافعي رحمه الله نظر د عامو خلکو په اړه د مشاورت د وجوب دی، همدا د شافعي مذهب د علماوو او محققينو له څرګندونو ثابتېږي، په دې اړه د شافعي مذهب د محقق عالم امام نووي رحمه الله دا عبارت لولو چې په دې کې هغه د شورا او مشورې کولو په اړه د شافعي مذهب نظر په ډېرو لنډو ټکو کې بيانوي، هغه وايي: «**(بابُ الحَثِّ على المُشَاورة) قال الله تعالى: (وَشَاوِرْهُمْ فِي الأمْرِ) [آل عمران: 159] والأحاديثُ الصحيحةُ في ذلك كثيرةٌ مشهورة، وتُغني هذه الآية الكريمة عن كلّ شيء، فإنه إذا أمرَ الله سبحانه وتعالى في كتابه نصّاً جليا نبيّه صلى الله عليه وسلم بالمشاورة مع أنه أكمل الخلق، فما الظن بغيره؟**»[23].

مشورې ته د خلکو د هڅولو په اړه الله تعالی فرمايي: (وشاورهم في الأمر) او په دې اړه احاديث ډېر زيات او مشهور دي، خو دا ايت کريمه (وشاورهم في الأمر) په دې اړه د هر څه نه انسان غني کوي، ځکه کله چې الله تعالی په خپل کتاب کې

---

[22] - الأم، تأليف: امام محمد بن إدريس الشافعي أبو عبد الله (ت ۲۰۴هـ ق) چاپوونکې اداره، دار المعرفة، بيروت، لبنان، کال ۱۳۹۳هـ ق. ج ۷ ص ۹۷.

[23] - الأذكار للنواوي، مخکينی مصدر. ص ۵۱۸.

د یو څرګند او صریح نص له لارې خپل پیغمبر ته د مشورې کولو حکم ورکړ سره له دې چې هغه د ټولو مخلوقاتو په نسبت یو کامل مخلوق دی، نو د نورو خلکو په اړه به دې څه ګومانوې؟ یعنې هغوی به مشورې کولو ته اړ نه وي او هغوی به د الله تعالی له لورې په مشوره کولو مامور نه وي؟.

په خپل یو بل کتاب کې امام نووي رحمه الله د مشورې د حکم په اړه د شافعي مذهب راجح نظر دا بیانوي چې مشوره کول په رسول الله صلی الله علیه وسلم هم واجب و او په امت کې په حاکمانو او مسؤولینو هم واجب دي، هغه وايي: « **وَاخْتَلَفَ أَصْحَابُنَا هَلْ كَانَتِ الْمُشَاوَرَةُ وَاجِبَةً عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْ كَانَتْ سُنَّةً فِي حَقِّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا فِي حَقِّنَا وَالصَّحِيحُ عِنْدَهُمْ وُجُوبُهَا وَهُوَ الْمُخْتَارُ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى وَشَاوِرْهُمْ في الامر وَالْمُخْتَارُ الَّذِي عَلَيْهِ جُمْهُورُ الْفُقَهَاءِ وَمُحَقِّقُو أَهْلِ الْأُصُولِ أَنَّ الْأَمْرَ لِلْوُجُوبِ»**[24].

زموږ علماء (د شافعي مذهب علماء) په دې کې اختلاف لري چې ایا مشوره کول په رسول الله صلی الله علیه وسلم واجب و او که په پیغمبر علیه السلام او همدا راز په موږ هم مشوره کول سنت دي؟ په شافعي مذهب کې صحیح قول دا دی چې مشوره کول واجب دي او همدا قول راجح هم دی، الله تعالی فرمايي: (**وشاروهم في الأمر**) او په دې ایت کې د امر د صیغې په اړه راجح او غوره قول چې جمهور فقهاء او د اصول فقهې محققین علماء یې راجح ګڼي دا دی چې د امر دا صیغه (**وشاورهم**) د وجوب لپاره ده.

همدا خبره امام رازي رحمه الله هم په خپل تفسیر کې راجح ګڼلې ده، هغه وايي: «**ظَاهِرُ الْأَمْرِ لِلْوُجُوبِ فَقَوْلُهُ: وَشاوِرْهُمْ يَقْتَضِي الْوُجُوبَ**»[25]. د (وشاورهم) کې د امر صیغه په راجحه توګه په وجوب دلالت کوي، نو د وشاورهم لفظ د وجوب غوښتنه کوي. یعنی مشوره کول واجب دي.

نو د دې تصریحاتو څخه ثابتېږي چې شورائیت د ولایت عامه (د ټولنیزو مسؤولیتونو) درلودونکو لپاره د امام شافعي رحمه الله په مذهب کې واجب دي او له دې پرته کارونه پرمخ وړل نا روا او نا درست دي.

**درېیم: د مالکي علماوو مذهب**

مشهور مالکي عالم ابو عمر بن عبد البر المالکي وايي: «**ولزم الإمام في ما ينزل بالناس مما لا نص فيه ولا توقيف [إلا]**[26] **الاجتهاد في الحكم ومشاورة العلماء فإن أجمعوا على شيء أنفذه وقضى به وإن اختلفوا نظر واجتهد وهذا هو الحق عند أولي العلم والفهم»**[27]. په امام او حاکم لازم دي چې کله خلکو ته داسې نوې قضیه را پېښه شي چې نه په کې نص وي او نه په کې د شریعت مشخص حکم وي، په داسې قضیو کې دې اجتهاد وکړي او د علماوو سره دې په کې مشوره وکړي او کله چې هغوی (مشوره ورکوونکي) په یوه خبره متفق شي، نو هغه تنفیذ کړي او د هغه سره سمه پرېکړه وکړي، همدا د علم او د فهم د خاوندانو له نظره حق دریځ دی.

امام ابوبکر بن العربي المالکي وايي: «**وعلى العامة من الخليقة حَقُّ المشاورة؛ من الرسول إلى أقل خَلْقٍ بعده في درجاتهم، والمُشَاوَرَةُ أَصْلُ الدين، وسُنَّة الله في العالمين، ومُحَمَّدٌ أَوَّلُ مستشير، وجبريل أَوَّل ناصح، صلَّى الله عليهما. نزل**

---

[24] - المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج، چې په (شرح الامام النووي على صحيح مسلم) شهرت لري، تأليف: أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (ت 676هـ)، چاپوونکې اداره: دار إحياء التراث العربي – بيروت، دويم چاپ، کال: ۱۳۹۲هـ ق. ج ۴ ص ۷۶.

[25] - مفاتيح الغيب، المعروف ب (التفسير الكبير)، تأليف: أبو عبد الله محمد بن عمر بن الحسن بن الحسين التيمي الرازي الملقب بفخر الدين الرازي خطيب الري (ت 606هـ)، چاپوونکې اداره: دار إحياء التراث العربي – بيروت، درېم چاپ، کال: 1420 هـ. ج ۹ ص ۴۱۰.

[26] - دا کلمه په عبارت کې بې مورده ښکاري، شاید د نص تصحیح کوونکی ورته نه وي متوجه شوی.

[27] - الاستذكار، تأليف: أبو عمر يوسف بن عبد الله بن محمد بن عبد البر بن عاصم النمري القرطبي (المتوفى: 463هـ)، تحقيق: سالم محمد عطا، محمد علي معوض، چاپوونکې اداره: دار الكتب العلمية – بيروت، لومړی چاپ، کال: 1421 – 2000م. ج ۸ ص ۹۹.

**جبريل على النبي فقال له: "إنَّ الله خيَّرك بين أن تكون نَبيًّا مَلِكًا، أو نبيًّا عبدًا، فنظر النبي إلى جبريل كالمستشير، فأشار إليه جبريل أن تواضع، فقال النبي: أختار أن أكون عبدًا نبيًّا".»....حتى غالى في ذلك بعضهم فقال: "إنَّ قولَه تعالى للملائكة: {إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً} سُنَّةٌ في المشاورة، ولولا ذلك ما استجرأ أحدٌ منهم على المجاوبة بما قالوه، ولكنهم فهموا أن الجواب منهم مطلوب فقالوا ما قالوه"**»[28].

په ټولو مخلوقاتو د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه نيولې تر ټولو لاندې انسانانو باندې مشوره لازم ده، مشوره د دين بنياد او په مخلوقاتو کې د الله تعالى له لوې وضع کړى شوې تګلاره او سنت دي، په دې امت کې رسول الله صلى الله عليه وسلم لومړى مشوره غوښتونکى او حضرت جبريل لومړى مشوره ورکوونکى دى، حضرت جبريل عليه السلام رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغى ورته يې وويل: الله تعالى تاته اختيار درکړى، که غواړې چې پادشاه او نبي شي او که غواړې چې بنده او نبي واوسېږې، نو پيغمبر عليه السلام حضرت جبريل عليه السلام ته د مشوره اخيستونکي په توګه وکتل، نو جبريل عليه السلام ورته اشاره وکړه چې تواضع غوره کړه، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: غواړم د الله تعالى بنده او پيغمبر وه اوسيږم.

د صحابه کرامو سره د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مشورو يو څه بېلګې يادې کړي بيا وايي: تر دې چې ځينو خلکو د مبالغې څخه کار اخيستى او د الله تعالى دا قول چې پرېښتو ته يې وويل: {**إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً**} د الله تعالى له لورې د شورائيت د طريقې بنسټ ايښودل دي او وايي چې که دا مشوره نه وى، نو هغه پريښتو چې کوم ځوابونه ورکړي دي د هغو ځوابونو جرأت به يې هيڅکله هم نه وى کړى، خو هغوى په دې پوهېدل چې دا ځوابونه له هغوى مطلوب دي له دې امله يې هغه څه وويل چې نقل شوي دي.

په دې اړه د مالکي فقهې ډېر کتابونه تصريحات لري، خو له دې امله چې دا يوه اجماعي قضيه ده د علماو نورو عبارتونو د راوړلو څخه ډډه کوو، همدا عبارتونه کفايت کوي چې دا ثابته کړي چې د شورائيت وجوب د مالکيانو مذهب دى.

**څلورم: د حنبلي مذهب نظر**

هماغه خبره چې د نورو مذهبونوعلماء يې کوي د حنبلي مذهب علماء هم ورته خبره کوي، د دوى له جملې څخه د حنبلي مذهب مشهور عالم امام ابن تيمية دا يو عبارت لولو او په همدې بسنه کوو، هغه وايي: "**لا غنى لولي الأمر عن المشاورة فإن الله تعالى أمر بها نبيه صلى الله عليه و سلم فقال تعالى : {فاعف عنهم واستغفر لهم وشاورهم في الأمر فإذا عزمت فتوكل على الله إن الله يحب المتوكلين} وقد روى عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : لم يكن أحد أكثر مشورة لأصحابه من رسول الله صلى الله عليه وسلم**"[29].

حاکم بايد حتماً مشوره وکړي، ځکه الله تعالى خپل پيغمبر ته د مشورې کولو حکم کړى دى، الله تعالى فرمايي: دوى معاف کړه او ورته بخښنه وغواړه او په هر ډول قضيو کې ورسره مشوره کوه او کله چې د يو کار په اړه نهايي تصميم ونيسې، نو بيا پر الله تعالى توکل وکړه، ځکه الله تعالى توکل کوونکي خوښوي. د ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چې وايي: ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د خپلو اصحابو سره زيات مشوره کوونکى نه دى ليدلى.

---

[28] - سراج المريدين فى سبيل الدين چې پوره نوم يې (سراج المريدين في سبيل الدين لاستنارة الأسماء والصفات في المقامات والحالات الدينية والدنيوية بالأدلة العقلية والشرعية القرآنية والسنية وهو القسم الرابع من علوم القرآن في التذكير)، إملاء: أبو بكر محمد بن عبد الله بن محمد ابن العربي المعافري الإشبيلي (ت 543 هـ)، تحقيق: الدكتور عبد الله التوراتي، چاپوونکې اداره: دار التحديث الكتانية (طنجة – المغرب / بيروت - لبنان) لومړى چاپ، کال: 1438 هـ - 2017 م. ج ۳ ص ۳۵۶- ۳۵۷.

[29] - السياسة الشرعية في إصلاح الراعي والرعية، تأليف: شيخ الإسلام أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام ابن تيمية (661 - 728 هـ)، تحقيق: علي بن محمد العمران، چاپوونکې اداره: دار عطاءات العلم (الرياض) - دار ابن حزم (بيروت)، څلورم چاپ، کال: 1440 هـ - 2019 م. ص ۲۳۳.

همدا راز الخرقي په خپل مختصر کې وايي: (**وَإِذَا نَزَلَ بِهِ الْأَمْرُ الْمُشْكِلُ عَلَيْهِ مِثْلُهُ، شَاوَرَ فِيهِ أَهْلَ الْعِلْمِ وَالْأَمَانَةِ**)[30]. کله چې داسې کومه قضیه ورته پېښه شي چې د هغې په څېر قضیې ورته واضحې او څرګندې نه وي، نو باید چې د اهل علم او اهل امانت سره یې په اړه مشوره وکړي.

په دې توګه دا څرګندېږي چې د عامو او ټولنیزو قضیو په اړه مشوره یوه داسې اجماعي قضیه ده چې هیڅوک په کې اختلاف نه لري، که د مجتهد لپاره په استحباب هم حمل شي، نو د یو داسې چا لپاره چې هغه د اجتهاد ملکه نه لري، نو د هغه لپاره خو د مشورې کولو پرته بله لار نشته، هغه باید مشوره وکړي، څکه د درست حکم د معلومولو لپاره همدا یوازینۍ لاره ده، په ځانګړې توګه د هغه قضیو په اړه چې مخکې په کتابونو کې نه دي بحث شوي او یا بحث شوي دي، خو مشخص نظر یې د ترجیح په اړه نه دی څرګند شوی.

**د مشورې ډګرونه**

اوس دا سوال چې شورا او مشوره باید په کومو قضیو کې سرته ورسېږي، په دې خو مو مخکې خبره وکړه چې په لومړي سر کې قضیې په دوه ډوله دي، یو فردي قضیې او مسئلې دي چې د هغوی په اړه مشوره کول مستحب دي او ښه کار دی او بل ډول مسئلې ټولنیزې دي، چې په دې ډول مسئلو کې مشوره لازمي ده، اوس پوښتنه دا را ولاړېږي چې په دې ټولنیزو مسئلو کې کوم شیان شامل دي؟

په دې اړه باید په لنډ ډول ووایو: موږ احکام په دوه ډوله ویشلی شو، هغه که دنیوي مسئلو پورې تړاو ولري او که د دیني مسئلو سره تړاو ولري:

لومړی ډول هغه قضیې دي چې په هغه کې نص شتون لري او دا نص هم د ګڼو معناګانو احتمال ونه لري او که وه یې لري خو د یوې ځانګړې معنی په تعیین باندې د امت اجماع شتون ولري، دا ډول قضیې اصلاً د اجتهاد ډګر نه دی، دلته بنسټیزه خبره په هغه څه التزام دی چې په نص کې راغلي وي، لنده دا چې دا ډول مسایل د مشورې او شورا ډګر نه شي کېدلی، همدا د اسلامي شورا او د غربي جمهوریت توپیر دی، څکه هلته هیڅ شی ثابت نه دی، هر څه د انسانانو د نظریاتو په پایله کې بدلېدلی شي، خو په اسلام کې دا ډول شیان د انساني نظر پر بنسټ نه شي بدلېدلی، په دې حالت کې د ضرورت احکام شریعت مشخص کړي دي، چې هغه په فردي او یا هم په محدود ټولنیز چاپېریال کې افرادو ته داسې اسانتیاوې شریعت ورکړي دي چې هغه د بشري طبیعت غوښتنه ده، هغه د انسان د نظر له امله د شریعت د حکم بدلون نه دی.

دویم ډول هغه قضیې دي چې د دیني قضیو سره تړاو ولري او که د دنیوي امورو سره، خو د علماوو له نظره د اجتهاد میدان او ډګر وي او شریعت په کې اجتهاد ته جواز ورکړی وي، چې دا په حقیقت کې د شورا ډګر بلل کېږي، څکه هر څه چې د اجتهاد میدان بلل کېږي هغه د شورا ډګر هم بلل کېږي، څکه شورا په هماغه ځای کې جواز لري چېرته چې اجتهاد او انساني نظر اغیزمن وي، دا په لاندې څو ډولو ویشلی شو:

1. هغه مسئلې دي چې د قطعي احکامو د تنزیل او تطبیق پورې تړاو لري، دا ډول مسئلې سره له دې چې په قطعي نصوصو سره ثابتې وي، خو په واقع باندې یې تنزیل او تطبیق اجتهاد ته او انساني نظر ته اړتیا لري، د بېلګې په توګه د جهاد حکم خو قطعي دی، خو دا چې په یو ټاکلي وخت کې یې د تطبیق او اعلان شرطونه برابر دي او که نه؟ دا د اجتهاد او شورا ډګر دی، همدا راز د امر بالمعروف او نهی عن المنکر، روژې، حدودو او داسې نورو قطعي

---

[30] - مختصر الخرقی علی مذهب ابي عبد الله أحمد بن حنبل الشیباني، تألیف: أبو القاسم عمر بن الحسین بن عبد الله الخرقي (المتوفی : 334هـ)، چاپوونکې اداره: دار الصحابة للتراث، د چاپ کال: 1413هـ-1993م. ص ۱۵۴.

احکامو تطبیقد اجتهاد او شورا ډګر دی، په دې کې یوه ډېره ستونزمنه مسئله چې موږ ورسره اوس هم مخ یو د «سود» مسئله ده، په دې کې مسلمان شک نه لري چې سود حرام دی، خو ډېر صورتونه داسې کېدلی شي چې په هغه کې اختلاف وي چې ایا سود په کې متحقق دی که نه؟ د بېلګې په توګه په تقاعد او داسې نورو صورتونو کې.

2. هغه مسئلې چې په اړه يې نصوص راغلي وي، خو دا نصوص د ګڼو معناګانو احتمال ولري، د دې معناګانو څخه د یوې معنی انتخاب د اجتهاد او په ورته مهال کې د شورا ډګر دی.

3. هغه مسئلې چې په اړه يې ګڼ شرعي نصوص شتون ولري، خو دا نصوص په خپلو کې متعارض وي، د دې متعارضو نصوصو سره تعامل هم د اجتهاد او د شورا ډګر دی.

4. هغه مسئلې چې اصلاً په کې نصوص شتون ونه لري او پخوا زموږ په فقهي کتابونو کې بحث شوي هم نه وي، په دې معنی چې په دې زمانه کې ورسره خلک نوي مخامخ کېږي، دا مسئلې هم د اجتهاد او د شورا ډګر دی چې په فقهي اصطلاح کې ورته «نوازل» ویل کېږي.

5. هغه مسئلې چې په حنفي مذهب کې بحث شوي دي، خو مفتی به (په مذهب کې معتبر) قول په کې نه دی بیان شوی، یا مفتی به (راجح) قول په کې بیان شوی هم دی، خو په مفتی به قول کې د علماوو ترمنځ اختلاف دی، دا ډول مسئلې هم د شورا ډګر شمېرل کېږي.

6. هغه مسئلې چې مفتی به قول هم په کې په حنفي فقه کې بیان شوی دی، خو د اختیار او ترجیح سبب يې عرف او عادت، مصلحت او مفسده، ضرورت او داسې نور شیان وي، هغه څه چې د وخت او زمانې د بدلون له امله په کې بدلون راځي، هغه چې په اړه يې زموږ فقهاء وايي: (وهذا من اختلاف عصر وزمان لا حجة وبرهان)[31]. په دې کې هغه ټولې مسئلې شاملې دي چې د دې قاعدې لاندې يې علماء راوړي چې وايي: (لا ینکر تغیر الأحکام بتغیر الزمان)[32] یعنې د زمانې د بدلون له امله په احکامو کې د بدلون څخه انکار نه شي کېدلی.

7. تر ټولو زیات هغه سیاسي او ټولنیزې مسئلې چې د مصالحو او مفاسدو تابع وي او په اړه يې یو ډول اصولي دریځ نیول سخت کار وي، ځکه دا ګټه او زیان له یو وخت څخه بل وخت ته توپیر لري، چې دا وکتل شي چې کومه ګټه د شریعت د طبیعت او اصولو سره برابره ده چې رعایت يې وشي او کومه ګټه د شریعت د اصولو سره برابره نه ده چې باید مسترده کړی شي، دا ټول د اجتهاد او شورا ډګرونه دي.

8. هغه اداري ترتیبات او قوانین چې د ملت د عام وګړي ژوند ترې اغېزمن کېږي او په یو شمېر حالاتو کې هغه د خپلو یو لړ بنسټیزو حقوقو څخه په کې تنازل ته اړ کېږي او که په اړه يې له دوی سره او یا هم د دوی له نمایندګانو سره په کې مشوره ونه شي او د هغوی سره په کې عقد (تړون) ونه شي هغه تصرف نا روا ګرځي چې دولت او حکومت يې سر ته رسوي، دا هم د اجتهاد او شورا ډګر دی.

دا هغه امور دي چې د انسانانو اجتهاد ته پرېښودل شوي دي او همدا راز هغه ټول موقت دنیوي امور او مسئلې چې هغه د مصالحو او مفاسدو تابع وي او په هغوی کې دایمي حکم ممکن نه وي، دا ډول مسئلې ټولې د شورا او اجتهاد ډګر

[31] - دا په فقهي کتابونو کې په تکرار سره راځي، د مثالونو راوړلو ته يې اړتیا نشته، هر څوک ورته لاس رسی درلودلی شي. او معنی يې دا ده چې په دې مسئله کې اختلاف د زمانې د بدلون له امله دی نه د دلیل او حجت د اختلاف له امله.

[32] - د دې قاعدې او تطبیقاتو لپاره وګورئ: درر الحکام في شرح مجلة الأحکام، تألیف: علي حیدر خواجه أمین أفندي (المتوفی: 1353هـ)، عربي ته ترجمه: فهمي الحسیني، چاپوونکې اداره: دار الجیل، بیروت، لبنان، لومړی چاپ، کال: 1411هـ - 1991م. (۳۹) ماده ج ۱ ص ۴۷. د دې قاعدې تطبیقات هم په فقهي کتابونو کې لیدلی شو، دلته يې د بېلګو راوړلو ته اړتیا نه وینم.

شمېرل کېږي، لنډه دا چې کومې مسئلې د اجتهاد ډګر شمېرل کېږي هغه د مشورې او شورا تابع دي، نو د ټولنې مشران او حاکمان باید په دې ټولو قضیو کې مشوره وکړي.

په دې اړه د احنافو د فقهاوو نظر بالکل څرګند دی، په دې کې هیڅ اختلاف هم نه لري او استدلال یې هم د (الأمر) د کلمې څخه دی چې دا په عموم دلالت کوي، په دې اړه امام جصاص رازي وروسته له دې چې د هغه خلکو نظر ردوي چې د اجتهاد له لارې شرعي احکام نشي استنباط کېدلی، په دې استدلال کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په مشوره باندې مأمور و او مشوره په هغه ټولو امورو کې شته دی چې قطعي نص په کې شتون ونه لري، خو په څه شیانو کې چې نص وجود ولري په هغه امورو کې نه شورا شته او نه اجتهاد، په دې اړه یې دا لاندې عبارتونه لولو، وایي: «**أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَا يُشَاوِرُهُمْ أَنَّ الظُّهْرَ أَرْبَعُ رَكَعَاتٍ، وَالْمَغْرِبَ ثَلَاثٌ، مِنْ حَيْثُ كَانَ طَرِيقُ مَعْرِفَتِهِ الْوَحْيَ، فَعَلِمْنَا أَنَّهُ إنَّمَا أُمِرَ بِمُشَاوَرَتِهِمْ لِيُظْهِرُوا آرَاءَهُمْ، وَمَا يُؤَدِّيهِمْ إلَيْهِ اجْتِهَادُهُمْ، فَيَجْتَهِدُ مَعَهُمْ، وَيَخْتَارُ الصَّوَابَ عِنْدَهُ مِنْهَا**»[33].

ته نه ګورې چې پیغمبر علیه السلام هغوی سره په دې کې مشوره نه کوله چې د ماسپښین څلور رکعتونه دي او د ماښام درې رکعتونه دي او دا ځکه چې د دې ډول مسئلو د معرفت وسیله یوازې وحې ده، نو د دې حقیقت پر بنسټ موږ په دې پوهېږو چې پیغمبر علیه السلام ته د دې لپاره د مشورې کولو حکم ورکړل شوی و چې صحابه کرام خپل نظرونه څرګند کړي او د خپل اجتهاد پایله را څرګنده کړي او پیغمبر علیه السلام هم ورسره اجتهاد وکړي او بیا د هغه نظریاتو له جملې څخه تر ټولو غوره نظر اختیار کړي چې د مشوره ورکوونکو له لورې څرګند شوی وي.

جصاص رازي بیا وایي: «**وَكَذَلِكَ { يَوْمَ الْأَحْزَابِ، لَمَّا عَزَمَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلَى أَنْ يُعْطِيَ عُيَيْنَةَ بْنَ حِصْنٍ وَقَوْمًا مَعَهُ نِصْفَ ثِمَارِ الْمَدِينَةِ، عَلَى أَنْ لَا يُعَاوِنُوا قُرَيْشًا عَلَيْهِ، قَالَتْ الْأَنْصَارُ : أَرَأْيٌ رَأَيْتَهُ يَا رَسُولَ اللهِ، أَمْ وَحْيٌ ؟ فَقَالَ بَلْ رَأْيٌ . رَأَيْت الْعَرَبَ قَدْ رَمَتْكُمْ عَنْ قَوْسٍ وَاحِدٍ، فَرَأَيْتُ أَنْ أَدْفَعَهُمْ عَنْكُمْ إلَى يَوْمٍ مَا} فَقَالَتْ الْأَنْصَارُ : وَاَللَّهِ مَا كَانُوا يَطْمَعُونَ فِيهَا، وَنَحْنُ عَلَى الشِّرْكِ، إلَّا قِرًى أَوْ شِرًى، فَكَيْفَ نُعْطِيهِمْ الْآنَ وَقَدْ أَعَزَّنَا اللَّهُ بِالْإِسْلَامِ لَا نُعْطِيهِمْ إلَّا بِالسَّيْفِ، فَلَمْ يُعْطِهِمْ شَيْئًا**»[34].

امام جصاص رازي بیا هغه واقعه یادوي چې د خندق په غزا کې رسول الله صلی الله علیه وسلم اراده وکړه چې عیینة بن حصن او ورسره څه نورو خلکو ته د مدینې د محاصرې څخه د منصرف کولو لپاره د مدینې د نیمايي میوو د ورکولو اراده وکړه، خو کله چې انصارو ترې پوښتنه وکړه چې دا نظر دی او که وحې ده، یعنې هغوی ته هم د نظر د ښکاره کولو اجازه شته دی؟ او کله چې ورته رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: چې دا اجتهادي خبره ده وحې نه ده، نو هغوی مشوره ورکړه چې دا کار درست نه دی، موږ په جاهلیت کې څه نه دي ورکړي، نو اوس چې الله تعالی د اسلام عزت هم را په برخه کړی دی د دې سوال هم نه پیدا کېږي چې دوی ته دومره سر ټیټ کړو. بیا جصاص رازي وایي: «**هَذَا يَدُلُّ عَلَى أَنَّهُمْ قَدْ كَانُوا عَهِدُوا إلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُشَاوِرُهُمْ فِي أُمُورٍ لَمْ يَنْزِلْ عَلَيْهِ فِيهَا وَحْيٌ ثُمَّ يَجْتَهِدُ مَعَهُمْ، فَيَخْتَارُ مِنْهَا مَا يَرَاهُ صَوَابًا، لَوْلَا ذَلِكَ لَمَا قَالُوا لَهُ : أَرَأْيٌ هُوَ أَمْ وَحْيٌ ؟ ثُمَّ قَالَ لَهُمْ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ( بَلْ هُوَ رَأْيٌ ) وَيُبَيِّنُ وَجْهَ اجْتِهَادِهِ وَغَالِبَ ظَنِّهِ فِيهِ**»[35].

دا په دې دلالت کوي چې انصار او نور صحابه کرام د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دې پایلې ته رسېدلي وو چې په کومو امورو کې په رسول الله صلی الله علیه وسلم وحې نه نازلېږي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به په هغو امورو کې د صحابه کرامو سره مشوره کوي او هغوی سره به یوځای اجتهاد هم کوي او د وړاندې شویو نظریاتو څخه به هغه نظر

[33] - الفصول في الأصول، تأليف: امام أحمد بن علي أبو بكر الرازي الجصاص الحنفي (ت 370هـ)، چاپوونکې اداره: وزارة الأوقاف الكويتية، دویم چاپ، کال: 1414هـ - 1994م. ج ۴ ص ۲٦.

[34] - الفصول في الأصول، مخکینی مصدر. ج ۴ ص ۲٦.

[35] - الفصول في الأصول، جصاص رازي، مخکینی مصدر ج ۴ ص ۲۷.

غوره کوي چې کوم ورته سم او راجح ښکاره شي، که دا خبره نه وي، نو انصارو به پیغمبر علیه السلام ته هیڅکله هم دانه وی ویلي چې دا ستاسې نظر دی او که وحې ده؟ بیا ورته رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل چې دا زما نظر دی او د خپل نظر علت یې هم ورته څرگند کړ او په دې اړه یې خپل غالب گمان هم ورته څرگند کړ.

په آخر کې امام جصاص رازي خلاصه او لنډه خبره کوي چې د مشورې او شورا ډگر هغه ټول شیان دي چې صریحه وحې په کې نه وي، ځکه همدا د اجتهاد ډگر دی او شورا باید په هغه څه کې سرته ورسېږي چې اجتهاد په کې درست وي، د دې لپاره گڼ شمېر دلایل راوړي چې یو یې دا لاندې دلیل دی، وایي: «**مِنْهَا قَوْله تَعَالَى: {وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ} [آل عمران: 159] وَذَلِكَ عُمُومٌ فِي سَائِرِ الْأُمُورِ، لِأَنَّهُ أَدْخَلَ الْأَلِفَ وَاللَّامَ، فَصَارَ لِلْجِنْسِ، وَمَا خُوطِبَ بِهِ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم فَنَحْنُ مُخَاطَبُونَ بِهِ، إلَّا أَنْ تَقُومَ الدَّلَالَةُ عَلَى تَخْصِيصِهِ بِشَيْءٍ دُونَنَا**»[36]. له دې دلایلو څخه یو دلیل هم د الله تعالی دا وینا ده چې فرمایي: {**وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ**} [آل عمران: 159] او دا عام دی او ټولو امورو ته شامل دی، ځکه په دې که په «الأمر» باندې الف او لام داخل کړی شوي دي چې دا یې د جنس امر لپاره گرځولی دی او په کوم حکم چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مخاطب وي موږ هم پرې مخاطب یو (پیغمبر علیه السلام ته دا عام خطاب موږ ته هم خطاب دی) تر څو چې داسې کوم شرعي دلیل شتونه ونه لري چې کوم حکم د امت څخه پرته د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ځانگړی کړي.

د امام جصاص رازي د دې څرگندونو څخه دا واضح شوه چې د مشورې او شورا ډگر هره هغه قضیه ده چې مشخصه وحې په کې نه وي راغلې، هغه که د ځینو خلکو په اصطلاح دنیوي قضیه وي (د دوی له نظره دنیوي قضیې هغه دي چې مؤقتې قضیې وي او د گټې او زیان پر بنسټ یې په اړه پرېکړه کېږي) او که دیني قضیه وي، چې په دې کې تر ټولو مهمه قضیه د امامت او خلافت قضیه ده او همدا راز په اوسني عصر کې د هېوادونو د مشرانو د ټاکلو قضیه هم همدا حکم لري او په دې تصریح کوي چې د روافضو څخه پرته نور ټول امت په دې اجماع لري چې د امت قیادت (خلیفه، امام او امیر المؤمنین) او د هېواد مشر (حاکم، رئیس، پادشاه) باید د خلکو په مشوره او نظر وټاکل شي.

امام ابو منصور ماتریدي په خپل تفسیر کې وایي: «**وقوله عز وجل: (وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ): أمر اللَّه عز وجل نبيه صلى الله عليه وسلم أن يشاور أصحابه في الأمر؛ ففيه وجوه ثلاثة: أحدها: أنه لا يجوز له أن يأمره بالمشاورة فيما فيه النص، وإنما يأمر بها فيما لا نص فيه؛ ففيه دليل جواز العمل بالاجتهاد**»[37].

د الله تعالی دا قول چې فرمایي: (وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ) الله تعالی خپل پیغمبر علیه السلام ته حکم کړی دی چې په قضیو او مسئلو کې د خپلو صحابه کرامو سره مشوره وکړي، نو په دې کې درې مسئلې دي، لومړی: دا امر په هغه څه کې نه دی چې نص په کې وي، بلکې دا حکم د هغه څه په اړه دی چې نص په کې نه وي، په دې ایت کې د دې دلیل هم دی چې اجتهاد د عمل بنسټ گرځول جواز لري. ابو منصور ماتریدي د اهل سنتو مشهور امام دی او دا هم هغه ټول ډگرونه د شورا ډگرونه گڼې چې د شریعت له لورې په کې نص شتون ونه لري.

امام سرخسي هم همدا خبره کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په شورا باندې مامور و او په احکامو او نورو ټولو قضیو کې به یې د صحابه کرامو سره مشوره کوله، په دې اړه وایي:«**والدليل عليه أنه كان مأمورا بالمشاورة مع أصحابه، قال تعالى: (وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ) وقد صح أنه كان يشاورهم في أمر الحرب وغير ذلك، حتى روي أنه شاور أبا بكر وعمر رضي الله**

---

[36] - الفصول فی الأصول، مخکینی مصدر. ج ۴ ص ۵۱، همدا خبره په أحکام القرآن للجصاص ط العلمية ج ۲ ص ۵۳. کې هم کوي، وایي: «وَلَا بُدَّ مِنْ أَنْ تَكُونَ مُشَاوَرَةُ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم إيَّاهُمْ فِيمَا لَا نَصَّ فِيهِ؛ إذْ غَيْرُ جَائِزٍ أَنْ يُشَاوِرَهُمْ فِي الْمَنْصُوصَاتِ، وَلَا يَقُولُ لَهُمْ مَا رَأْيُكُمْ فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ وَالزَّكَاةِ وَصِيَامِ رَمَضَانَ؟ وَلَمَّا لَمْ يَخُصَّ اللَّهُ تَعَالَى أَمْرَ الدِّينِ مِنْ أُمُورِ الدُّنْيَا فِي أَمْرِهِ صلى الله عليه وسلم بِالْمُشَاوَرَةِ وَجَبَ أَنْ يَكُونَ ذَلِكَ فِيهِمَا جَمِيعًا».

[37] - تأویلات اهل السنة «تفسير الماتريدي = تأويلات أهل السنة» (2/ 516):تأويلات أهل السنة المعروف ب (تفسیر الماتریدي)، تألیف: امام محمد بن محمد بن محمود، أبو منصور الماتريدي (ت 333هـ)، تحقيق: د. مجدي باسلوم، چاپوونکې اداره: دار الكتب العلمية - بيروت، لبنان، لومړی چاپ، کال: 1426 هـ - 2005 م. ج ۲ ص ۵۱۶.

**عنهما في مفاداة الأسارى يوم بدر ... ومفاداة الأسير بالمال؛ جوازه وفساده من أحكام الشرع ومما هو حق الله تعالى، وقد شاور فيه أصحابه وعمل فيه بالرأي إلى أن نزل الوحي بخلاف ما رآه، فعرفنا أنه كان يشاورهم في الأحكام كما في الحروب»**[38].

د دې خبرې دلیل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو اصحاب کرامو سره په مشوره کولو مکلف و د الله تعالی دا قول دی چې فرمایي: (**وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ**) او په صحیح احادیثو کې دا ثابته ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د صحابه کرامو سره د جنګ او نورو قضیو په اړه مشوره کوله، تر دې چې دا هم په روایاتو کې راغلي چې د حضرت ابوبکر او حضرت عمر سره یې د بدر د غزا د بندیانو څخه د فدیې په اړه مشوره وکړه .... او د مال په مقابل کې د بندیانو د خوشې کولو جواز او عدم جواز شرعي حکم دی او د هغه امورو له جملې څخه دی چې هغه د الله تعالی حق دی او پیغمبر علیه السلام په دې کې د خپلو صحابه کرامو سره مشوره کړې او په رأي او اجتهاد باندې یې عمل هم کړی، تر دې چې د دې نظر او رأي پر خلاف وحې نازله شوه، نو له دې ثابته شوه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم لکه څرنګه یې چې د جنګ په معاملاتو کې مشوره کوله همدا راز یې په احکامو کې هم مشوره کوله.

همدا خبره په یو بل عبارت کې داسې کوي: **«تبين أَن قَوْله: {وشاورهم فِي الْأَمر} لَيْسَ فِي الْحَرْب خَاصَّة وَلَكِن يتَنَاوَل كل مَا يَتَأَتَّى فِيهِ إِعْمَال الرَّأْي وَقَالَ رَسُول الله صلى الله عليه وسلم لأبي بكر وَعمر رضي الله عنهما يَوْمًا وَقد شاورهما فِي شَيْء: «قولا فَإِنِّي فِيمَا لم يُوح إِلَيّ مثلكما». وَقد تَركهم رَسُول الله على الْمُشَاورَة بعده فِي أَمر الْخلَافَة حِين لم ينص على أحد بِعَيْنِه مَعَ علمه أَنه لَا بُد لَهُم من ذَلِك، وَلما شاوروا فِيهِ تكلم كل وَاحِد بِرَأْيِهِ إِلَى أَن اسْتَقر الْأَمر على مَا قَالَه عمر»**[39].

دا خبره څرګنده شوه چې د الله تعالی دا قول چې فرمایي: {وشاورهم فِي الْأَمر} یوازې د جنګ په اړه نه دی، بلکې هغه ټولو مسئلو ته شامل دی چې په هغوی کې د رأی او نظر د استعمال امکان وي، پیغمبر علیه السلام یوه ورځ کله یې چې د حضرت ابوبکر او عمر رضي الله عنهما سره په یو څه کې مشوره کوله، دې دواړو ته ووېل: تاسې په جرأت خپله خبره کوئ، ځکه په هغه څه کې چې ما ته وحې نه وي شوي زه ستاسې په څېر یم (یعنې زه هم ستاسې په څېر په انساني اجتهاد او نظر باندې عمل کوم) او پیغمبر علیه السلام خپل صحابه کرام د خپل وفات څخه وروسته د خلافت په اړه مشورې ته پرېښودل، ځکه هیڅ کوم مشخص فرد یې تعیین نه کړ، سره له دې چې هغه په دې پوهېده چې د امام او خلیفه شتون ورته ضرور دی او کله چې صحابه کرامو مشوره وکړه هر چا د خپل نظر څرګندونه وکړه، تر دې چې پرېکړه په هغه څه وشوه چې عمر رضي الله عنه مطرح کړه.

امام بزدوي هم همدا خبره کوي، وایي: « **وقد كان النبي صلى الله عليه و سلم يشاور في سائر الحوادث عند عدم النص مثل مشاورته في أمور الحرب ألا ترى أنه شاورهم في أسارى بدر ... وكان يقطع الأمر دونهم فيما أوحي إليه في الحرب كما في سائر الحوادث، والجهاد محض حق الله تعالى ما بينه وبين غيره فرق، وكان يقول لأبي بكر وعمر رضي الله عنهما قولا فإني فيما لم يوح إلى مثلكما، ولا يحل المشورة مع قيام الوحي وإنما الشورى في العمل بالرأي خاصة»**[40].

پیغمبر علیه السلام د نص په نه شتون کې د ټولو حوادثو په اړه مشوره کوله، لکه څرنګه مشوره به یې چې د جنګي مسئلو (د دنیوي مسئلو) په اړه کوله...خو به هغه قضیو کې چې وحي به ورته په کې وشوه هغه به د جنګ په اړه وی (د یو شمېر خلکو په اصطلاح دنیوي قضیې وې) او که نورې ټولې مسئلې به وې، ټولې به یې پخپله بې له مشورې فیصله کولې

---

[38] - أصول السرخسي، مخکینی مصدر. ج ۲ ص ۹۳.

[39] - أصول السرخسي، مخکینی مصدر. ج ۲ ص ۱۳۱.

[40]- كنز الوصول الى معرفة الأصول المعروف ب(أصول بزدوي)، تأليف: امام علي بن محمد البزدوي الحنفيی، چاپوونکې اداره: مطبعة جاوید پریس، کراچي، پاکستان. ص ۲۳۰-۲۳۲.

او جهاد خو ديني قضيه ده، په جهاد او نورو قضيو کې هيڅ توپير نشته او حضرت ابوبکر او حضرت عمر ته به يې ويل: خپله خبره کوئ، په هغه مسئلو کې چې ماته په کې وحې نه وي شوي زه ستاسې په څېر يم، د وحې په شتون کې مشوره جواز نه لري، ځکه شورا يوازې په اجتهادي مسئلو کې جواز او شتون لري.

د امام بزدوي خبره څرګنده ده، خو په يو بل ځای کې د پيغمبر عليه السلام او نورو ترمنځ همدومره توپير ښايي چې پيغمبر عليه السلام به لومړی د وحې انتظار کاوه، کله به چې ورته وحې را نه غله بيا به يې مشوره او اجتهاد کاوه او نور خلک داسې نه دي، بلکې د قضيې د پېښېدو سره سم بايد مشوره او اجتهاد وکړي.

د اصول بزدوي شارح عبد العزيز البخاري د امام بزدوي د همدې عبارت لنډيز په دې توګه بيانوي، وايي:«**يعني كان يحكم في أمر الحرب الأمر بطريق القطع إذا كان فيه وحي، كما كان يفعل كذلك في سائر الحوادث، وحاصله أنه أبطل الفرق المذكور بإثبات المساواة بين أمور الحرب وسائر الحوادث فيما إذا وجد فيها الوحي، وفيما إذا لم يوجد، فقال: إذا لم يوجد الوحي كان يستشيرهم فيهما جميعا، وإذا وجد الوحي يقطع الأمر فيها من غير مشاورة والتفات إلى رأي أحد، فلا معنى للفرق الذي ذكروه ثم أكد هذا المعنى وهو إبطال الفرق بقوله والجهاد محض حق الله تعالى ليس بينه وبين غيره فرق**»[41].

هدف يې دا دی چې کله به وحې شتون درلود، نو پيغمبر عليه السلام به د جنګ په مسئلو کې د نورو ټولو مسئلو په څېر په قطعي توګه پرېکړه کوله (د چا مشورې او اجتهاد ته به يې نه کتل) د امام بزدوي د دې خبرې لنډيز دا دی چې د دنيوي او ديني مسئلو ترمنځ فرق له منځه يوسي، نو وايي: کله چې به وحې شتون نه درلود، نو د ټولو مسئلو په اړه به يې د صحابه کرامو سره مشوره کوله او کله به چې وحې شتون درلود، نو د ټولو مسئلو په اړه به يې د صحابه کرامو د مشورې پرته قاطع پرېکړه کوله او د چا نظر او رأيې ته به يې نه ليدل، نو د ديني او دنيوي مسئلو ترمنځ په دې اړه توپير نشته لکه دا څه خلک يې چې وايي، بيا يې دا مفهوم لږ نور هم په مؤکد شکل بيان کړ، ځکه ويل يې دي: چې جهاد خو هم دنيوي مسئله نه ده، بلکې هغه هم د الله تعالی حق دی، د جهاد او نورو عبادتونو ترمنځ په دې اړه هيڅ توپير نشته.

يو شمېر ظاهر مشربه علماء او د نورو مذهبونوعلماء وايي: پيغمبر عليه السلام د شرعي احکامو په اړه مشوره نه کوله ځکه چې د شرعي احکامو مصدر خو هغه پخپله و او دا احکام پخپله هغه ته د الله تعالی له لورې راتلل، د دوی له نظره پيغمبر عليه السلام يوازې په هغه مسئلو کې مشوره کوله چې هغه د موقتو امورو سره تړلې وه لکه د جنګ او سياست مسئلېچې دې ته دوی دنيوي قضيې وايي، چې د دې خلکو په نظرياتو باندې د حنفي مذهب د اصول فقه علماوو رد کړی چې دمخه مو د دوی عبارتونه ولوستل او د شواهدو او دلايلو په رڼا کې درسته خبره هم هماغه ده چې د حنفي مذهب اصوليين يې کوي.

په دې اړه چې په احکامو رسول الله صلی الله عليه وسلم مشوره نه کوله، بلکې د مشورې ډګر يې دنيوي کارونه وو او دا چې دا حکم يوازې د پيغمبر عليه السلام پورې ځانګړی وه، له هغوی وروسته ټولو خلکو هغه که صحابه کرام دي او که نور مسؤولين هغوی بيا د ټولو شيانو په اړه مشوره کوله په هغه کې احکام او نور ټولې مسئلې شاملې وې، په دې اړه امام ابوبکر بن العربي وايي: «**المسالة الرابعة مدح الله المشاور في الأمور ومدح القوم الذين يمتثلون ذلك وقد كان النبي يشاور أصحابه في الأمور المتعلقة بمصالح الحروب وذلك في الآثار كثير ولم يشاورهم في الأحكام لأنها منزلة من عند الله على**

[41] - كشف الأسرار عن أصول فخر الإسلام البزدوي، تأليف: عبد العزيز بن أحمد بن محمد، علاء الدين البخاري (المتوفى : 730هـ)، تحقيق: عبد الله محمود محمد عمر، چاپوونکې اداره: دار الكتب العلمية -بيروت، لبنان، لومړی چاپ، کال: 1418هـ/1997م. ج ۳ ص ۳۱۲.

**جميع الأقسام من الفرض والندب والمكروه والمباح والحرام، فأما الصحابة بعد استئثار الله به علينا فكانوا يتشاورون في الأحكام ويستنبطونها من الكتاب والسنة وأن أول ما تشاور فيه الصحابة الخلافة فإن النبي لم ينص عليها»**[42].

څلورمه مسئله، الله پاک په مسئلو کې د مشورې کولو ستاینه کړې ده او هغه خلک يې ستايلي دي چې په مشوره باندې عمل کوي، پيغمبر عليه السلام به د خپلو صحابه کرامو سره د جنگونو اړوند مسئلو په اړه مشوره کوله او په دې اړه ډېر احاديث شته دی او د شرعي احکامو په اړه يې د هغوی سره مشوره نه ده کړې، ځکه ټول شرعي احکام (فرض، مستحب، مکروه، مباح او حرام) د الله تعالی له لورې نازل شوي دي او کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د الله لور ته وکوچېده، نوصحابه کرامو به په احکامو کې هم مشوره کوله او هغه به يې د قرآن کريم او سنتو څخه استنباطول او تر ټولو دمخه يې چې په کومه مسئله کې مشوره وکړه هغه د خلافت او امامت مسئله وه، ځکه د پيغمبر عليه السلام له لورې يې په اړه کوم نص شتون نه درلود.

په دې اړه چې رسول الله صلى الله عليهوسلم د شرعي احکامو په اړه د صحابه کرامو سره مشوره کړې که نه؟ دا د فقهاوو ترمنځ د اختلاف يو ټکې دی، احناف په دې نظر دي چې پيغمبر عليه السلام د اجتهاد له لارې هم احکام استنباطول، نو اجتهاد ورته جايز و او په کوم ځای کې چې اجتهاد جواز ولري هلته مشوره شته، خو د امام بزدوي رحمه الله نظر دا دی چې اجتهاد به يې کاوه، خو وروسته له دې چې وحې ته لږ انتظار وکړي او کله به چې وحې را نغله، نو بيا به يې اجتهاد کاوه، د اصول فقهې نور حنفي علماء دا شرط هم نه ږدي. د نورو مذهبونوعلماء عموماً دا خبره ردوي چې پيغمبر عليه السلام دې د شرعي احکامو په اړه مشوره کړې وي، خو د نورو مذهبونو د علماوو دا خبره نا سمه ده، او صحيح خبره هغه دهکومه خبره چې د احنافو علماء کوي، د دوی خبره په بې شمېره شواهدو ثابته ده چې يوازې هغه شواهد هم کفايت کوي چې امام جصاص رازي په الفصول في الأصول کې راوړي دي.

**مشوره بايد د چا سره وشي؟**

په دې اړه چې مشوره بايد د چا سره وشي؟ د دې ځواب مشوره کېدونکې مسئلې ته په کتلو توپير لري، ځينې مسئلې داسې دي چې د هغې سره اړوند ټولو خلکو سره بايد مشوره وشي چې په دې حالت کې کوم ځانگړي استعداد او اهليت ته هم اړتيا نشته او ځينې مسئلې داسې دي چې بايد د مشخص اهليت او استعداد لرونکو افرادو سره په کې مشوره وشي، د مشوره ورکوونکو له پلوه موږ مشوره په لاندې درې ډولونو ويشلی شو:

**لومړی: شخصي مشوره**

لومړی د شخصي کارونو په اړه مشوره ده، چې د قرآن کريم د دې ايت کريمه د مصداق سره سم چې فرمايي: «وأمرهم شورى بينهم» د هغوی معاملات د شورا پر بنسټ مخ ته ځي، مسلمانانو ته بهتره خبره دا ده چې د خپلو شخصي امورو په اړه د داسې چا سره مشوره وکړي چې هغه يې په علم، تجربه او اخلاص اعتماد لري، په دې اړه ډېر نصوص هم شته، په دې کې شخصي مسئلې، کورنۍ، د سوداگرۍ، قرض او داسې نورې ټولې مسئلې شاملې دي، په دې کې فردي مشوره او د افرادو تعيين هم په کې نشته، په هر وخت کې يې د هر هغه چا سره کولای شي چې اعتماد پرې ولري. په هر شکل يې چې مشوره وکړه د (**وأمرهم شورى بينهم**) الهي امر يې پر ځای کړ. خو دا زموږ د بحث موضوع نه ده.

**دويمه: عمومي مشوره يا عامه شورا**

دا د هغه مسئلو په اړه مشوره او شورا ده چې ټولو خلکو ته يې گټه او زيان رسېږي، د داسې مسئلو په اړه د ټولو خلکو سره مشوره مهمه او اړينه ده، چې له دې جملې څخه يوه مهمه مسئله د ټول امت او يا هم د يو هېواد او سيمې لپاره د

[42] - احکام القرآن د ابوبکر بن العربي المالکي، مخکينی مصدر. ج ۴ ص ۹۱-۹۲.

سیاسي قیادت د ټاکلو مسئله ده، په دې کې ټول خلک باید په خپلو کې سره مشوره وکړي، او په دې اړه باید د ټولو خلکو نظر واخیستل شي او مشوره ورسره وشي، که د ټولو خلکو رایه او نظر اخیستل ستونزمن وي، نو بیا یې باید په اړه د هغوی د نمایندګانو نظر واخیستل شي، زموږ علماوو په دې اړه له روافضو پرته د نور ټول امت اجماع نقل کړې ده چې د عمومي قیادت ټاکنه د امت اختیار ته پرېښودل شوې ده، ځکه په امت کې موجودې ډلې په دې اړه دوه نظره لري:

1. امام او خلیفه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لورې د نص او تصریح په ذریعه ټاکل کېږي، چې دا د شیعه ګانو نظر دی، هغوی وایي چې حضرت علي کرم الله وجهه د پیغمبر علیه السلام له لورې د خلیفه په توګه ټاکل شوی و، چې دې سره د امت هیڅ بله ډله او بل عالم اتفاق نه لري.
2. د امام او خلیفه ټاکنه د امت اختیار او انتخاب ته پرېښودل شوې، چې دا کار باید د شورا په پایله کې سرته ورسېږي، په دې اړه دلته د علماوو یو څو عبارتونه نقل کوم چې په دې اړه د اجماع خبره کوي.

امام الحرمین جویني د اهل سنت والجماعت مذهب همدا بیانوي چې امام د خلکو له لورې ټاکل کېږي، هغه وایي: **"اتَّفَقَ الْمُنْتَمُونَ إِلَى الإِسْلَامِ عَلَى تَفَرُّقِ الْمَذَاهِبِ، وَتَبَايُنِ الْمَطَالِبِ، عَلَى ثُبُوتِ الإِمَامَةِ، ثُمَّ أَطْبَقُوا عَلَى أَنَّ سَبِيلَ إِثْبَاتِهَا النَّصُّ أَوْ الاِخْتِيَارُ، وَقَدْ تَحَقَّقَ بِالطُّرُقِ الْقَاطِعَةِ وَالْبَرَاهِينِ اللاَّمِعَةِ بُطْلَانُ مَذَاهِبِ أَصْحَابِ النُّصُوصِ، فَلَا يَبْقَى بَعْدَ هَذَا التَّقْسِيمِ وَالاِعْتِبَارِ إِلَّا الْحُكْمُ بِصِحَّةِ الاِخْتِيَارِ"**[43].

اسلام ته ټول منسوب خلک د مذهبونود اختلاف او نظریاتو د تعارض سره په دې اتفاق لري چې امامت لازم دی او بیا په دې هم اتفاق لري چې د امامت د رامنځته کېدلو طریقه به یا شرعي نص (د پیغمبر علیه السلام له لورې نص یا د مخکې امام له لورې نص د شیعه ګانو له نظره) وي او یا به د خلکو له لورې غوره کول وي او دا خو په قطعي او څرګندو دلایلو ثابته شوه چې د نص له لارې د امام د ټاکلونظر باطل دی، نو د دې سبر او تقسیم[44] د دلیل وروسته دا ثابتېږي چې یوازې همدا د امت له لورې د غوره کولو مذهب صحیح او درست دی.

همدا خبره د هغه شاګرد امام ابو حامد غزالي هم په ډېرو لنډو ټکو کې داسې کوي: **"لَا مأخذ للإمامة إلا النَّص أو الاِخْتِيَار وَنحن نقُول مهما بَطل النَّص ثَبت الاِخْتِيَار"**[45].

د امام او خلیفه (همدا راز د یو هېواد د حاکم) د ټاکل کېدو لپاره د نص او د خلکو له لورې له غوره کولو او ټاکلو پرته بله لار نشته، اواو موږ وایو کله چې دا خبره باطله ثابته شوه چې نص د امام د ټاکلو وسیله ده، نو د خلکو له لورې د ټاکلو او غوره کولو لار ثابته شوه.

نو کله چې امامت او خلافت عقد او بیعت شو چې د خلکو له لورې باید ورسره سرته ورسېږي، په پخوانیو وختونو کې داسې امکانات نه وو چې د ټولو خلکو نظر یې په اړه واخیستل شي او ټولو خلکو سره دې په دې اړه مشوره وشي او نه دا ممکن و چې د خلکو څخه د هغوی د نقیبانو او وکیلانو د ټاکلو غوښتنه وشي، چې هغوی سره بیا د امام، خلیفه او حاکم په ټاکلو کې مشوره وشي، نو له دې امله د خلیفه او امام د انتخاب لپاره په تخمیني توګه هغه خلک راټولېدل چې په غالب ګومان یې د خلکو نماینده ګي او وکالت کولی شو او غالباً یې خلکو د نظر مخالفت نه کاوه او دوی ته «اهل الحل والعقد»

---

[43] - غیاث الأمم في التیاث الظلم ص 54، د عبد العظیم الدیب تحقیق.

[44] - دا د دلیل یو ډول دی چې د یوې قضیې ټول احتمالي کیفیتونه وټاکل شي او بیا یو یو کیفیت نقد کړی شي، هر کیفیت چې د نقد څخه روغ راووځي هماغه کیفیت صحیح ګڼل کېږي.

[45] - فضائح الباطنیة، تألیف: امام أبو حامد محمد بن محمد الغزالي الطوسي (ت 505هـ)، تحقیق: عبد الرحمن بدوي، چاپوونکې اداره: مؤسسة دار الکتب الثقافیة – الکویت. ص ۱۷٦.

ویل کېدل، لکه د حضرت عمر رضي الله عنه د هغه وینا څخه چې څرګندېږي چې په هغه اوږد اثر کې یې یادونه شوې چې د زخمي کېدو وروسته یې د وصیتونو په شکل کې صحابه کرامو ته کړې وه[46].

خو اوس چې د یو هېواد د قیادت د انتخاب لپاره د عامو خلکو سره مشوره ممکنه ده او دا کار سرته هم رسېږي او همدا راز د خلکو حقیقي وکیلان انتخابول هم ستونزه نه لري، نو باید چې د هېواد د حاکم په ټاکلو کې د همدې عامې مشورې څخه کار واخیستل شي، چې دا واقعي مشوره وي، همدا راز که دا کار د اهل حل وعقد (د خلکو نمایندګانو) ته سپارل کېږي، نو د همدې عامې مشورې له لارې باید د خلکو حقیقي وکیلان وټاکل شي، تر څو دا مشوره واقعي د هغه چا سره سرته ورسېږي چې دوی سره تړاو لري.

همدا راز ابو منصور عبد القاهر البغدادي الاسفرایني د خلیفه او امام د ټاکلو په اړه وایي: "**واختلفوا في طريق ثبوت الإمامة من نص أو اختيار: فقال الجمهور الأعظم من أصحابنا ومن المعتزلة والخوارج و النجارية أن طريق ثبوتها الاختيار من الأمة باجتهاد أهل الاجتهاد منهم واختيارهم من يصلح لها**"[47].

د امامت د ثبوت د وسایلو په اړه د امت د ډلو ترمنځ اختلاف دی؛ چې د شرعي نص له لارې د یو امام امامت ثابتېږي او که د ټاکنو له لارې، د امت لویه برخه چې اهل سنت، معتزله، خوارج او نجاریه فرقې هم په کې شاملې دي، دوی وایي: چې د امام د امامت د ثبوت لار د امت له لورې ټاکل او غوره کول دي، چې د اجتهاد وړ خلک اجتهاد وکړي او داسې څوک مشخص کړي چې څوک د دې منصب وړتیا لري.

د اسفرایني د خبرې مطلب دا دی چې اهل اجتهاد (اهل الحل والعقد) به لومړی داسې خلک مشخص کوي چې څوک د دې منصب وړتیا لري، که یو تن و، خو هغه به بیا په ځانته ځان د عام بیعت لپاره وړاندې کړی شي او که له یو څخه زیات کسان ووؤ، نو د اوسني عصر د ظروفو او حالاتو سره سم به ټول د خلکو مخ ته وړاندې کېږي چې د هر چا سره ډېرو خلکو موافقه وکړه هماغې ته به د قیادت مسؤولیت ور سپارل کېږي.

خو که اهل الحل والعقد د امت د نماینده ګانو په توګه دا عقد سرته رسوي بیا هم کوم اشکال نه لري، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم په بیعة العقبة کې انصارو ته ویلي وو چې خپل نماینده ګان وټاکئ چې د هغوی سره خبره وکړم، وه یې ویل: "**أَخْرِجُوا إِلَيَّ مِنْكُمْ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيبًا يَكُونُونَ عَلَى قَوْمِهِمْ فَأَخْرَجُوا مِنْهُمْ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيبًا**"[48]. خو شرط به یې دا وي چې دا خلک چې د اهل حل وعقد په نوم یادېږي دوی باید د خلکو نمایندګي وکړی شي، لکه دا د انصارو نقباء چې د ټولو قبیلو نماینده ګي یې کوله، یا هغو عرفاوو چې کوله چې پیغمبر علیه السلام د حنین د غزا نه وروسته ورسره د هوازن قبیلې د بندیانو د پرېښودلو په اړه مشوره کړې وه.

ځکه زموږ په تراث کې همدا د نماینده ګانو او د اهل الحل والعقد تصور دی، ځکه په پخوا وخت کې په مهمو قضیو کې د ټولو خلکو سره د مشورې کولو او د هغوی د نظر د اخیستلو او همدا راز د کوم تړون او عقد د سرته رسولو امکانات ډېر نادر وو، وسایل او امکانات برابر نه وو، نو د خلکو د نماینده ګانو له لارې به دا کار سرته رسېده، تر دې چې د خلکو د نماینده ګانو ټاکنه هم د وساپلو د نه شتون له امله ستونزمن کار و او په اټکل به دا نماینده ګان ټاکل کېدل، هغه څوک به د یوې

---

[46] - مصنف عبد الرزاق، تأليف: أبو بكر عبد الرزاق بن همام الصنعاني، الناشر : المكتب الإسلامي – بيروت، دويم چاپ، کال: 1403هـ ق، تحقيق : حبيب الرحمن الأعظمي. ج ۵ ص ۴۸۰.

[47] - أصول الدين، تأليف: عبد القاهر بن طاهر بن محمد بن عبد الله البغدادي التميمي الأسفراييني، أبو منصور (المتوفى: 429 هـ)، چاپوونکې اداره: مدرسة الإلهيات بدار الفنون التركية-تركيا اسطنبول، لومړی چاپ، د چاپ کال: 1346 هـ ق 1928م. ص ۲۷۹.

[48] - مسند الامام أحمد، تأليف: الإمام أحمد بن حنبل (164 - 241 هـ)، تحقيق: شعيب الأرنؤوط [ت 1438 هـ]- عادل مرشد – وآخرون، إشراف: د عبد الله بن عبد المحسن التركي، چاپوونکې اداره: مؤسسة الرسالة. ج 25 ص 93، دحدیث شمېره (15798).

قبیلې او یوې سیمې نماینده ګان بلل کېدل چې په ورځنۍ ژوند کې به خلکو د هغوی خبرې او پرېکړې ته غاړه ایښودله او له همدې امله ورته اهل حل وعقد[49] ویل کېده، خو اوس د خلکو د واقعي نمایندګانو ټاکنه اسان کار دی، نو باید یوازې له اټکل څخه کار وانخیستل شي. بلکې په واقعي توګه هغه خلک وټاکل شي چې د هغه سیمې اکثره خلک یې خپل نماینده ګان او خپل مشران ګڼې، لنډه دا چې د خلکو نماینده ګان (اهل الحل والعقد) او د اوسنۍ اصطلاح سره سم د خلکو له لورې ټاکل شوي نماینده ګان (لکه څرنګه چې په بیعة العقبة کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په هدایت خپل وکیلان او نماینده ګان وټاکل او یا به چې په اسلامي لښکر کې عرفاء موجود وو) د امامت او خلافت او یا هم د سیمه ییز (په یو هېواد کې د) حکومت د ټاکلو لپاره لاندې کارونه سرته رسولی شي:

1. لومړی: له دوی څخه یوه ډله داسې باید وي چې خلک وپېژني او دا مشخص کړی شي چې څوک د خلافت او یا هم په اوسنیو حالاتو کې په یو هېواد کې د حکومت کولو وړتیا لري، په خپلو منځونو کې مشوره وکړي، که د وړتیا درلودونکو ترمنځ د دې منصب په لاسته راوړلو کې تنازع نه وه او یو تن د دې کار لپاره تشخیص شو، نو هماغه مشخص شوی مستحق شخص به خلکو ته وړاندې کړي او خلک به ورسره عام بیعت وکړي لکه حضرت ابوبکر الصدیق چې حضرت عمر بن الخطاب د دې منصب لپاره کاندید کړ او بل چا ورسره په دې منصب باندې مقابله نه درلوده، نو د دې منصب لپاره یې وړاندې کړ او خلکو ورسره عام بیعت وکړ[50]. او که مستحقین زیات وو او د هغوی ترمنځ تنازع شتون درلود (چې دا کار د امام ماوردي د تصریح سره ناروا نه دی، بلکې د هغه شورا د افرادو ترمنځ هم تنازع شتون درلوده چې حضرت عمر د خپل شهادت څخه وروسته ټاکلې وه چې خلیفه به د دوی له جملې څخه وي)[51] نو بیا دوه حالتونه رامنځته کېږي:
2. لومړی: دا چې دوی په اکثریت باندې د څو مرشحینو (کاندیدانو) ترمنځ د مناسب او غوره شخص انتخاب وکړي او هغه خلیفه شي، دا په هغه صورت کې چې امت او ملت خپلو نماینده ګانو ته د دې واک ورکړی وي چې دوی د هغوی په نماینده ګۍ امام او خلیفه او یا د یو هېواد حاکم ټاکلی شي، ځکه چې دا حق اصلاً د ټول امت او یا ملت دی او دوی ته د هغوی د وکالت په توګه منتقل کېږي.
3. دویم: دا چې د اهل الحل والعقد شورا یا د امت او ملت د نماینده ګانو شورا دا ټول دعوه لرونکي چې د امامت، خلافت او د یو هېواد د حاکمیت اهلیت لري، د امت او ملت نظر ته وړاندې کړي او د هر چا سره چې زیاتو خلکو

---

[49] - اهل حل و عقد لغوي معنی ده هغه څوک چې پرانستل او تړل کوي، خبرې غوټه کوي، پرېکړې کوي، او تړونونه کوي، او د ستونزو لپاره د حل لارې را وباسي.

[50] - دا هغه صورت دی چې د دې منصب لپاره بل هیڅ نوماند شتون ونه لري، خو دا حالت یوازې په دیکتاتوري نظامونو کې رامنځته کېږي، د واقعي خپلواکۍ په حالت کې نه رامنځته کېږي.

[51] - دا خبره ماوردي کړې ده، خو هغه یوازې یو حالت یاد کړی چې اهل الحل والعقد یې باید پرېکړه وکړي، طبعاً د اراو په اکثریت سره، ځکه په شورا کې خو بله کومه لار نشته، ځکه ټول د نظر خاوندان وي، د یو نظر د بل په مقابل کې ارجحیت نه لري، په دې اړه ماوردي وایي: «فَإِنْ وَقَفَ الِاخْتِيَارُ عَلَى وَاحِدٍ مِنِ اثْنَيْنِ فَتَنَازَعَاهَا، فَقَدْ قَالَ بَعْضُ الْفُقَهَاءِ: إنَّ التَّنَازُعَ فِيهَا لَا يَكُونُ قَدْحًا مَانِعًا. وَلَيْسَ طَلَبُ الْإِمَامَةِ مَكْرُوهًا، فَقَدْ تَنَازَعَ فِيهَا أَهْلُ الشُّورَى، فَمَا رُدَّ عَنْهَا طَالِبٌ، وَلَا مُنِعَ مِنْهَا رَاغِبٌ، وَاخْتَلَفَ الْفُقَهَاءُ فِيمَا يُقْطَعُ بِهِ تَنَازُعُهُمَا مَعَ تَكَافُؤِ أَحْوَالِهِمَا، فَقَالَتْ طَائِفَةٌ: يُقْرَعُ بَيْنَهُمَا وَيُقَدَّمُ مَنْ قَرَعَ مِنْهُمَا. وَقَالَ آخَرُونَ: بَلْ يَكُونُ أَهْلُ الِاخْتِيَارِ بِالْخِيَارِ فِي بَيْعَةِ أَيِّهِمَا شَاءُوا» الأحكام السلطانية للماوردي ص26. یعنې که د دوو نوماندانو ترمنځ د خلافت پر منصب تنازعه رامنځته شوه، یو شمېر فقهاء وايي چې د امامت منصب ته په رسېدلو کې منازعه داسې کوم عیب نه دی چې د امامت د منصب مانع دې وګرځي، همدا راز د امامت غوښتنه کوم مکروه کار هم نه دی، ځکه د شورا (د حضرت عمر له لورې د خلیفه د ټاکلو لپاره د جوړې شوې شورا) غړو امامت او خلافت ته په رسېدو کې تنازع درلوده او نه خو د امامت د منصب غوښتونکي او نه په دې کې د رغبت درلودونکي له دې څخه منع شوي او رد شوي، (له دې امله دا یو روا کار دی) ښه نو دا تنازعه به څرنګه له منځه وړل کېږي که دا نوماندان په حالاتو کې سره برابر وو، نو یوه ډله وايي: چې د دوی ترمنځ به قرعه (پچه) اچول کېږي (خو دا خبره اکثرو فقهاوو رد کړې، ځکه دا عقد دی او په عقودو کې پچې او قرعې نه اچول کېږي) نور بیا وايي: چې دا نماینده ګان او اهل الحل والعقد چې په (اکثریت) سره هر یو غوره کړ هماغه به خلیفه وي، خو موږ په متن کې دا هم ورسره زیاته کړه چې کېدلی شي د اهلیت درلودونکو دا لیست عامو خلکو ته وړاندې کړی شي او کله چې د عامو خلکو له لورې هر څوک (اطوع) وټاکل شو هماغه به خلیفه ګڼل کېږي.

موافقه ونښوده او د بیعت اظهار یې ورسره وکړ هماغه به د دې منصب لپاره وړ شخص وي او هماغه به امام ګڼل کېږي، ځکه دا یو د مرجحاتو څخه دی چې د خلکو تایید او په هغوی کې مقبولیت ولري او «**أطوع في الناس وأقرب في القلوب**»[52] وي، یعنې په زیاتو خلکو د اطاعت څخه برخمن وي او د خلکو زړونو ته زیات نږدې وي.

### د جصاص رازي له نظره د دې ډول شورا یوه مهمه بېلګه

جصاص رازي هم هماغه خبره کوي چې د حضرت ابوبکر رضي الله عنه د خلیفه په توګه ټاکنه په نص باندې نه ده ولاړه، بلکې دا په شورا او د خلکو له لورې په ټاکنه باندې ولاړه ده، چې دا د دې عامې او شمولي شورا یوه ډېره بنسټیزه بېلګه ده، چې باید د یو هېواد د حاکم د ټاکلو لپاره هم باید له همدې ډول شورا څخه استفاده وشي، هغه وایي: «**وَأَجْمَعُوا عَلَى عَقْدِ الْبَيْعَةِ لِأَبِي بَكْرٍ بِآرَائِهِمْ، وَلَمْ يَدَّعِ أَحَدٌ مِنْهُمْ نَصًّا عَلَى أَبِي بَكْرٍ وَلَا غَيْرِهِ، وَلَوْ كَانَ هُنَاكَ نَصٌّ لَمَا خَفِيَ عَلَيْهِمْ، وَهُوَ مُعْظَمُ أَمْرِ دِينِهِمْ، وَدُنْيَاهُمْ . وَلَمَّا قَالَتْ الْأَنْصَارُ: ( مِنَّا أَمِيرٌ وَمِنْكُمْ أَمِيرٌ ) وَلَوْ كَانَ هُنَاكَ نَصٌّ عَلَى رَجُلٍ بِعَيْنِهِ لَمَا أَجْمَعَتْ الصَّحَابَةُ عَلَى جَوَازِ الشُّورَى، لِأَنَّ الشُّورَى لَا تَجُوزُ فِيمَا يَكُونُ فِيهِ نَصٌّ مِنْ الرَّسُولِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَثَبَتَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَنُصَّ عَلَى أَبِي بَكْرٍ، وَلَا عَلَى غَيْرِهِ فِي الْإِمَامَةِ، وَأَنَّهُ وَكَلَهُمْ إلَى اجْتِهَادِهِمْ فِي عَقْدِ الْإِمَامَةِ لِمَنْ يَرَوْنَهُ أَهْلًا لَهَا، وَصَلَاحًا لِلْكَافَّةِ، وَعَلِمْنَا حِينَ عَقَدُوهَا لِأَبِي بَكْرٍ بِاجْتِهَادِهِمْ أَنَّهُمْ لَمْ يَفْعَلُوهُ إلَّا وَقَدْ كَانَ مِنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوْقِيفٌ لَهُمْ أَنَّ عَلَيْهِمْ نَصْبَ إمَامٍ بِاجْتِهَادِ آرَائِهِمْ، ثُمَّ إنَّ عُمَرَ جَعَلَهَا شُورَى بَيْنَ سِتَّةٍ، وَرَضِيَتْ السِّتَّةُ وَالْجَمَاعَةُ بِذَلِكَ، لَمْ يُنْكِرْهُ مِنْهُمْ مُنْكِرٌ، وَكَانَ ذَلِكَ بِاجْتِهَادِ رَأْيٍ مِنْهُ، وَالشُّورَى إنَّمَا هِيَ الْإِجْمَاعُ عَلَى الرَّأْيِ، وَتَوْلِيَةُ مَنْ يَرَوْنَ ذَلِكَ لَهُ**»[53].

صحابه کرامو د خپل نظر او رأی پر بنسټ د حضرت ابوبکر رضي الله عنه سره په بیعت کولو اجماع وکړه او هیچا هم نه د ابوبکر الصدیق په خلافت او نه د کوم بل چا په خلافت د نص د موجودیت ادعا وکړه، (که چا یې ادعا نه وي کړې) او نص موجود وی، نو حتماً به هغوی پرې خبر شوي وی، ځکه د خلافت قضیه د هغوی د دین او دنیا دواړو لپاره تر ټولو بنسټیزه قضیه وه او کله چې انصارو صحابه کرامو وویل: (یو امیر دې له موږ څخه وي او یو امیر دې ستاسې (مهاجرینو) څخه وي) نو که د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لورې د کوم مشخص سړي په اړه نص شتون درلودی، نو صحابه کرامو به د شورا له لارې د دې مسئلې د حلولو په جواز اجماع نه وی کړې، ځکه شورا په هغه قضیه کې جواز نه لري په کومه کې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه نص شتون ولري.

نو له دې څخه ثابته شوه چې پیغمبر علیه السلام د امامت او خلافت لپاره نه د حضرت ابوبکر او نه د کوم بل چا په نوم تصریح کړې ده او دا چاره یې د خلکو اجتهاد او نظر ته پرېښې وه چې د خلافت او امامت مسؤولیت داسې چا ته وسپاري چې دې لپاره یې وړ ګڼي او د عامو خلکو په ګټه وي او کله یې چې امامت حضرت ابوبکر رضي الله عنه ته د اجتهاد پر بنسټ وسپاره، نو موږ په دې پوه شو چې دا کار یې له دې امله وکړ چې دوی سره د پیغمبر علیه السلام له لورې په دې اړه هدایت او تصریح موجود و چې دوی باید امام او خلیفه د اجتهاد او په خپلو کې د مشورې او نظر له لارې وټاکي. بیا حضرت عمر رضي الله عنه د امامت او خلافت قضیه د شپږو تنو صحابه کرامو شورا ته وسپارله او هغه شپږ تنو او د صحابه

[52] - په دې اړه د فقهاو بې شمېره تصریحات شتون لري، لندېز یې دا دی چې که افضل شتون ولري، خو یو بل څوک چې مفضول وي او هغه په خلکو کې زیات طرفداران ولري، خلکو کې زیات محبوبیت ولري او خلک یې زیات اطاعت کوي، نو په دې حالت کې د مفضول امامت په قطعي توګه منعقد کېږي، امام ماوردي وايي: «وَلَوْ ابْتَدَءُوا بَيْعَةَ الْمَفْضُولِ مَعَ وُجُودِ الْأَفْضَلِ نُظِرَ، فَإِنْ كَانَ ذَلِكَ لِعُذْرٍ دَعَا إلَيْهِ مِنْ كَوْنِ الْأَفْضَلِ غَائِبًا أَوْ مَرِيضًا، أَوْ كَوْنِ الْمَفْضُولِ أَطْوَعَ فِي النَّاسِ وَأَقْرَبَ فِي الْقُلُوبِ، انْعَقَدَتْ بَيْعَةُ الْمَفْضُولِ وَصَحَّتْ إمَامَتُهُ.» الأحکام السلطانية، تأليف: أبو الحسن علي بن محمد بن محمد بن حبيب البصري البغدادي، الشهير بالماوردي (ت 450هـ)، چاپوونکې اداره: دار الحديث – القاهرة، مصر. ص ۲۷. دا ډول عبارتونه په ډېرو زیاتو فقهي مراجعو کې راغلي دي، پوښتنه دا را ولاړېږي چې که عام ولس رأی ته مراجعه ونه شي دا به څرنګه معلوم شي چې څوک أطوع في الناس او أقرب الی القلوب دی؟

[53] - الفصول فی الأصول، مخکینی مصدر. ج ۴ ص ۵۴ – ۵۵.

کرامو ټول جماعت دا قبوله هم کړه او د صحابه کرامو څخه هیڅ چا دا خبره رد نه کړه (بلکې ټولو ومنله) او دا د حضرت عمر رضي الله عنه یوه اجتهادي پرېکړه وه او د شورا په نظر او رأی باندې د راټولېدو نوم دی او د دې نوم دی چې هغه چا ته د امامت او خلافت دا منصب وسپاري چې څوک دوی د دې لپاره اهل او وړ وګڼي.

همدا خبره امام جصاص رازي په یو بل ځای کې داسې کوي، وایي: «**وَقَالَ تَعَالَى:{ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ } الْآيَةَ . وَأَجْمَعَتْ الْأُمَّةُ - غَيْرَ الرَّافِضَةِ - أَنَّ هَذَا الِاسْتِخْلَافَ إنَّمَا يَكُونُ فِي كُلِّ وَقْتٍ بِاجْتِهَادِ الْمُسْلِمِينَ وَآرَائِهِمْ، فِيمَنْ يَرَوْنَهُ مَوْضِعًا لِلْخِلَافَةِ لِفَضْلِهِ، وَأَنَّهُ أَصْلَحُ لِلْأُمَّةِ مِنْ غَيْرِهِ**»[54].

الله تعالی د هغه خلکو سره چې ایمان یې راوړی او نیک عملونه یې کړي دي د دې وعده کړې ده چې هغوی ته به په ځمکه کې خلافت ور په برخه کوي لکه هغه خلکو ته یې چې خلافت ورکړی و چې له دوی څخه مخکې وو. د روافضو څخه پرته د ټول امت اجماع ده چې په هر وخت کې به د امام او خلیفه د نصبولو قضیه د مسلمانانو په اجتهاد او نظر باندې سرته رسېږي او هغه څوک به خلیفه ګرځوي چې څوک د خپل فضیلت له امله د خلافت وړ وګڼي او څوک چې د امت لپاره له نورو څخه ګټور وي.

د هغه شورا شمولیت او عمومیت چې د خلیفه، امام او حاکم د ټاکلو لپاره سرته رسېږي، په دې اړه هغه نصوص چې د خلیفه په توګه د حضرت عثمان بن عفان د ټاکلو په اړه راغلي دي ډېر ځرګند او واضح دي، په یو روایت کې افلح بن سعید بن کعب د عبد الرحمن بن عوف رضي الله څخه روایت کوي، وایي:«**قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ: " وَاللَّهِ مَا بَايَعْتُ لِعُثْمَانَ حَتَّى سَأَلْتُ صِبْيَانَ الْكُتَّابِ، فَقَالُوا: عُثْمَانُ خَيْرٌ مِنْ عَلِيٍّ** "[55]. ما تر هغه وخت پورې د حضرت عثمان رضي الله عنه لپاره بیعت وا نخیست تر څو مې چې د ټولو خلکو نه پوښتنه ونه کړه تر دې چې درسي حلقو د ماشومانو څخه مې هم پوښتنه وکړه او ټولو ویل چې حضرت عثمان د دې کار لپاره د حضرت علي څخه غوره دی.

بېلابېلو محدثینو د عبد الرحمن بن عوف د خوریې مسور بن مخرمة نه روایت کوي، وایي: «**سمعت عبد الرحمن بن عوف يقول: شاورت المهاجرين الأولين، وأمراء الأجناد، وأصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم، فلم أر أحدا يعدل بعثمان**»[56].

د عبد الرحمن بن عوف نه مې اورېدلي چې ویل یې: ما د لومړنیو مهاجرینو، د اسلامي لښکر د مشرانو او د پیغمبر علیه السلام د صحابه کرامو ټولو سره مشوره وکړه، هیڅوک مې داسې پیدا نه کړ چې د حضرت عثمان رضي الله عنه سره برابر کړی شوی وی. یعنې د هغه د برابرۍ کس مې پیدا نه کړ.

د دې ځرګندونو څخه ثابته شوه چې دا عامه شورا هغه شورا ده چې د دې لپاره ټاکلی مجلس نه وي بلکې د ملت ټولو خلکو سره په دې اړه مشوره صورت نیسي، دا ډول شورۍ په نورو مسئلو کې هم سرته رسېږي، لکه حضرت عثمان رضي الله عنه چې د نبوي مسجد د بیا ودانولو لپاره په مدینه کې عامه مشوره اخیستې وه او د صحابه کرامو او د مدینې د اوسېدونکو د موافقې وروسته یې پخوانی نبوي مسجد وران او پر ځای یې نوی مسجد تعمیر کړ[57].

---

[54] - الفصول في الأصول، مخکینی مصدر. ج۴ ص ۲۹.

[55] - شرح أصول اعتقاد أهل السنة والجماعة، تأليف: أبو القاسم هبة الله بن الحسن بن منصور الطبري الرازي اللالكائي (ت 418 هـ)، تحقيق: أحمد بن سعد بن حمدان الغامدي [ت 1434 هـ]، چاپوونکې اداره: دار طيبة – السعودية، اتم چاپ، کال 1423 هـ / 2003 م. ج ۷ ص ۱۴۲۳.

[56] - تاريخ بغداد، پوره نوم یې دی (تاريخ مدينة السلام وأخبار محدثيها وذكر قطانها العلماء من غير أهلها ووارديها)، تأليف: أبو بكر أحمد بن علي بن ثابت الخطيب البغدادي (392 - 463 هـ)، تحقيق: د بشار عواد معروف، چاپوونکې اداره: دار الغرب الإسلامي – بيروت، لومړی چاپ، کال 1422 هـ - 2002 م. ج ۱۴ ص ۳۹۹. و سير أعلام النبلاء، تأليف: شمس الدين محمد بن أحمد بن عثمان الذهبي (673 - 748 هـ)، تحقيق: محمد أيمن الشبراوي، چاپوونکې اداره: دار الحديث، القاهرة – مصر، د چاپ کال: 1427 هـ - 2006 م. ج ۸ ص ۵۰۴.

[57] -حياة الصحابة، تأليف: محمد يوسف بن محمد إلياس بن محمد إسماعيل الكاندهلوي (ت 1384هـ)، تحقيق: الدكتور بشار عوّاد معروف، چاپوونکې اداره: مؤسسة الرسالة للطباعة والنشر والتوزيع، بيروت – لبنان، لومړی چاپ، کال: 1420 هـ - 1999 م. ج ۴ ص ۱۲۹.

### درېمه: ځانګړې شورا یا د شورا لپاره ځانګړی مجلس

د اوسني زمانې په څېر په تېرو وختونو کې هم دې ته اړتیا لیدل کېده چې د هېواد په کچه د ټولنیزو، سیاسي، اقتصادي او نورو مسئلو د مناقشې لپاره بېلابېل مجلسونه شتون ولري، کېدلی شي دا مجلسونه د اړتیا سره سم جوړ او تنظیم شي، ځینې ډېر متخصص مجلسونه وي چې د هغوی سره په هماغه مسئلو کې چې د هغوی تخصص او رشته ده مشوره وشي، د بېلګې په توګه د فقهې په قانوني بڼه د ترتیبولو لپاره متخصصه شورا او یا د اقتصادي پلان جوړونې شورا، همدا راز د هېواد په کچه د ټولنیزو، سیاسي او اقتصادي او نورو مسئلو په اړه د تصمیم نیولو شورا او داسې نور، دې ډول مجلسونو او شوراګانو ته موږ ځانګړې شورا وایو، په دې که هغه مجلسونه په قطعي توګه شامل دي چې د هېواد په کچه د ستراتېژیکو تصمیمونو نیولو مرجع بلل کېږي او په بېلابېلو نومونو یادېږي.

دلته یو حقیقت ته اشاره کول اړین بولم چې د شورا او د دې په څېر نورو ارزښتونو چې په شریعت کې یې د تطبیق بڼه نه وي مشخصه شوي، بلکې تطبیق یې آزاد پرېښودل شوی وي، د داسې ارزښتونو هغه تطبیقي بېلګې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې شتون لري، د هغه تطبیقاتو په جواز باندې دلالت کوي او شرعي نصوص په هماغو تطبیقاتو کې منحصر ګڼل درست کار نه دی، د دې قضیې د نورې روښانتیا لپاره باید ووایو چې په نصوصو کې د مشورې کول ضروري ګرځول شوي دي، خو شریعت یې په تفصیل سره د تطبیق طریقه نه ده مشخصه کړې، یوازې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او بیا وروسته د خلفای راشدینو په وخت کې څه عملي تطبیقات شتون لري، د شورا د ترسره کولو لپاره یوازې هماغه طریقې مشخصې نه دي چې پیغمبر علیه السلام او خلفای راشدینو په کومو طریقو شورا ترسره کړې ده، په دې معنی چې امت یوازې په هماغو طریقو د شورا په ترسره کولو مکلف نه دی، بلکې اسلامي امت د تطبیق په اړه آزاد دی په څومره بڼه شکل چې دا ارزښت او حکم تطبیقولی شي باید تطبیق یې کړي، د شورا لپاره د پیغمبر علیه السلام او راشدینو خلفاو تطبیقي بېلګې ځکه اجباري حیثیت نه لري، ځکه دا تطبیقي بېلګې فعل دی او د اصول فقهې قاعده ده چې فعل په عموم دلالت نه کوي، د دې معنی دا ده چې موږ د شورا په اړه دوه مسئلې لرو:

لومړی: مطلق شورائیت، په دې اړه د قرآن کریم نصوص هم شته په احادیثو کې هم تأکید پرې شوی دی، چې دا عموم لري او په دې حکم ټول امت مأمور دی، لکه مخکې یې چې په تفصیل سره یادونه وشوه.

دویم: د شورا د تطبیق څرنګوالی او کیفیت، په دې کې هیڅ قولي حدیث نشته، یوازې عملي بېلګې شتون لري چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د خلفای راشدینو په وخت کې سرته رسېدلي دي، نو دا عملي بېلګې په عموم دلالت نه کوي، په دې معنی چې ټول امت دې په وروسته زمانو کې په همدې ډول د شورا په ترسره کولو مکلف وي، او په بل کیفیت یې نه شي تر سره کولی.

د دې قاعده په اړه د اصولو علماء وايي: «**أنه كما لا عموم للفعل بالنسبة إلى أحواله التي يمكن أن يقع عليها، لا عموم [له] أيضا: بالنسبة إليه عليه السلام والى غيره، من حيث إنه فعل، بل لو ثبت له عموم فإنما يثبت ذلك الدليل من خارج نحو دليل التأسي به عليه السلام، إما مطلقا أو في نوع معين كالصلاة والحج كقوله عليه السلام: "صلوا كما رأيتموني أصلي"، وكقوله عليه السلام: "خذوا عني مناسككم»**[58].

د فعل څخه عموم نه ثابتېږي، نه د فعل د هغه حالاتو په نسبت چې ممکن فعل په هغه کیفیت واقع شي (لکه چې یو فعل هم په اباحت هم په استحباب او هم په وجوب باندې دلالت وکړي) او نه په دې لحاظ چې کوم کار پیغمبر علیه السلام

[58] - نهاية الوصول في دراية الأصول، تأليف: صفي الدين محمد بن عبد الرحيم الأرموي الهندي (715 هـ)، تحقيق: د. صالح بن سليمان اليوسف - د. سعد بن سالم السويح، چاپوونکې اداره: المكتبة التجارية بمكة المكرمة، لومړی چاپ، کال 1416 هـ - 1996 م. ج ۴ ص ۱۴۳۴-۱۴۳۵.

وکړي، نو هغه دې په نورو خلکو هم لازم وي، دا عموم یوازې د فعل له لارې نه ثابتېږي، خو که ثابتېږي، نو هغه د خارجي دلیل له امله ثابتېږي چې هغه د مطلقې اقتدا دلایل دي او یا په ځانګړو عبادتونو کې د قولي دلیل شتون دی لکه د لمانځه په اړه چې پیغمبر علیه السلام فرمایي: (په هغه ډول لمونځ وکړئ لکه زه مو چې پرې لیدلی یم) او لکه د حج په اړه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: (له ما څخه د مناسکو احکام واخلئ). له همدې قاعدې څخه زموږ فقهاوو په ډېرو ځایونو کې استدلال هم کړی دی. کمال بن الهمام په یو ځای کې وایي: «إذ لا عموم للفعل المثبت في أقسامه بل ولا في الزمان»[59]. د ثابتوونکي یا ایجابي فعل نه د اثبات د اقسامو (لکه اباحت، استحباب، سنتیت او وجوب) په اړه په عموم دلالت کوي، بلکې حتې د زمانې په لحاظ هم په عموم دلالت نه کوي (په دې معنی چې کوم فعل د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې ثابت شي هغه دې د وروسته زمانو لپاره هم یوازې د همدې فعل له لارې ثابت شي، دې ته د زمانې په لحاظ په عموم باندې د فعل دلالت ویل کېږي).

د دې معنی دا شوه چې اوس په دې زمانه کې د شورا د ترسره کولو هغه څرنګوالی لازم نه دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې و، هر وخت یې چې د هر چا سره خوښه شي په انفرادي ډول مشوره وکړي او یا هم ډېر خلک را وغواړي خو د دې کار لپاره داسې مشخص مجلس ونلري چې غړي یې مشخص وي او د دې مجلس او هم یې د غړو لپاره ځانګړي صلاحیتونه مشخص وي او د دې لپاره له دې څخه استدلال وکړي چې زه خو په هماغه طریقه شوراترسره کوم چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې وه، ځکه که د رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه فعل لپاره عموم نشته، نو په هغه وخت کې د شورا د تر سره کولو او تطبیق لپاره تر ټولو غوره لار هماغه وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم غوره کړې وه او د هغه وخت د حالاتو او ظروفو د غوښتنو سره سم له هغې څخه بهترې لارې شتون نه درلود او د خلفای راشدینو په وخت کې هغه طریقې بدلون وموند، په ځانګړې توګه د حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه په وخت کې په کې ډېر بدلونونه راغلل، که هغه طریقه ملزمه وی، نو وروسته به پکې بدلون نه راته.

خو اوس حالات بدل دي، اوس د مشورې او شورائیت د تطبیق لارې چارې د انساني تجربو د پرمختګ په پایله کې پرمختللي شوي دي او اسلامي امت د اصول فقهې د پورته یادې شوې قاعدې پر بنسټ د شورائیت د تطبیق د نویو لارو چارو په انتخاب کې خلاص لاس لري، دا مو ځکه وویل چې په دې اړه فعل عمومیت نه لري، ځکه که د شورا د ترسره کولو او تطبیق اړونده فعل د عمومیت غوښتنه کولی، نو د حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضي الله عنه په وخت کې به دې کار بدلون نه مونده، سره له دې چې وروسته به وګورو چې د شورائیت په تطبیق کې په وروسته وختونو کې بدلون راغلی دی.

د شورا لپاره د دې ځانګړو مجلسونو د تشکیل اهمیت د علماوو او فقهاوو د تصریحاتو څخه هم څرګندېږي او دا هم څرګندېږي چې د دې مجلسونو په غړو کې دا لاندې صفتونه باید شتون ولري:

1. د هغه څه علم په کوم شي کې چې ترې مشوره اخیستل کېږي.
2. د کارونو عملي تجربه، ځکه یوازې نظري علم کفایت نه کوي.
3. تدین او په دیني اخلاقیاتو التزام چې په دې کې اخلاص، شفقت او همدردي شامله ده.

[59] - شرح فتح القدير على الهداية، تأليف: كمال الدين، محمد بن عبد الواحد السيواسي ثم السكندري، المعروف بابن الهمام الحنفي [ت 861 هـ] چاپوونکې اداره: شركة مكتبة ومطبعة مصفى البابي الحلبي وأولاده بمصر، لومړی چاپ، کال 1389 هـ - 1970 م. ج ۲ ص ۳۳۲. همدا ډول وګورئ. تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشِّلْبِيِّ، د تبيين مؤلف: عثمان بن علي الزيلعي الحنفي، او د حاشية الشلبي مؤلف: شهاب الدين أحمد [بن محمد بن أحمد بن يونس بن إسماعيل بن يونس] الشِّلْبِيُّ [ت 1021 هـ] چاپوونکې اداره: المطبعة الكبرى الأميرية - بولاق، القاهرة، لومړی چاپ، کال 1314 هـ. ج ۱ ص ۳۲۴.

د دې صفتونو په اړه امام شافعي رحمه الله وايي: «**ولا ينبغي له أن يشاور جاهلا لأنه لا معنى لمشاورته ولا عالما غير أمين فإنه ربما أضل من يشاوره ولكنه يشاور من جمع العلم، والأمانة وفي المشاورة رضا الخصم، والحجة عليه**»[60]. د جاهل سره به مشوره نه کوي (د جاهل څخه هغه څوک مراد دی چې په څه کې ورسره مشوره کېږي چې په هغه ډګر کې علم او پوهه ونلري) ځکه د ناپوهه او جاهل سره د مشورې کولو هيڅ کوم هدف ګټه نشته او د داسې عالم سره به هم مشوره نه کوي چې امانتداري ونلري، ځکه کېدلی شي چې دا هغه سړی بې لارې کړي څوک چې ترې مشوره اخلي، بلکې مشوره به له هغه چا څخه اخلي چې د علم او امانت دواړه صفتونه په کې وي، په مشوره کې د مقابل لورې قناعت ترلاسه کېږی او په مقابل لوري باندې دليل او حجت قايمېږي. د امام شافعي رحمه الله د خبرې څخه دا څرګنده معلومېږي چې د هغه چا سره چې مشوره کېږي هغه بايد د علم او امانت په صفت باندې سنبال خلک وي او دا بايد داسې خلک وي چې په مسئلو کې دخيل خلک وي، ځکه د هغوی قناعت او په هغوی حجت قايمول د امام شافعي رحمه الله له نظره د شورا له مقاصدو څخه دي.

مشهور محدث او فقيه امام نووي په خپل کتاب الأذكار کې وايي: «**واعلم أنه يُستحبّ لمن همّ بأمر أن يُشاور فيه مَن يَثقُ بدينه وخبرته وحذقه ونصيحته ووَرَعه وشفقته. ويُستحبّ أن يُشاور جماعة بالصفة المذكورة ويستكثر منهم**».

په دې ځان پوه کړه چې څوک د يو کار ابتدايي اراده وکړي، نو د هغه لپاره (که انفرادي او شخصي کار وي) چې د هغه چا سره په کې مشوره وکړي د چا په دين، تجربې، عقلمندی، اخلاص، تقوا او شفقت باندې اعتماد ولري او بهتره دا ده چې د دې صفتونو درلودونکو د يو جماعت سره په ګډه مشوره وکړي او دا مجموعه چې څومره لوېدلی شي هومره بايد لويه شي.

په دې عبارت کې امام نووي رحمه الله دوو مهمو قضيو ته اشاره کړې ده:

لومړی: د چا څخه چې مشوره اخيستل کېږي هغوی بايد په عبارت کې په يادوو شويو صفتونو متصف وي، چې په دې کې ديناري، تجربه، اسلامي اخلاقيات مهم دي. په طبيعي توګه څوک چې د يو شي علم او معرفت ونلري له هغه څخه څوک مشوره نه اخلي، نو دا خو يو طبيعي شرط او صفت دی.

دويم: مشوره بايد د يو جماعت او د خلکو د يوې مجموعې سره سرته ورسېږي او دا چې هر څومره زيات وي په هماغه کچه بهتر او غوره کار دی.

زموږ په فقهي کتابونو کې چې قاضي ته د مشورې اخيستلو حکم بيانېږي، نو هلته د علماوو د يوې مجموعې سره د مشورې کولو خبره مطرح کېږي، په دې اړه دا لاندې عبارتونه لولو:

امام طحاوي رحمه الله وايي: (فإن أشكل عليه: شاور رهطًا من أهل الفقه)[61]. که قاضي ته کومه مسئله ناڅرګنده وه، نو د فقهاوو د يو جماعت سره دې مشوره وکړي.

همدا خبره امام سرخسي هم کوي:«**فَإِنْ أَشْكَلَ عَلَيْهِ شَاوَرَ رَهْطًا مِنْ أَهْلِ الْفِقْهِ فِيهِ، وَكَذَلِكَ إنْ لَمْ يَكُنْ مِنْ أَهْلِ الِاجْتِهَادِ فَعَلَيْهِ أَنْ يُشَاوِرَ الْفُقَهَاءَ**»[62]. که د کومې مسئلې حکم ورته څرګند نه و، نو د فقهاوو د يو جماعت سره دې مشوره وکړي، همدا راز که قاضي مجتهد نه و، نو بايد د فقهاوو سره مشوره وکړي.

داسې ښکاري چې دا د امام محمد بن حسن شيباني عبارت وي، ځکه په الکافي کې الحاکم الشهيد همدا عبارت نقل کوي او دا خو څرګنده خبره ده چې الکافي د امام محمد بن حسن د کتابونو تلخيص دی، ځکه نو همدا عبارت له هغه

---

[60] - كتاب الأم د امام شافعی رحمه الله، مخکينی مصدر. ج ۷ ص ۹۵.

[61] - شرح مختصر الطحاوي للجصاص، مخکيني مصدر (8/ 24).

[62] - المبسوط للسرخسي مخکيني مصدر (16/ 84).

څخه دمخه امام طحاوي هم نقل کوي او د الحاکم الشهید[63] څخه وروسته يې امام سرخسي هم نقل کوي.

امام ابن مازة الحنفي په همدې لړ کې وايي: «**قال: وإذا كان في البلد قوم من أهل الفقه شاورهم في ذلك؛ لأن القاضي لا يكون أفطن في نفسه من رسول الله عليه السلام، ورسول الله صلى الله عليه وسلم أمر بالمشاورة، قال الله تعالى: {وشاورهم} (آل عمران: 159)وإن شاور القاضي رجلاً واحداً كفى، ولكن مشاورة الفقهاء أحوط**»[64].

که په سیمه کې د فقهاوو یو جماعت موجود و، نو په دې اړه دې ورسره مشوره وکړي، ځکه قاضي خو په شخصي توګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه زیات ذهین نه شي کېدلی او رسو الله صلی الله علیه وسلم ته الله تعالی د مشورې اخیستلو حکم کړی دی، الله تعالی فرمايي (وشاورهم في الأمر). که قاضي د یو تن سره هم مشوره وکړه کفایت کوي، خو د یوې ډلې فقهاوو سره مشوره کول د احتیاط چلند دی. دا ډول عبارتونه زموږ په ټولو فقهي کتابونو کې تکرارېږي.

په دې اړه د مالکي مذهب مشهور فقیه ابو عمر بن عبد البر وايي: «**ولزم الإمام في ما ينزل بالناس مما لا نص فيه ولا توقيف [إلا]**[65] **الاجتهاد في الحكم ومشاورة العلماء فإن أجمعوا على شيء أنفذه وقضى به**»[66].

په حاکم او خلیفه باندې د هغو مسئلو په اړه چې نص او شرعي مشخص حکم په کې نشته دا لازم دي چې اجتهاد وکړي او د علماوو سره مشوره وکړي او هغوی چې پر کوم حکم او پرېکړې متفق شول هغه تطبیق کړي او پرېکړه پرې وکړي.

### د دې ډول شورا لپاره د ځانګړي مجلس اړتیا

دا خو د فقهاوو د تېرو تصریحاتو څخه څرګنده شوه چې مشوره باید د یوې مجموعې سره وشي او د یو تن او دوه تنو سره مشوره هیڅ مفهوم نه لري، په ځانګړي ډول د هغو مسئلو په اړه چې هغه ډېر دقت ته اړتیا لري او د ټولنیزو چارو په اړه مشورې وي، خو دا چې د دې کیفیت به څه وي، ایا دا سمه خبره ده چې د هر چا سره ځانته ځانته مشوره وشي؟ او ایا دا سمه خبره ده چې هر ځل د هرې خبرې لپاره بېلابېل خلک را وغوښتل شي، که دا کار باید په مجلس کې سرته ورسېږي او د دې لپاره باید یو مشخص مجلس شتون ولري، چې غړي يې ټاکلي وي، د هرې مشورې لپاره بدل را بدل نه شي، د هغوی مسؤولیتونه او حقوق مشخص او څرګند وي، په دې اړه زموږ د فقهاوو تصریحات په دې دلالت کوي چې:

لومړی: د شورا لپاره باید یو مستقل او ځانګړی مجلس شتون ولري، ځکه له دې پرته شورائیت خپل هدف او حکمت له لاسه ورکوي او له همدې امله ګورو چې د خلفای راشدینو په وخت کې د شورا لپاره ځانګړی مجلس موجود و، د دې مجلس خپل غړي وو،په دې اړه په مصنف بن عبد الرزاق کې دا روایت ډېر صریح دی، «**أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: كَانَ مَجْلِسُ عُمَرَ مُغْتَصًّا مِنَ الْقُرَّاءِ شَبَابًا كَانُوا أَوْ كُهُولًا، فَرُبَّمَا اسْتَشَارَهُمْ فَيَقُولُ: «لَا يَمْنَعُ أَحَدًا مِنْكُمْ حَدَاثَةُ سِنِّهِ أَنْ يُشِيرَ بِرَأْيِهِ، فَإِنَّ الْعِلْمَ لَيْسَ عَلَى حَدَاثَةِ السِّنِّ وَلَا قِدَمِهِ، وَلَكِنَّ اللَّهَ يَضَعُهُ حَيْثُ شَاءَ**»[67].

ابن شهاب زهري وايي: د حضرت عمر رضي الله عنه مجلس به د علماوو[68] څخه ډک و، هغه به ځوانان وو او که د پاخه

---

[63] - الحاکم الشهید د محمد بن محمد بن أحمد بن عبد الله بن عبد المجيد بن إسمعيل الحنفي المروزي لقب دی، هغه په 334 هـ ق کې په مرو کې شهید شوی دی. الجواهر المضية في طبقات الحنفية، تأليف: عبد القادر بن محمد بن نصر الله القرشي، أبو محمد، محيي الدين الحنفي (المتوفى: 775هـ)، چاپوونکې اداره: میر محمد کتب خانه – کراتشي، بدون تاريخ. ج ۲ ص ۱۱۲.

[64] - المحيط البرهاني في الفقه النعماني: فقه الإمام أبي حنيفة رضي الله عنه، تأليف: برهان الدين أبو المعالي محمود بن أحمد بن عبد العزيز بن عمر بن مَازَةَ البخاري الحنفي (ت 616 هـ)، تحقيق: عبد الكريم سامي الجندي، چاپوونکې اداره: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان، لومړی چاپ، کال: 1424 هـ - 2004 م. ج ۸ ص ۱۲.

[65] - دا کلمه دلته کومه معنی نه ورکوي، دا د ناسخ غلطي ده.

[66] - الاستذکار تأليف ابو عمر بن عبد البر، مخکینی مصدر. ص ٥١٦١.

[67] - الجامع [مطبوع آخر مصنف عبد الرزاق]، تأليف: معمر بن راشد الأزدي، رواية: عبد الرزاق الصنعاني، تحقيق: حبيب الرحمن الأعظمي، چاپوونکې اداره: المجلس العلمي- الهند، توزيع المكتب الإسلامي – بيروت، لبنان، دویم چاپ، کال 1403 هـ - 1983. ج ۱۱ ص ۴۴۰، د اثر شمېره: «20946».

[68] - د صحابه کرامو او د تابعینو په لومړیو وختونو کې به قراء علماو ته ویل کېدل.

عمر خلک، کله به يې چې د دې مجلس سره مشوره کوله نو ويل به يې: د چا کم عمري بايد هغه د خپل نظر د څرګندولو څخه منع نه کړي، ځکه علم د عمر په کموالي او زياتوالي باندې نه دی، بلکې الله تعالی يې په هغه چا کې ږدي چېرته يې چې خوښه شي.

همدا خبره د ابن عباس رضي الله عنه څخه هم روايت شوې ده، هغه وايي: « **وَكَانَ الْقُرَّاءُ أَصْحَابَ مَجَالِسِ عُمَرَ وَمُشَاوَرَتِهِ، كُهُولًا كَانُوا أَوْ شُبَّانًا**»[69]. علماء به که د پاخه عمر خلک وو او که ځوانان دوی به د حضرت عمر رضي الله عنه د مجلس او د مشورې خلک وو.

په دې باندې چې د حضرت عمر رضي الله عنه په وخت کې د قضيو د مناقشې لپاره ځانګړی مجلس موجود و هغه حديث هم دلالت کوي چې په څو ځايونو کې په بخاري شريف کې نقل شوی دی چې په هغه کې ابن عباس رضي الله عنه وايي: «**كَانَ عُمَرُ يُدْخِلُنِي مَعَ أَشْيَاخِ بَدْرٍ، فَكَأَنَّ بَعْضَهُمْ وَجَدَ فِي نَفْسِهِ، فَقَالَ: لِمَ تُدْخِلُ هَذَا مَعَنَا وَلَنَا أَبْنَاءٌ مِثْلُهُ؟ فَقَالَ عُمَرُ: إِنَّهُ مَنْ حيث عَلِمْتُمْ، فَدَعَاهُ ذَاتَ يَوْمٍ فَأَدْخَلَهُ مَعَهُمْ، فَمَا رُئِيتُ أَنَّهُ دَعَانِي يَوْمَئِذٍ إِلَّا لِيُرِيَهُمْ، قَالَ: مَا تَقُولُونَ فِي قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: {إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالفَتْحُ}. فَقَالَ بَعْضُهُمْ: أُمِرْنَا نَحْمَدُ اللَّهَ وَنَسْتَغْفِرُهُ إِذَا نُصِرْنَا وَفُتِحَ عَلَيْنَا، وَسَكَتَ بَعْضُهُمْ فَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا، فَقَالَ لِي: أَكَذَاكَ تَقُولُ يَا ابْنَ عَبَّاسٍ؟ فَقُلْتُ: لاَ، قَالَ: فَمَا تَقُولُ؟ قُلْتُ: هُوَ أَجَلُ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم أَعْلَمَهُ لَهُ، قَالَ: {إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ}. وَذَلِكَ عَلاَمَةُ أَجَلِكَ. {فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا}. فَقَالَ عُمَرُ: مَا أَعْلَمُ مِنْهَا إِلَّا مَا تَقُولُ**»[70].

عمر رضي الله عنه به زه د بدر د شيوخو سره مجلس ته راوستلم، نو له دوی څخه يو شمېر خلکو (عبد الرحمن بن عوف) په زړونو کې څه را وګرځېدل، نو (حضرت عمر رضي الله عنه ته يې) وويل: دا ولې زموږ مجلس ته را غواړې، د ده په عمر خو زموږ اولادونه دي؟ حضرت عمر رضي الله عنه ورته وويل: تاسې ته خو د دې حيثيت او علم معلوم دی، نو حضرت عمر رضي الله يوه ورځ (ابن عباس) را وغوښته او ځان سره يې مجلس ته داخل کړ، (ابن عباس رضي الله عنهما) وايي ما ته داسې خيال راغی چې په دې ورځ يې زه يوازې د دې لپاره را غوښتی وم چې دوی ته (زما د فهم حالت) وښايي. نو (حضرت عمر رضي الله عنه) وويل: د الله د دې قول د تفسير په اړه څه وايې، چې فرمايي: {إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ} نو يو شمېر خلکو وويل: موږ ته د فتحې او نصرت په حالت کې د الله تعالی د حمد او استغفار حکم راکړل شوی دی، يو شمېر نور چپ پاتې شول او هيڅ يې هم ونه ويل، نو ما ته (حضرت عمر رضي الله عنه) وويل: ابن عباسه! ته هم همداسې وايې؟ ما وويل: نه، نو وه يې ويل: نو ته په کې څه وايې: ما وويل: دا د پيغمبر عليه السلام اجل (د وفات کېدو وخت) دی چې په دې ايت کې يې ورته الله تعالی خبر ورکړی دی، ورته يې ويلي دي چې کله د الله فتح او نصرت راشي، نو دا ستا د اجل وخت دی، نو د خپل پروردګار حمد ووايه او د مغفرت غوښتنه وکړه، بې شکه هغه توبه قبلوونکی دی، حضرت عمر رضي الله عنه وويل: زه هم ترې همدا فهم لرم چې ته يې لرې. نو په دې حديث کې د دې څرګنده يادونه ده چې حضرت عمر رضي الله عنه مجلس درلوده چېرته به يې چې مشرانو صحابه کرامو سره مشورې کولې او کله به يې کشران هم په کې شريکول.

له دې څخه هم صريح روايت هغه دی چې عبد الله بن دينار الأسلمي د خپل پلار څخه روايت کوي چې حضرت عمر رضي الله عنه د خپل خلافت په وخت کې د شورا لپاره مجلس درلود، چې په هغه کې يې د يو شمېر انصارو صحابه کرامو نومونه هم اخيستي چې دوی د دې مجلس غړيتوب درلود، عبد الله بن دينار الأسلميد خپل پلار څخه روايت کوي چې

[69] - صحيح البخاري، چې پوره نوم يې دی(الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله - صلى الله عليه وسلم - وسننه وأيامه)، تأليف: أبو عبد الله محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة الجعفي البخاري (ت 256 هـ)، تحقيق: د. مصطفى ديب البغا، نشروونکې اداره: : (دار ابن كثير، دار اليمامة) – دمشق، سورية، پنځم چاپ، د چاپ کال 1414 هـ - 1993 م. ج ۴ ص ۱۷۰۲. په صحيح البخاري کې په ډېر ځايونو کې دا اثر نقل شوی دی.

[70] - صحيح البخاري، مخکينی مصدر. ج ۴ ص ۱۹۰۱، د حديث شمېره «4686».

هغه وايي: «**كان عمر يستشير في خلافته إذا حزبه الأمر أهل الشورى ومن الأنصار معاذ بن جبل وأبي بن كعب وزيد بن ثابت**»[71]. حضرت عمر رضي الله عنه به په خپل خلافت کې چې کله به ورته یو عاجله قضیه پېښه شوه، نو د اهل شورا سره به یې مشوره کوله او د انصارو څخه به یې د معاذ بن جبل، ابي بن کعب او زید بن ثابت سره مشوره کوله.

امام سرخسي هم د دې تصریح کوي چې حضرت عمر رضي الله عنه د شورا لپاره مجلس درلود او په هغه مجلس کې به غیر مسلمانو خلکو هم ګډون کاوه، چې امام سرخسي له دې څخه استدلال کړی دی چې د شورا مجلس کې د اهل کتابو ګډون کومه ستونزه نه لري، په دې اړه امام سرخسي وايي: «**وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الزُّبَيْرِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ اسْتَشَارَ النَّاسُ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - فِي شَرَابٍ مُرَقَّقٍ، فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ النَّصَارَى: إنَّا نَصْنَعُ شَرَابًا فِي صَوْمِنَا، فَقَالَ عُمَرُ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -: ائْتِنِي بِشَيْءٍ مِنْهُ قَالَ: فَأَتَاهُ بِشَيْءٍ مِنْهُ قَالَ: مَا أَشْبَهَ هَذَا بِطِلَاءِ الْإِبِلِ كَيْفَ تَصْنَعُونَهُ؟ قَالَ نَطْبُخُ الْعَصِيرَ حَتَّى يَذْهَبَ ثُلُثَاهُ، وَيَبْقَى ثُلُثُهُ، فَصَبَّ عَلَيْهِ عُمَرُ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - مَاءً، وَشَرِبَ مِنْهُ، ثُمَّ نَاوَلَهُ عُبَادَةَ بْنَ الصَّامِتِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -، وَهُوَ عَنْ يَمِينِهِ فَقَالَ عُبَادَةُ مَا أَرَى النَّارَ تُحِلُّ شَيْئًا، فَقَالَ عُمَرُ يَا أَحْمَقُ أَلَيْسَ يَكُونُ خَمْرًا؟ ثُمَّ يَصِيرُ خَلًّا، فَنَأْكُلَهُ، وَفِي هَذَا دَلِيلُ إبَاحَةِ شُرْبِ الْمُثَلَّثِ، وَإِنْ كَانَ مُشْتَدًّا، فَإِنَّ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - اسْتَشَارَهُمْ فِي الْمُشْتَدِّ دُونَ الْحُلْوِ، وَهُوَ مِمَّا يَكُونُ مُمْرِيًا لِلطَّعَامِ مُقَوِّيًا عَلَى الطَّاعَةِ فِي لَيَالِي الصِّيَامِ، وَكَانَ عُمَرُ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - حَسَنَ النَّظَرِ لِلْمُسْلِمِينَ، وَكَانَ أَكْثَرَ النَّاسِ مَشُورَةً فِي أُمُورِ الدِّينِ خُصُوصًا فِيمَا يَتَّصِلُ بِعَامَّةِ الْمُسْلِمِينَ، وَفِيهِ دَلِيلٌ أَنَّهُ لَا بَأْسَ بِإِحْضَارِ بَعْضِ أَهْلِ الْكِتَابِ مَجْلِسَ الشُّورَى، فَإِنَّ النَّصْرَانِيَّ الَّذِي قَالَ مَا قَالَهُ قَدْ كَانَ حَضَرَ مَجْلِسَ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - لِلشُّورَى، وَلَمْ يُنْكِرْ عَلَيْهِ**»[72].

د محمد بن الزبير رضي الله عنه څخه روایت دی، وايي: حضرت عمر رضي الله عنه سره خلکو د هغه شرابو په اړه مشوره وکړه چې نري کړی شوي وو (اوبه په کې ګډې کړی شوې وې) د نصاراو څخه یو کس وویل: موږ د خپلې روژې په ورځو کې شربت جوړوو، نو حضرت عمر رضي الله عنه وویل: له دې څخه لږ مقدار ما ته راوړه، نو لږ مقدار یې ورته راوړل، دا خو د هغه شربت سره ډېر ورته والی لري چې د اوښانو لپاره یې خلک جوړوي، دا څنګه جوړوئ؟ هغه نصراني وویل: د مېوې شیره په اور پخوو، تر دې چې دوه برخې وچې شي او یوه برخه پاتې شي، نو حضرت عمر رضي الله عنه په کې اوبه ګډې کړې او لږ یې ترې وڅښه، بیا یې عبادة بن الصامت رضي الله عنه ته ورکړ چې د هغه ښي لور ته و، عبادة بن الصامت وویل: فکر نه کوم چې په اور باندې د څه شي په پخېدلو څه (حرام) شی حلال وګرځي، نو عمر رضي الله عنه ورته وویل: بې عقله! په اول کې شراب نه وي چې بیا کله ترې سرکه جوړه شي، نو بیا یې خورو؟ (هدف یې دا وه چې کله د حرام شي طبیعت بدل شي، نو بیا هغه حلال ګرځي، لکه شراب چې په سرکه بدل شي).

امام سرخسي د دې روایت څخه څو خبرې استنباط کوي، وايي: په دې روایت کې د دې دلیل شته چې د مېوې هغه شیره څښل جواز لري چې پخه کړی شي او دوه ثلثه یې وچه شي او یو ثلث یې پاتې، سره له دې چې دا ټینګ هم وي، ځکه حضرت عمر رضي الله عنه د ټینګو شرابو په اړه د خلکو سره مشوره کړې وه، نه د خوږ شربت په اړه او دا هغه شربت دی چې ورسره ډوډۍ خوړل کېږي او د روژې په شپو کې په عبادت باندې تقویه کوونکی دی او حضرت عمر رضي الله عنه د مسلمانانو لپاره ښه نیت درلودونکی انسان و، په دیني مسئلو کې تر هر چا زیات مشوره کوونکی و په ځانګړې توګه په هغه مسئلو کې چې د عامو مسلمانو پورې به تړلې وې، په دې اثر کې د دې دلیل هم دی چې د شورا مجلس ته د اهل کتابو

---

[71] - الطبقات الكبرى، تأليف: محمد بن سعد بن منيع الهاشمي البصري المعروف بابن سعد (ت 230 هـ)، تقديم: إحسان عباس، چاپوونکې اداره: دار صادر – بيروت، لومړی چاپ، کال ۱۹۶۸م. ج ۲ ص ۳۵۱.

[72] - المبسوط للسرخسي، مخکینی مصدر، ج24 ص 7.

څخه د ځینو خلکو په راوړلو کې هم څه باک نه شته، ځکه هغه نصراني چې څه خبرې وکړې هغه د حضرت عمر رضي الله عنه د شورا په مجلس کې موجود و چې دا خبرې یې وکړې او اعتراض هم پرې ونشو.

دویم: د شورا لپاره په جوړ شوي مجلس کې د خلکو حقیقي نماینده ګان شتون ولري، په ځانګړې توګه د هېواد په کچه جوړ شوي مجلس کې چېرته چې د هېواد د خلکو د مسئلو په اړه بحث او پرېکړې کېږي، داسې پرېکړې چې د هغوی د حقوقو سره تړاو لري او د هغوی ژوند ترې اغیزمن کېږي، ځکه په دې ډول پرېکړو کې د هغوی موافقه اړینه بلل کېږي او که په دې مجلس کې د هغوی له لورې ټاکل شوي نماینده ګان شتون ونلري هیڅوک د هغوی په نماینده ګۍ او وکالت باندې په څه شي موافقه نه شي کولی، د دې یوه بېلګه موږ د حنین په غزا کې ګورو، په دې اړه مسور بن مخرمة روایت کوي، وایي: «**أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَامَ حِينَ جَاءَهُ وَفْدُ هَوَازِنَ مُسْلِمِينَ، فَسَأَلُوهُ أَنْ يَرُدَّ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ وَسَبْيَهُمْ، فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: (أَحَبُّ الْحَدِيثِ إِلَيَّ أَصْدَقُهُ، فَاخْتَارُوا إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ: إِمَّا السَّبْيَ وَإِمَّا الْمَالَ، وَقَدْ كُنْتُ اسْتَأْنَيْتُ بِهِمْ). وَقَدْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم انْتَظَرَهُمْ بِضْعَ عَشْرَةَ لَيْلَةً حِينَ قَفَلَ مِنْ الطَّائِفِ، فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم غَيْرُ رَادٍّ إِلَيْهِمْ إِلَّا إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ، قَالُوا: فَإِنَّا نَخْتَارُ سَبْيَنَا، فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فِي الْمُسْلِمِينَ، فَأَثْنَى عَلَى اللَّهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ، ثُمَّ قَالَ: (أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ إِخْوَانَكُمْ هَؤُلَاءِ قَدْ جَاؤُونَا تَائِبِينَ، وَإِنِّي قَدْ رَأَيْتُ أَنْ أَرُدَّ إِلَيْهِمْ سَبْيَهُمْ، فَمَنْ أَحَبَّ مِنْكُمْ أَنْ يُطَيِّبَ بِذَلِكَ فَلْيَفْعَلْ، وَمَنْ أَحَبَّ مِنْكُمْ أَنْ يَكُونَ عَلَى حَظِّهِ حَتَّى نُعْطِيَهُ إِيَّاهُ مِنْ أَوَّلِ مَا يُفِيءُ اللَّهُ عَلَيْنَا فَلْيَفْعَلْ). فَقَالَ النَّاسُ: قَدْ طَيَّبْنَا ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم لَهُمْ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: (إِنَّا لَا نَدْرِي مَنْ أَذِنَ مِنْكُمْ فِي ذَلِكَ مِمَّنْ لَمْ يَأْذَنْ، فَارْجِعُوا حَتَّى يَرْفَعَ إِلَيْنَا عُرَفَاؤُكُمْ أَمْرَكُمْ). فَرَجَعَ النَّاسُ، فَكَلَّمَهُمْ عُرَفَاؤُهُمْ، ثُمَّ رَجَعُوا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فَأَخْبَرُوهُ: أَنَّهُمْ قَدْ طَيَّبُوا وَأَذِنُوا**»[73].

کله چې د هوازن قبیلې هیئت د حنین د غزا نه وروسته پیغمبر علیه السلام ته راغی او اسلام یې قبول کړی و او د پیغمبر علیه السلام څخه یې غوښتنه وکړه چې هغوی ته د هغوی مالونه او بندیان بېرته ورکړي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ودرېده او وه یې ویل: زما په نزد تر ټولو غوره وینا هغه ده چې تر ټولو ریښتینې وي، له دې دوو څخه یو غوره کړئ: یا بندیان او یا هم مال او ما خو د بندیانو تقسیم وروسته هم کړ (تر څو تاسې راشئ، خو رانغلئ) او رسول الله صلی الله علیه وسلم څه دپاسه لس ورځې دوی ته منتظر پاتې شو کله چې د طایف څخه راستون شو او دوی ته دا څرګنده شوه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دوی ته یوازې یو شی بېرته ورکوي، نو وه یې ویل: موږ ته زموږ بندیان بېرته راکړه، نو پیغمبر علیه السلام د مسلمانانو په منځ کې د خطبې لپاره ودرېده او څرنګه چې په کارده د الله جل جلاله ثناء یې وویله، بیا یې وویل: اما بعد، دا ستاسې ورونه دي چې توبه یې کړې او تاسې ته راغلي دي، زما نظر دی چې دوی ته د دوی بندیان بېرته ورکړم، څوک چې په خپله خوښه بې له بدل څخه دا کار کوي ودې یې کړي او څوک یې چې په بدل کې کوي، چې موږ یې ورته بدل د هغه لومړي غنیمت څخه ورکړو چې الله تعالی یې موږ ته راکړي، نو هغه دې هم دا کار وکړي، نو خلکو وویل: موږ دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره بې له بدل څخه هغوی ته ورکوو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: موږ پوهه نه شو چې چا یې اجازه وکړه او چا یې اجازه ونکړه، نو تاسې خپلو ځایونو ته ستانه شئ چې ستاسې نماینده ګان ستاسې خبره موږ ته نقل کړي، نو خلک ستانه شول، نو نماینده ګانو یې ورسره خبرې وکړې، بیا (دا نمایندګان) پیغمبر علیه السلام ته راغلل، نو خبر یې ورته ورکړ چې هغوی بې له بدل څخه دوی ورکوي او د دې اجازه یې وکړه.

---

[73] - صحیح البخاري مخکینی مصدر، ج 2 ص 810. په صحیح البخاري کې په ډېرو ځایونو کې دا حدیث روایت شوی دی.

له دې څخه معلومېږي چې په کومو مسئلو کې د خلکو د حقوقو قضيه مطرح وي، هلته بايد مسؤول د عامو خلكو سره د قضيې په مطرح كولو اكتفاء و نكړي، بلكې د خلكو د هغو ټاكلو نمايندګانو له لارې د خلكو دقيق نظر واخيستل شي چې په خبره پوهېږي او تحليل يې كولی شي، لكه رسول الله صلى الله عليه وسلم چې د صحابه كرامو سره وكړل.

د دې بل مثال هغه دې چې په بيعت عقبه كې پيغمبر عليه السلام وړاندې كړ، په بيعت عقبه كې كله چې انصارو د پيغمبر عليه السلام سره د هجرت په شرطونو غږېده او هغوی سره د راتلونكي په اړه د يو تړون په بندونو اتفاق كول غوښتل، نو د هغوی څخه يې د مشورې او د دې تړون د تأكيد او توثيق لپاره د يو نماينده مجلس غوښتنه وكړه، په حديث كې راځي:«**وَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: " أَخْرِجُوا إِلَيَّ مِنْكُمْاثْنَيْ عَشَرَ نَقِيبًا يَكُونُونَ عَلَى قَوْمِهِمْ " فَأَخْرَجُوا مِنْهُمْ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيبًا، مِنْهُمْ تِسْعَةٌ مِنَ الْخَزْرَجِ، وَثَلَاثَةٌ مِنَ الْأَوْسِ**»[74].

رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: تاسې ما ته دولس نمايندګان معرفي كړئ، چې د خپل قوم مسؤوليت به پر غاړه اخلي، نو هغوی (انصارو) له خپل منځ څخه دولس تنه نمايندګان معرفي كړل چې نه تنه يې د خزرج د قبيلې څخه وو او درې تنه د اوس د قبيلې څخه وو.

دریم: د شورا لپاره په جوړ شوي دې مجلس كې بايد د يو تخصص او رشتې خلک نه وي را ټول شوي، په ځانګړې توګه په هغه مجلس كې چې په هغه كې د هېواد عامې مسئلې بحث كېږي او د بېلابېلو، ټولنيزو، اقتصادي، سياسي، تعليمي، تجارتي، سولې او جنګ، بهرنيو اړيكو، جرم او جزا او بې شمېره نورو مسئلو په اړه په كې بحث كېږي، په دې مجلس كې بايد متنوع خلک شتون ولري، د بېلابېلو تخصصاتو درلودونكي خلک په كې وي، كه له اول څخه دا ډول بېلابېل تخصصات نه لري، بايد په دې قضيو كې يې ظرفيتونه لوړ كړی شي بېلابېلې دورې او كورسونه ورته بايد جوړ كړی شي، تر څو هغه وړتياوې په كې پيدا شي چې د يو هېواد په اړه د مشوره كوونكو او تصميم نيوونكو لپاره اړين وي، په دې اړه امام قرطبي رحمه الله په خپل تفسير كې د يو عالم ابن خويزمنداد څخه نقل كوي چې هغه وايي: «**قال ابن خويز منداد : واجب على الولاة مشاورة العلماء فيما لا يعلمون، وفيما أشكل عليهم من أمور الدين، ووجوه الجيش فيما يتعلق بالحرب، ووجوه الناس فيما يتعلق بالمصالح، ووجوه الكتاب والوزراء والعمال فيما يتعلق بمصالح البلاد وعمارتها**»[75].

ابن خويزمنداد وايي: حاكمانو باندې واجب دي چې په هغه مسئلو كې د علماوو سره مشوره وكړي چې هغوی پرې نه پوهېږي او د دين د هغه مسئلو په اړه ورسره مشوره وكړي چې هغوی ته څرګندې او واضحې نه وي او د اردو او لښكر د مسؤولينو سره د جنګ اړونده مسئلو كې مشوره وكړي او په ټولنه كې د خلكو د مشرانو سره د ټولنې د ګټو په اړه مشوره وكړي او د علماوو، ليكوالانو، وزيرانو، كارګرانو د هېواد د ګټو او تعمير په اړه مشورې وكړي. د ابن خويزمنداد خبره واضح ده چې د هرې رشتې او تخصص د خلكو سره بايد د هماغه مسئلو په اړه مشوره وشي چې هغوی پورې تړاو لري، ديني علماء په ټولو قضيو كې نه مشوره وركولی شي او نه د دې ټولو مسئلو بشپړ درک لري.

همدا خبره د اهل سنتو امام أبو منصور ماتريدي هم كوي، هغه د حضرت سليمان عليه السلام او د ملكه سبا د قصې څخه په استنباط وايي:«وقوله: (**قَالَتْ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ أَفْتُونِي فِي أَمْرِي مَا كُنْتُ قَاطِعَةً أَمْرًا حَتَّى تَشْهَدُونِ (32) استشارت أشراف قومها وطلبت منهم الرأي في ذلك، وهكذا عمل الملوك وعادتهم أنهم إذا أرادوا أمرا أو استقبلهم أمر يستشيرون أولي الرأي**

[74] - مسند الإمام أحمد بن حنبل، تأليف: الإمام أحمد بن حنبل (164 - 241 هـ)، تحقيق: شعيب الأرنؤوط [ت 1438 هـ]- عادل مرشد – وآخرون، إشراف: د عبد الله بن عبد المحسن التركي، چاپوونكې اداره: مؤسسة الرسالة. ج ۲۵ ص ۹۳.

[75] - الجامع لأحكام القرآن المعروف ب(تفسير القرطبي)، تأليف: أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي (المتوفى: 671هـ) ، تحقيق: أحمد البردوني وإبراهيم أطفيش، چاپوونكې اداره: دار الكتب المصرية – القاهرة، مصر، دويم چاپ، كال: 1384 هـ - 1964 م. ج ۴ ص ۲۵۰.

**من قومهم وأهل الحجى والتدبير منهم، ثم يعملون بتدبير يكون لهم وما يرون ذلك صوابًا؛ وعلى ذلك أمر اللَّه رسوله أن يشاور أصحابه بقوله: (وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ)، ثم أمره إذا عزم على الأمر أن يتوكل على اللَّه في ذلك، وأن يكل أمره إليه»**[76].

د ياد ايت په تفسير کې وايي: ملکه سبا د خپل قوم د معتبرو خلکو سره مشوره وکړه او له هغوی څخه په دې اړه نظر وغوښته، د پادشاهانو تعامل او عادت همدا دی، هغوی چې کله د يو کار اراده وکړي او يا کومه مسئله ورته پېښه شي، نو د خپل قوم د اهل نظر، عقل لرونکو او با تدبيره خلکو سره مشوره کوي، بيا په هغه تدبير چې دوی يې سنجوي او څه چې دوی ته سم ښکاري په هغه عمل کوي، په همدې باندې الله تعالی خپل پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته هم حکم وکړ چې د خپلو صحابه کرامو سره مشوره وکړي او ورته يې وويل: (وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ) د دوی سره مشوره وکړه، بيا يې ورته امر وکړ چې کله د کار په اړه تصميم ونيسي، نو بيا په الله تعالی توکل وکړي او خپله معامله الله تعالی وسپاري.

په دې عبارت کې امام ابو منصور ما تريدي په دې تأکيد کوي چې د قوم په کچه معتبر، اهل نظر، با تدبيره او عقل مند خلک بايد په د شورا په مجلس کې شتون ولري.

څلورم: د مشورې شکل بايد انفرادي نه وي، په دې معنی چې دا درسته خبره نه ده چې د هر چا سره بېله مشوره وشي او حاکم د هغه نظر ځانته معلوم کړي، ځکه زموږ ډېرو علماوو دا ويلي دي چې مشوره او شورا په افکارو باندې د تلقيح او تغذيه کېدو وسيله ده، يعني کله چې په مجلس کې مناقشه کېږي هلته افکار سره تبادله کېږي، د يو چا فکر د بل چا په فکر اغېز اچوي او د بل چا فکر د يو بل چا په فکر اغېز اچوي، چې په پايله کې يې بيا متوازنه پرېکړه را بهر کېږي، په دې اړه امام سرخسي وايي: «**ويتبين بهذا أنه إنما كان يستشيرهم لتقريب الوجوه وتحميس الرأي، على ما كان يقول**[77]**: المشورة تلقيح العقول**»[78]. له دې څخه دا څرګندېږي چې پيغمبر عليه السلام به د صحابه کرامو سره مشوره د دې لپاره کوله چې اراء او نظريات سره را نږدې کړي او نظر پوخ شي، ځکه چې ويل به يې چې په مشوره کې عقلونه په خپلو کې سره يو د بل څخه اغيزمن کېږي. د افکارو پخول او د بېلابېلو نظرياتو يو د بل سره را نږدې کېدل د مجلس په داخل کې د مناقشې پرته ممکن نه دي، نو دې هدف ته د رسېدو لپاره اړينه ده چې مشوره به په فردي توګه نه وي بلکې د مجلس په دننه کې به وي.

بالکل همدا خبره ابن مازة البخاري هم کوي، وايي: «**ولأن بالمشاورة تجتمع الآراء، وظهور الحق عند اجتماع الآراء أَبْيَنُ، ولهذا قيل: في المشاورة تلقيح العقول**»[79]. د مشاورت په تر سره کولو نظريات سره را يوځای کېږي (را نږدې کېږي) او په يوه مسئله کې د نظرياتو د نږدې والي يا يووالي په پايله کې حق په ډېر ښه توګه را څرګندېږي، له همدې امله ويل شوي دي: په مشوره کې عقلونه يو د بل څخه په افکارو کې اغيزمنېږي.

نو لنډه دا شوه چې شورا بايد د مجلس په صورت کې سرته ورسېږي، په دې معنی که د شورا لپاره مجلس شتون هم ولري او د هغې مجلس د غړو څخه په فردي توګه نظر واخيستل شي، نو دا کار درست نه دی او په دې توګه د شورا مقصد نه پوره کېږي، همدا خبره امام ابوبکر بن العربي په صراحت سره کوي، وايي:«وقال بعضُ المؤلفين: "**لا تُشَاوِرِ الجماعة، وشَاوِرْ كل واحد على حِدتِه" «قال الإمام الحافظ رضي الله عنه**[80]**: هذا خطأ على الإطلاق، الغالب أن يُشَاوَرَ الكُلُّ في الجماعة**»[81]. يو مؤلف وايي: د يوې مجموعې سره د په مجموعي توګه مشوره مه کوه، بلکې د هر يو سره بېله بېله مشوره

---

[76] - تفسير الماتريدي المسمى (تأويلات أهل السنة) ابو منصور ماتريدي مخکينی مصدر. ج ۸ ص ۱۱۳-۱۱۴.

[77] - په دې عبارت مې اثر پيدا نه کړ.

[78] - اصول السرخسی، مخکينی مصدر، ج ۲ص ۹۴.

[79] - المحيط البرهاني في الفقه النعماني (برهان الدين بن مازة) مخکينی مصدر. ج ۸ ص ۱۲.

[80] - يقصد نفسه

[81] - سراج المريدين في سبيل الدين، ابن العربي مخکينی مصدر. ج ۳ ص ۳۶۰.

وکړه. په دې باندې پخپله ابوبکر بن العربي رد کوي، وايي: امام حافظ ابوبکر بن العربي وايي: دا په مطلق ډول غلطه خبره ده، راجح خبره همدا ده د ټولو سره بايد د مجموعې په شکل مشاورت وشي.

پنځم: د شورا په مجلس کې بايد د يو طبيعت خلک را ټول نه کړی شي، ځکه که د يو تخصص، د يو طبيعت او مسئلو ته د يو لرليد له زاويې څخه کتونکي خلک د شورا په مجلس کې را ټول کړی شي د شورا مقصد نه تر سره کېږي، ځکه دوی به په افکارو او نظرياتو کې يو د بل کاپي وي، نه به د مناقشې اړتيا وي او نه به د افکارو د تبادلې په نتيجه کې افکار غني کېږي او نه به د اختلاف په موجوديت کې تکامل ته رسېږي، له همدې امله امام شافعي رحمه الله وايي: «**وَيَجْمَعُ المخْتَلِفِين؛ لأنّه أشَدُّ لتَقَصِّيه العِلْمَ، ولكَشْفِ بَعْضِهم على بَعْضٍ**»[82]. په مجلس کې به د مختلفو نظرياتو خلک را ټولوي، ځکه دا په دې دلالت کوي چې په مجلس کې د داسې خلکو را ټولېدل د علم په را جمع کولو کې تر هر څه زيات مؤثر ګام دی اود شورا په مجلس کې د مختلفو او اختلاف درلودونکو خلکو را ټولېدل په خپل منځونو کې يو د بل د نظرياتو د ښه رابرسېره کېدو وسيله ده او همدا په حقيقت کې د مشورې او په شورا کې د مناقشې ګټه او مقصد هم دی، د امام شافعي رحمه الله دا خبره ابن القاص تشريح کړی ده، وايي: «**وقال الشافعي: يشاور أهل العلم ويتحرى أن يجمع المختلفين. لأنه أشعر لتقضيه العلم، ولكشف بعضهم عن بعض. فيعيب بعضهم قول بعضٍ حتى يتبين له أصح القولين**»[83].

امام شافعي وايي: د علم د خاوندانو (د هر فن د عالمانو سره به په هغه خپل فن کې) سره به مشوره کوي، کوښښ به دا کوې چې د مختلفو نظرياتو خلک را ټول کړې، ځکه دا د دې څرګندونه کوي چې دا (مشوره کوونکی) د علم په لټه کې دی او (د اختلاف نظر درلودونکي خلک به ځکه په مجلس کې را ټولوې) ځکه چې دوی يو د بل افکار ښه را څرګندوي، ځکه هر يو به د بل په نظر نقد کوي او ددې په پايله کې به ورته تر ټولو صحيح نظر معلوم شي. کومه خبره چې ابن القاصکوي دا بالکل څرګنده خبره ده، کله چې د اهل فن په منځ کې مناقشه کېږي، انسان د هر چا د نظر بنسټ درک کولی شي او په پايله کې ښې او مناسبې پايلې ته رسېدلی شي.

**په پورته ډول د شورا د سرته رسولو مقاصد**

په دې کيفيت بايد ځکه شورا سرته ورسېږي، چې په همدې توګه د شورا د تطبيق او سرته رسولو له لارې موږ د شورا شرعي مقاصد لاسته راوړلی شو، دا مقاصد او موخې کومې دي؟ دلته يې په لنډ ډول يادونه کوو:

لومړی: سمو پرېکړو ته رسېدل او د سليقې او مزاجيت پر بنسټ د پرېکړو کولو مخنيوياو دې ته د پای ټکې ايښودل چې څوک د فردي مزاج پر بنسټ د ټول هېواد او ټولې ټولنې د اداره کولو هڅه وکړي. لکه مخکې يې چې يادونه وشوه شورا په هغه څه کې سرته رسېږي چې د اجتهاد ډګر وي، په اوسنی زمانه کې موږ څو ډوله مسئلې لرو چې اجتهادي نظر (د حنفي مذهب په اصولو کې دننه اجتهاد ته چې دې ته اجتهاد في المذهب وايي) ته اړتيا لري، چې تفصيل يې د شورا د ډګر په مبحث کې ترسره شو، دې ډول اجتهاد ته اړتيا شته خوپه اوسنی زمانه کې داسې څوک شتون نه لري چې په ځانته ځان د دې ډول اجتهاد اهليت ولري او د علم او معرفت داسې مرتبې ته رسېدلی وي چې هغه د دې اجتهادي مسئلو په اړه په ځانته ځان او د خپل شخصي اجتهاد په پايله کې تر ټولو درستې او سمې پرېکړې ته ورسېدلی شي او بل داسې مجتهد هم نشته چې له هغه څخه په هر قضيه کې فتوا واخيستل شي، نو حاکم، پادشاه او د هېواد مشران اړ دي چې د مشورې او

---

[82] - المختصر من علم الشافعي ومن معنى قوله المعروف ب(مختصر المزنى) تأليف: أبو إبراهيم إسماعيل بن يحيى المزني (ت 264 هـ)، تصحيح وتعليق: أبي عامر عبد الله شرف الدين الداغستاني، ومعه: مقدمات منهجية بين يدي المختصر للإمام المزني، وملحق: كتاب الأمر والنهي على معنى الشافعي رحمه الله من مسائل المزني رضي الله عنه، برواية أبي إسحاق إبراهيم بن إسحاق عنه، چاپوونکې اداره: دار مدارج للنشر – الرياض، لومړی چاپ، 1440 هـ - 2019 م. ج ۲ ص ٦٢٨.

[83] - أدب القاضي، تأليف: أبو العباس أحمد بن أبي أحمد الطبري المعروف بابن القاص (ت 335 هـ)، تحقيق: د. حسين خلف الجبوري [ت 1444 هـ]، چاپوونکې اداره: مكتبة الصديق - المملكة العربية السعودية/الطائف، لومړی چاپ، کال 1409 هـ - 1989 م. ج ۱ ص ۱۷۳.

شورائیت څخه کار واخلي تر څو د هرې مسئلې په اړه صحیح او درست نظر خپل کړی شي، همدا راز ډېرې داسې ادارې او ټولنیزې مسئلې شته چې د هېواد، ملت او ولس ګټې او مصلحتونه ور پورې تړلی وي، په دې اړه صحیح پرېکړې او درست تصمیم نیولو ته اړتیا ده او دا هغه وخت کېدلی شي چې په پوره کیفیت شورائیت او مشوره سرته ورسېږي او که دا کار ونشي، نو پرېکړې به نادرستې وي، سلیقه او مزاج به حاکم وي او فردي مزاج به د هېواد قانون او نظام وي او دا ټول به د اسلام تر نامه لاندې او د مشرانو د اطاعت تر عنوان لاندې سرته رسېږي، خو د تصمیم نیولو مرحله د اطاعت مرحله نه ده، بلکې هغه د مناقشې او نظر د څرګندولو مرحله ده.

دویم: په ټولنه کې یووالی او همغږي رامنځته کول، د شورا د مقاصدو څخه یو مقصد دا هم دی چې په ټولنه کې یووالی او همغږي رامنځته شي، څکه کله چې پرېکړه وشي او ټول خلک په خپل قناعت او خپله خوښه د هغه پرېکړې تر شا ودرېږي دا د ټولنې په یووالي او همغږۍ دلالت کوي، خو که پرېکړه وشي او هغه په ټولو خلکو په زور عملي کېږي، پرېکړه به عملي شي، خو د ټولنې یووالی او همغږي له منځه ځي او په پرېکړو باندې قناعت هغه وخت رامنځته کېږي چې کله د داسې یو مجلس له لورې سرته ورسېږي چې خلک ورته د خپل نماینده مجلس په سترګه وګوري، داسې یو مجلس وي چې ټولو او یا هم زیاتو خلکو ته د منلو وړ خلک په کې وي او په هغه توګه جوړ شوی وي چې په تیرو کرښو کې مو ولوستل.

دریم: د شورا یو مقصد دا هم دی چې د هېواد، ټولنیزو مسئلو او ستونزو په اړه پرېکړې په حقیقي توګه د حاکم د خوښې او نا خوښۍ تابع نه وي بلکې د ټولنې واقعي ګټې او زیانونه یې معیار وي او شخصي غوښتنې او ګټې د حاکمپر پرېکړو اغېز ونلري، همدا راز د شورائیت یو ستر هدف دا هم دی چې د حاکم د استبداد، دیکتاتورۍ، ځان محورۍ، ظلم او د نورو خلکو په حقوقو د تیري مخه ونیسي او دا څکه چې کله د حاکم شخصي سلیقه، فردي خوښي او نا خوښي حاکمه شي، نو هلته بیا خلک ځان د حاکم د مزاج تابع ګڼي او دې کار ته ډېر خلک اماده نه دي، همدا راز د واقعي شورائیت په غیاب کې استبداد، دیکتاتوري، ظلم، د خلکو د حقوقو له منځه تلل رشد کوي اواستبداد یو لوی ټولنیز مرض دی، په هره ټولنه کې چې رامنځته شي ټولنه تباه کوي او له منځه یې وړي، د شورائیت څخه دا مقاصد هغه وخت لاسته راتللی شي چې په هغه کیفیت سره سرته ورسېږي چې مخکې ورته اشاره وشوه.

څلورم: په درست ډول د شورائیت د تطبیق او د سرته رسولو په پایله کې په ټولنه کې د آزادۍ فضاء رامنځته کېږي، همدا راز د شورائیت په پایله کې په ټولنه کې د نوښتګرۍ فضا رامنځته کېږی، لکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې همدا راز د حضرت عمر بن الخطاب او نورو خلفای راشدینو په زمانه کې چې کومه فضا حاکمه وه، هر چا هره قضیه مطرح کولی او مناقشه کولی شوه او دا کار هغه وخت کېږي چې شورا د هغه آدابو سره سمه تطبیق شي چې مخکې مو ورته اشاره درلوده، خو که واقعي شورا تطبیق نه شي، نو بیا شورا یوازې نوم پاتې کېږي چې روح او حقیقت نه لري او د آزادۍ هغه فضا چې د یوې اسلامي ټولنې ځانګړتیا ده نه رامنځته کېږي.

پنځم: د شورا د مقاصدو څخه یو مقصد دا هم دی چې هر چا ته خپل حق ورسېږي او د ظلم او د خلکو په حقوقو د تیري مخنیوی وشي، په ځانګړي توګه چې کله د ټولنیزو مسئلو په اړه پرېکړې په شورا کې کېږي چې یو لور یې عام ولس او خلک وي او بل لورې یې حکومت او نظام وي، که په داسې حالت کې شورا په هغه توګه چې مخکې ورته اشاره وشوه تشکیل نه شي، نو ستونزمنه ده چې هر چا ته دې د هغوی حقوق وسپارل شي، په دې حالت کې به د یو لورې ګټې په نظر کې نیول کېږي او بل لور به محروم پاتې کېږي او عدالت او انصاف به نه متحقق کېږي.

شپږم: د شورا یو بنسټیز مقصد دا هم دی چې بدګومانۍ له منځه وړي، څکه ټولې مسئلې د یو ځانګړي میکانیزم لاندې تر څېړنې لاندې نیول کېږي، بیا نو هیڅا سره دا بدګوماني نه پاتې کېږي چې دا پرېکړه چا او څرنګه وکړه؟ او د کوم مصلحت پر بنسټ پرېکړه وشوه؟ خو دا هدف او مقصد هغه وخت لاسته را تللی شي چې د شورا مجلس د هغه اصولو سره

سم تشکيل شي او پر مخ يوړل شي چې مخکې ورته اشاره وشوه، څوک دې دا نه وايي چې ټولې مسئلې بايد د اعتماد په فضاء کې پرمخ ولاړې شي او خلک بايد د مشرانو په اړه بدګوماني ونه کړي، ځکه په انساني ټولنو کې کارونه يوازې په اخلاقي توصيو باندې مخ ته نه ځي، بلکې د ستونزو د مخنيوي لپاره هغه لارې چارې سنجول او عملي کول په کار دي چې ستونزې له منځه وړي.

اووم: د پرېکړو په بدو پايلو مرتبېدونکي مسؤوليت توزيع کېدل، کله چې نا درستې فيصلېپرېکړې وشي او يا هم پرېکړې درستې وي، خو حالات داسې راشي چې د توان څخه وتلی وي او په هغو پرېکړو بدې پايلې مرتبې شي، نو که پرېکړې په شخصي شکل سرته رسېدلې وي، د هغوی د بدو پايلو څخه هر څوک ځان بري ګڼي او يوازې د هغه چا پر غاړه وراچول کېږي چېهغه پرېکړه چا کړې وي، په دې توګه هغه د شديد فشار لاندې راځي او د هغه په اړه بيا د خلکو تصور هم بدلېږي او د يو ناکام حاکم په څېر په ټولنه کې معرفي کېږي، خو که پرېکړې په شورا کې شوې وي، نو ټول هغه خلک چې د شورا غړي دي او يا يې د شورا د غړو په انتخاب او ټاکنه کې رول لوبولی وي، دوی ټول ځانونه په دې پايلو کې شريک بولي او په دې توګه دا مسؤوليت توزيع کېږي او يو تن ته نه متوجه کېږي، خو دا په هغه صورت کې چې شورا په واقعي توګه لکه مخکې چې ورته اشاره وشوه جوړه شوې وي او په سمه توګه خپل کار پرمخ يوسي.

**د دې شورا د پرېکړو منل لازمي دي که نه؟**

يو د هغه مسئلو څخه چې خلک يې په اړه په غلط فهمۍ کې پراته دي، همدا قضيه ده، يو شمېر خلک په ډېر تاکيد سره دا خبره کوي چې شورا معلمه ده، ملزمه نه ده، په دې معنی چې د شورا د مجلس پرېکړې يوازې همدومره حيثيت لري چې حاکم، مسؤول او مشوره غوښتونکی جهت پرې خبر شو او بس، هغه هيڅ الزامي حيثيت نه لري، يو شمېر معاصر ليکوالان دا نظر پخوانيو علماوو ته منسوبوي، په حقيقت کې دا نسبت درست نه دی، بلکې دلته يو ډول غلط فهمي شتون لري، کومو علماوو چې د شورا پايلې الزامي نه دي بللي هغه په يو ځانګړي حالت کې الزامي نه دي بللي، په عامه توګه زموږ فقهاء د شورا د الزاميت خبره کوي، په کومو حالاتو کې چې د شورا پايلې الزامي نه دي بلل شوي هغه يو د رسول الله صلی الله عليه وسلم لپاره د شورا پايلې دي، هغه الزامي نه دي بلل شوي او بل د يو مجتهد لپاره، د رسول الله صلی الله عليه وسلم خبره خو څرګنده ده، ځکه که هغه د بل چا د خبرو په منلو ملزم شي، نو دا د هغه د منصب سره په تناقض کې قرار لري، ځکه پيغمبر عليه السلام د دې لپاره رالېږل شوی دی چې خلک د هغه اطاعت وکړي او که هغه د بل چا د خبرو په منلو ملزم شي، نو دا خو مطيع (د بل چا اطاعت کوونکی) شو چې دا سم کار نه دی.

همدا راز مجتهد هم په خپل اجتهاد باندې په عمل کولو ملزم دی او د بل مجتهد تقليد ورته نادرست دی، نو که د مشوره کوونکو خبره ومني نو د بل چا د اجتهاد په منلو به ملزم شي چې دا د هغه اصولي قضيې مخالفت دی. دا خو په لنډ ډول د دې قضيې په اړه خبره وه، خو دا خبره لږ په تفصيل سره څېړلو ته اړتيا لري، چې په دې مبحث کې همدا خبره په تفصيل سره څېړو، د شورا بېلابېل حالتونه دي او د هر حالت حکم د الزاميت په لحاظ له بل حالت سره توپير لري، دا حالات څه دي؟ او په دې کې د شورا د پايلو د الزاميت او عدم الزاميت حکم څه دی، همدا قضيه په لاندې کرښو کې لږ په تفصيل سره بيانوو:

**لومړی حالت: مشوره اخېستونکی پخپله پيغمبر عليه السلام وي**

لومړی حالت دا دی چې مشوره اخيستونکی رسول الله صلی الله عليه وسلم وي او مشوره ورکوونکي مجتهدين صحابه کرام وي او په طبيعي توګه به د مشورې اړونده مسئله داسې مسئله وي چې په هغې کې به وحې شتون نه لري، ځکه د وحې په موجوديت کې اجتهاد نشته، نو مشوره هم په کې نشته (چې دا قضيه مخکې په تفصيل سره ياده شوه) نو په دې حالت کې له دې امله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د ټولو مجتهدينو سردار دی او په مجتهد باندې د مجتهد

اطاعت لازم نه دی، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د مشورې پر پایلو ملزم نه و، خو هیڅکله هم داسې نه دي شوي چې په غیر منصوصي مسئلو کې یې د مشورې پایلې مسترد کړي وي.

سره له دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د شورا په پایلو ملزم نه و، خو د پیغمبر علیه السلام تعامل داسې پاتې شوی دی چې د شورا په پایلو به یې عمل کاوه، په دې اړه موږ ډېر تصریحات لرو اصول سرخسي کې وایي: (**ولا معنى لقول من يقول: إنه إنما كان يستشيرهم في الأحكام لتطييب نفوسهم، وهذا لأن فيما كان الوحي فيه ظاهرا معلوما ما كان يستشيرهم، وفيما كان يستشيرهم، الحال لا يخلو إما أن كان يعمل برأيهم أو لا يعمل، فإن كان لا يعمل برأيهم، وكان ذلك معلوما لهم فليس في هذه الاستشارة تطييب النفس ولكنها من نوع الاستهزاء وظن ذلك برسول الله (ص) محال، وإن كان يستشيرهم ليعمل برأيهم...ويتبين بهذا أنه إنما كان يستشيرهم لتقريب الوجوه وتحميس الرأي، على ما كان يقول: المشورة تلقيح العقول وقال: من الحزم أن تستشير ذا رأي ثم تطيعه**»[84].

د هغه چا (دا خبره امام شافعي رحمه الله کړې ده او امام سرخسي دا خبره نقدوي) خبره هیڅ معنی نه لري چې وایي: پیغمبر علیه السلام د صحابه کرامو سره د هغوی د خوشحالولو لپاره مشوره کوله (او په مشوره باندې یې عمل نه کاوه) او دا ځکه چې په کومو مسئلو کې به چې ښکاره او معلومې وحې شتون درلود په داسې مسئلو کې به پیغمبر علیه السلام د چا سره اصلاً مشوره نه کوله (ځکه په وحې به یې عمل کاوه) او په کومو مسئلو کې به یې چې د صحابه کرامو سره مشوره کوله، دا مسئلې د دوو حالتونو څخه خالي نه وې، یا به یې د هغوی په نظر او رای عمل کاوه یا به یې پرې عمل نه کاوه، نو که عمل یې نه کاوه او دا خبره صحابه کرامو ته معلومه هم وه، نو په دې ډول مشوره اخیستلو کې خو د هغوی خوشحاله کول نه دي، بلکې دا خو یو ډول استهزاء او د خلکو مسخره کول دي او داسې ګومان هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اړه محال دی (چې هغوی دې خلک مسخره او توهین کړي). نو دا ثابته شوه چې پیغمبر علیه السلام د صحابه کرامو سره مشوره د دې لپاره کوله چې د هغوی په نظر عمل وکړي. له دې څخه ښکاره شوه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو سره ددې لپاره مشوره کوله چې نظریات سره رانږدې کړي، خبره او نظر پوخ کړي، ځکه پیغمبر علیه السلام به ویل: مشوره په افکارو باندې د عقلونو د تغذیې لامل ګرځي او ویل به یې: د عقلمندۍ خبره دا ده چې د یو صاحب نظر انسان سره مشوره وکړې او بیا یې خبره ومنې.

د امام سرخسي د دې عبارت څخه معلومېږي چې پیغمبر علیه السلام په قطعي توګه د صحابه کرامو په مشورو عمل کولو او دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ټول ژوند کې یوه بارزه نقطه ده چې هیڅکله یې هم مشوره نه ده غورځولې، همېشه یې په مشوره عمل کړی دی، خو د مشورو په منلو او د شورا په پایلو ملزم نه و، ځکه دا الزام د هغه د منصب د غوښتنو سره په ټکر کې وه.

**دویم حالت: مشوره اخېستونکي او مشوره ورکوونکي ټول مجتهدین وي**

دویم حالت دا دی چې مشوره اخیستونکی هم مجتهد وي او مشوره ورکوونکي هم مجتهدین وي، په داسې مشوره کې څو احتمالات ممکن دي:

اول: که د ټولو نظر یو وي، نو دا د اجماع په څېر یو حالت دی، حاکم او قاضي په هغه باید عمل وکړي او د شورا پایلې په دې حالت کې ملزمې دي او په دې کې د هیڅا اختلاف نشته.

دویم: که د مشوره ورکوونکو ترمنځ اختلاف و او یا د مشوره ورکوونکو او حاکم او یا قاضي ترمنځ اختلاف و، نو په دې حالت کې دفقهاوو د وینا سره سم د امام ابوحنیفه رحمه الله مذهب دا دی چې د شورا په پایلو ملزم نه دی، بلکې د خپل

84 - أصول السرخسي، مخکینی مصدر، ج ۲ ص ۹۴.

اجتهاد سره سم چې څه ورته سم ښکاره شي هماغه دې انتخاب کړي او پرېکړه دې پرې وکړي، په دې حالت کې نه مشرولۍ ته اعتبار شته او نه د مخالفینو زیاتوالي ته اعتبار شته[85]، خو د امام محمد رحمه له نظره د مخالفینو د شمېر زیاتوالي ته اعتبار شته دی، په دې معنی که یو لور ته زیات شمېر خلک وو د هغوی په نظر باید پرېکړه وشي. که د سیمې د علماوو سره د مشورې په پایله کې قضیه پرېکړه نه شوه، نو په کار ده چې د نورو سیمو علماوو سره مشوره وکړي او هلته هم په همدې توګه تعامل وکړي، یعنې د هغوی اجتهادات هم دې باندې الزامي نه دي.

امام ابن مازة الحنفي البخاري همدا خبره کوي، وايي: «**فإذا شاورهم، واتفق رأيه ورأيهم على شيء، حكم به؛ لأنه لما اتفق رأيه ورأيهم صار ذلك كالإجماع، والإجماع من جملة الحجج، وإن وقع الاختلاف بين هؤلاء الذين شاورهم، نظر إلى أقرب الأقاويل عنده من الحق، وأمضى على ذلك باجتهاده، إذا كان من أهل الاجتهاد، ولا يعتبر في ذلك كبر السن، ألا ترى أن عمر رضي الله عنه كان شاور ابن عباس رضي الله عنهما، وكان يقول له: «غص يا غوّاص»، وكان يأخذ بقوله وعمر كان أكبر سناً منه، وكذلك لا يعتبر كثرة العدد، فالواحد قد يوفق للصواب ما لا يوفق الجماعة، ... وينبغي أن يكون ههنا قول أبي حنيفة رحمه الله، أما على قول محمد رحمه الله يعتبر كثرة العدد على ما مر قبل هذا، وإن لم يقع اجتهاده على شيء، وبقيت الحادثة مختلفة ومشكلة عليه، كتب إلى فقهاء غير المصر الذي هو فيه،... فإن اتفق الذين كتب إليهم القاضي على شيء ورأي القاضي يوافق رأيهم، وهو من أهل الرأي والاجتهاد، مضى ذلك برأيه، وإن اختلفوا أيضاً فيما بينهم نظر إلي أقرب الأقوال عنده من الحق، إذا كان من أهل الاجتهاد**»[86]. کله يې چې مشوره وکړه او د قاضي او حاکم نظر او رأي د مشوره ورکوونکو مجتهدینو سره یو شانته و، نو حاکم باید د هماغې نظر پر بنسټ پرېکړه وکړي، ځکه کله چې د دوی ټولو نظر سره یو شانته شو، نو دا د اجماع حیثیت لري او اجماع شرعي دلیل دی، خو که د دوی (چا سره يې چې مشوره کړې وي) ترمنځ اختلاف رامنځته شوبیا دې د دوی په نظریاتو کې چې کوم ورته حق ته نږدې ښکاره شو هماغه دې د خپل اجتهاد پر بنسټ غوره کړي او پرېکړه دې پرې وکړي، که د اجتهاد اهلیت په کې و، په دې کې د مشرولۍ اعتبار نشته (یعنې که له ده سره څوک مخالف و او د هغه عمر له ده څخه زیات و، هغه ته به نه ګوري، بلکې په خپل اجتهاد به عمل کوي) حضرت عمر رضي الله عنه د ابن عباس رضي الله عنهما سره مشوره کوله او ورته يې ويل: (غص یا غواص)[87] او د هغه مشوره به يې منله او عمر رضي الله عنه د هغه څخه په عمر کې زیات و، همدا راز د شمېر زیاتوالي ته هم اعتبار نشته (چې که یو لور ته زیات شمېر کسان وي هغه ته دې ترجیح ورکړي، داسې به نه کوي) ځکه ځینې وخت یو شخص ته الله پاکحق ته د رسېدو توفیق ورکوي چې ډېرو ته يې نه ورکوي. په کار دا ده چې دا د امام ابو حنیفه مذهب وي او د امام محمد په مذهب د شمېر زیاتوالي ته اعتبار شته (په کثرت باندې ترجیح درست کار دی) لکه مخکې يې چې یادونه وشوه. که حاکم او قاضي د خپل اجتهاد په پایله کې کومې پایلې ته ونه رسېدل او مسئله همداسې ناڅرګنده او اختلافي پاتې شوه، نو د نورو ښارونو او سیمو علماوو ته دې خط ولیږي (د نورو سیمو د علماوو سره دې مشوره وکړي، مخکې د دې مشورې یوازینۍ لاره د خط لېګل و، اوس خو بې شمېره لارې دي) که هغوی ورته اتفاقي درېځ راولېږه او د قاضي نظر هم د هغوی سره یو شانته و او ده پخپله د اجتهاد اهلیت درلود (مجتهد و) نو د خپل اجتهاد پر بنسټ دې په همدې اتفاقي نظر پرېکړه وکړي او که د نورو سیمو علماوو ورسره هم اختلاف درلود، نو بیا دې د هغوی د مذهبونوڅخه هغه مذهب غوره کړي چې د ده له نظره حق ته ډېر نږدې وي، خو په دې شرط چې دا قاضي، حاکم او مجتهد وي.

---

[85] - د دې قضیې تفصیل وروسته راځي، کثرت ته عدم اعتبار په مطلق ډول امام ابو حنیفه رحمه الله ته منسوبول صحیح نه دي، په ځانګړې توګه په غیر مجتهدینو کې کثرت د تقویت لامل ګرځي، ځکه د غیر مجتهد قول مستقل دلیل نه دی، او کله چې کثرت د تقویت لامل وګرځي په هغه ځای کې کثرت ته اعتبار شته دی.

[86] - المحيط البرهاني في الفقه النعماني، برهان الدين ابن مازة، مخکینی مصدر. ج ۸ ص ۱۲.

[87] - غوّاص، په بحر او اوبو کې غوپه وهونکي ته وايي، یعنې د معناګانو په بحر کې غوپه وهونکیه ژور په کې ولاړ شه.

د دې لنډيز دا دی چې مجتهد مشوره اخيستونکی د مشورې په پايلو ملزم نه دی، يعنې شورا د دې لپاره ملزمه نه ده، خو د دې مفهوم مخالف دا دی چې غير مجتهد د شورا په پايلو ملزم دی، او مفهوم مخالف د احنافو له نظره په شرعي نصوصو کې حجت نه دی، د نصوصو څخه پرته په نورو ځايونو کې حجت ګڼل کېږي، د مجتهد لپاره د شورا پايلې ملزمې نه دي ځکه په اصول فقه کې چې د جمهورو علماوو کوم مذهب بيانېږي هغه دا دی چې مجتهد ته د بل چا تقليد کول جواز نه لري، نو که دا مشوره اخيستونکی مجتهد خپل نظر پرېږدي او د نورو مجتهدينو نظر واخلي، نو دا به د هغوی تقليد کول وي چې دا کار درست نه دی، همدا خبره لږ وروسته په صراحت سره کوي، وايي: «**وإن كان القاضي شاور قوماً من أهل الفقه، فاتفقوا على شيء، ورأي القاضي بخلاف رأيهم، لا ينبغي للقاضي أن يترك رأي نفسه، ويقضي برأيهم، لأن عنده أن هؤلاء على الخطأ، ولا متابعة في الخطأ**»[88]. که قاضي (چې مجتهد وي) د فقهاوو (مجتهدينو) سره مشوره وکړه او هغوی په يو حکم باندې متفق شول او پخپله د قاضي نظر د هغوی د نظر خلاف و، نو قاضي ته په کار نه ده چې خپل نظر پرېږدي او د هغوی په نظر پرېکړه وکړي، ځکه د هغه له نظره د هغه مخالف نظر درلودونکي په خطا باندې دي او په غلطۍ کې د چا پسې تګ نشته.

همدا خبره له ده څخه دمخه نور ټول فقهاء کوي، په دوی کې د امام سرخسي دا عبارت لولو، هغه وايي:«**فَإِنْ أَشْكَلَ عَلَيْهِ شَاوَرَ رَهْطًا مِنْ أَهْلِ الْفِقْهِ فِيهِ، وَكَذَلِكَ إنْ لَمْ يَكُنْ مِنْ أَهْلِ الِاجْتِهَادِ فَعَلَيْهِ أَنْ يُشَاوِرَ الْفُقَهَاءَ، لِأَنَّهُ يَحْتَاجُ إلَى مَعْرِفَةِ الْحُكْمِ لِيَقْضِيَ بِهِ، وَقَدْ عَجَزَ عَنْ إدْرَاكِهِ بِنَفْسِهِ فَلْيَرْجِعْ إلَى مَنْ يَعْرِفُ ذَلِكَ كَمَا إذَا احْتَاجَ مَعْرِفَةَ قِيمَةِ شَيْءٍ فَإِنْ اخْتَلَفُوا فِيهِ نَظَرَ إلَى أَحْسَنِ أَقَاوِيلِهِمْ وَأَشْبَهِهَا بِالْحَقِّ فَأَخَذَ بِهِ كَمَا بَيَّنَّا عِنْدَ اخْتِلَافِ الصَّحَابَةِ - رِضْوَانُ اللَّهِ عَلَيْهِمْ - إلَّا أَنَّ هُنَا إنْ رَأَى خِلَافَ رَأْيِهِمْ فَإِنْ اسْتَحْسَنَ وَأَشْبَهَ الْحَقَّ قَضَى بِذَلِكَ؛ لِأَنَّ إجْمَاعَهُمْ لَا يَنْعَقِدُ بِدُونِ رَأْيِهِ وَهُوَ وَاحِدٌ مِنْهُمْ، وَلِأَنَّ رَأْيَهُ أَقْوَى فِي حَقِّهِ مِنْ رَأْيِ غَيْرِهِ فَلَوْ قَضَى بِرَأْيِهِ كَانَ قَاضِيًا بِمَا هُوَ الصَّوَابُ عِنْدَهُ. وَإِذَا قَضَى بِرَأْيِ غَيْرِهِ كَانَ قَاضِيًا بِمَا عِنْدَهُ أَنَّهُ خَطَأٌ وَقَضَاؤُهُ بِمَا عِنْدَهُ أَنَّهُ هُوَ الصَّوَابُ أَوْلَى، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مِنْ أَهْلِ اجْتِهَادِ الرَّأْيِ لِيَخْتَارَ بَعْضَ الْأَقَاوِيلِ نَظَرَ إلَى أَفْقَهِهِمْ عِنْدَهُ وَأَوْرَعِهِمْ فَقَضَى بِفَتْوَاهُ فَهَذَا اجْتِهَادٌ مِثْلُهُ وَلَا يُعَجِّلُ بِالْحُكْمِ إذَا لَمْ يَبِنْ لَهُ الْأَمْرُ حَتَّى يَتَفَكَّرَ فِيهِ وَيُشَاوِرَ أَهْلَ الْفِقْهِ؛ لِأَنَّهُ مَأْمُورٌ بِالْقَضَاءِ بِالْحَقِّ وَلَا يَسْتَدْرِكُ ذَلِكَ إلَّا بِالتَّأَمُّلِ وَالْمَشُورَةِ......**»[89].

که حاکم او قاضي ته کومه مسئله واضحه او ښرګنده نه وه، نو د فقهاوو د يو جماعت سره دې مشوره وکړي، همدا راز که قاضي او حاکم مجتهد نه و په هغوی هم د فقهاوو (مجتهدينو) سره مشوره لازم ده، ځکه دا غير فقيه حاکم او قاضي د مسئلې د حکم پېژندلو ته اړتيا لري، تر څو د هغه سره سمه پرېکړه وکړي او پخپله د مسئلې د حکم د درک کولو څخه عاجز دی، نو بايد چې داسې چا ته رجوع وکړي چې په دې حکم پوهېږي، بالکل د هغه چا په څېر چې د يو شي قيمت ورته معلوم نه وي، نو هغه چا ته مراجعه کوي چې د هغه په قيمت پوهېږي.

که دې فقهاوو (مجتهدينو) په خپلو کې سره اختلاف درلود، (او دا قاضي يا حاکم پخپله هم مجتهد او فقيه و) نو د دې مجتهدينو په نظرونو کې دې تر ټولو غوره او حق ته ډېر نږدې نظر انتخاب کړي او د هماغې پر بنسټ دې پرېکړه وکړي، لکه مخکې مو چې د صحابه کرامو د اختلاف په ضمن کې د دې يادونه وکړه.

خو که دې قاضي او حاکم (چې مجتهد وي) داسې نظر غوره کړ چې د دې مشوره ورکوونکو مجتهدينو د ټولو د نظر سره مخالف و او هغه يې د حق سره ډېر نږدې وګاڼه، نو په همدې (خپل نظر) دې پرېکړه وکړي، ځکه د دې مجتهدينو اجماع له دې (قاضي او حاکم) پرته نه منعقد کېږي، ځکه دا پخپله همد دوی (مجتهدينو) له جملې څخه دی، بله دا چې د ده خپل

---

[88] - المحيط البرهاني في الفقه النعماني مخکينی مصدر ج ۸ ص ۱۳.

[89] - المبسوط، للامام السرخسي، مخکينی مصدر ج ۱٦ ص۸۴.

نظر د دې په حق کې د نورو مجتهدینو د نظرونو څخه ډېر قوي دی، نو کله چې په خپل نظر پرېکړه کوي، نو په هغه نظر به يې پرېکړه کړې وي چې د ده له نظره حق او صحيح دی او که د نورو مجتهدینو په مذهب پرېکړه وکړي، نو په دې حالت کې به يې په داسې مذهب پرېکړه کړې وي چې د ده له خپل نظره هغه خطا او غلط دی، نو کوم مذهب چې د ده له نظره صحيح دی په هغه باندې ورته پرېکړه بهتره او ښه ده او که دا حاکم او قاضي مجتهد نه و او مشوره او فتوا ورکوونکي مجتهدين وو، نو بيا د هغوی څخه د هغه چا مذهب او نظر غوره کړي چې دده له نظره ډېر فقيه او ډېر تقوا لرونکی وي او د هغه په فتوا دې پرېکړه وکړي، ځکه همدا د غير مجتهد اجتهاد بلل کېږي، خو تر هغه وخته پورې به په پرېکړه کې عجله نه کوي تر څو چې ورته مسئله بالکل واضحه شوي نه وي، تر څو په مسئله کې ښه فکر وکړي او د مجتهدینو فقهاوو سره مشوره وکړي، ځکه حاکم او قاضي په حق باندې په پرېکړه کولو مأمور دی او حق ته د تفکر او مشورې پرته رسيدل ممکن نه دي.

د امام سرخسي رحمه الله عبارت په دې اړه بالکل واضح دی چې د مشورې او فتوا د عدم الزاميت حکم د هغه فقيه او مجتهد لپاره دی چې پخپله د اجتهاد توان لري او په شرعي توګه د خپل اجتهاد له لارې صحيح او غلط سره جدا کولی شي او هغه حاکم او قاضي چې د اجتهاد توان نه لري هغه د تقليد څخه پرته بله لار نه لري، هغه هم بايد د مجتهدينو فقهاوو سره مشوره وکړي او د هغوی له نظرونو څخه يو نظر غوره کړي او د هماغې سره سمه بايد پرېکړه وکړي او دا به د هغوي تقليد وي.

همدا خبره علاء الدين کاساني هم کوي، چې د فقهاوو او مجتهدينو د شورا پايلې هغه چا باندې لازمي نه دي چې هغه پخپله مجتهد وي، که څوک مجتهد نه وي د هغه حکم دا نه دی، د هغه حکم تقليد دی، هغه وايي: «**وَإِنْ أُشْكِلَ عليه حُكْمُ الْحَادِثَةِ اسْتَعْمَلَ رَأْيَهُ في ذلك وَعَمِلَ بِهِ وَالْأَفْضَلُ أَنْ يُشَاوِرَ أَهْلَ الْفِقْهِ في ذلك فَإِنْ اخْتَلَفُوا في حُكْمِ الْحَادِثَةِ نَظَرَ في ذلك فَأَخَذَ بِمَا يُؤَدِّي إلَى الْحَقِّ ظَاهِرًا وَإِنْ اتَّفَقُوا على رَأْيٍ يُخَالِفُ رَأْيَهُ عَمِلَ بِرَأْيِ نَفْسِهِ أَيْضًا لِأَنَّ الْمُجْتَهِدَ مَأْمُورٌ بِالْعَمَلِ بمَا يُؤَدِّي إلَيْهِ اجْتِهَادُهُ فَحَرُمَ عليه تَقْلِيدُ غَيْرِهِ لَكِنْ لَا يَنْبَغِي أَنْ يُعَجِّلَ بِالْقَضَاءِ ما لم يَقْضِ حَقَّ التَّأَمُّلِ وَالِاجْتِهَادِ وَيَنْكَشِفُ له وَجْهُ الْحَقِّ فإذا ظَهَرَ له الْحَقُّ بِاجْتِهَادِهِ قَضَى بِمَا يُؤَدِّي إلَيْهِ اجْتِهَادُهُ... هذا إذَا كان الْقَاضِي من أَهْلِ الِاجْتِهَادِ فَأَمَّا إذَا لم يَكُنْ من أَهْلِ الِاجْتِهَادِ فَإِنْ عَرَفَ أَقَاوِيلَ أَصْحَابِنَا وَحَفِظَهَا على الِاخْتِلَافِ وَالِاتِّفَاقِ عَمِلَ بِقَوْلِ من يَعْتَقِدُ قَوْلَهُ حَقًّا على التَّقْلِيدِ وَإِنْ لم يَحْفَظْ أَقَاوِيلَهُمْ عَمِلَ بِفَتْوَى أَهْلِ الْفِقْهِ في بَلَدِهِ من أَصْحَابِنَا**»[90].

که ورته د کومې مسئلې حکم واضح او څرګند نه و، نو پخپله دې اجتهاد وکړي او په هغه دې عمل وکړي او غوره خبره دا ده چې د فقهاوو (مجتهدينو) سره په دې اړه مشوره وکړي، که د هغوی نظرونو او مذهبونو په خپلو کې سره توپير درلود، نو (مجتهد) قاضي او حاکم د خپل اجتهاد پر بنسټ هغه څه غوره کړي چې په راجحه توګه حق ته نږدې وي او که هغوی (مشوره کوونکي مجتهدين) په يو داسې نظر او مذهب متفق وو چې د دې قاضي او حاکم نظر د هغه خلاف و، نو په دې حالت کې به هم دا مجتهد قاضي او حاکم په خپل نظر او خپل مذهب پرېکړه کوي، ځکه دا په دې مأمور دی چې د خپل اجتهاد په پايلو عمل وکړي، نو د بل چا تقليد ورته حرام دی، خو دا ورته په کارنه ده چې په پرېکړه کولو کې عجله وکړي تر څو يې چې پوره فکر نه وي کړی، په بشپړ ډول يې اجتهاد نه وي کړی او حق ورته پوره نه وي څرګند شوی (پرېکړه به نه کوي) او کله چې ورته د خپل اجتهاد په پايله کې حق څرګند شو بيا دې د خپل اجتهاد د پايلو سره سمه پرېکړه وکړي، خو دا ټولې خبرې په دې حالت کې دي چې قاضي د اجتهاد اهليت ولري، خو که د اجتهاد اهليت يې نه درلود، نو که زموږ د

[90] - بدائع الصنائع ج ٧ ص ٥. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، تأليف: علاء الدين، أبو بكر بن مسعود الكاساني الحنفي الملقب بـ «بملك العلماء» (ت 587 هـ)، دار الكتب العلمية، بيروت، لبنان، لومړی چاپ، کال 1327 - 1328 هـ. ج ٧ ص ٥.

فقهاوو (حنفي مذهب د امامانو) اقوال ورته معلوم وو او دا يې حفظ و چې په څه کې دوی اتفاق لري او په څه کې اختلاف، نو په دې حالت کې دې د تقليد په توگه په هغه قول عمل وکړي چې دې ته حق ښکاري او که د حنفي مذهب د امامانو اقوال يې حفظ نه وو، نو بيا دې د حنفي مذهب د فقهاوو (اهل فقه) په فتوا باندې عمل وکړي.

دا خو څرگنده شوه چې که په هغه وخت کې مجتهدين اهل فقه موجود وو، نو د هغوی په فتوا به عمل وکړي، خو که په هغه زمانه کې داسې فقهاوو شتون نه درلود، لکه په دې زمانه کې بيا به څه کوي، همدا راز که داسې مسئلې را پېښې شوې چې د فقهي په کتابونو کې نه دي څېړل شوي او نه يې په اړه په حنفي مذهب کې او نه په کوم بل فقهي مذهب کې احکام شتون لري او نه تر څېړنې لاندې نيول شوي وي، نو د دې ډول مسئلو په اړه به څه تگلاره غوره کوي، لکه په داسې حال کې قرار ولري چې موږ په کې قرار لرو؟ په دې اړه زموږ د فقهې مراجع ډېر بحث نه لري، موږ به دا حالات لږ وروسته بحث کړو.

**مجتهد هم په يو صورت کې د شورا په پايلو ملزم بلل کېږي.**

دا زموږ د فقهاوو عام نظر دی چې که حاکم مجتهد وي، نو په خپل نظر به پرېکړه کوي د شورا په پايلو ملزم نه دی، خو که مجتهد حاکم د خپل نظر په اړه په تردد کې واقع وي او يا هم نور فقهاء داسې وو چې د هغه له نظره د دليل، حجت او قياس په ډگر کې د هغه په نسبت قوي او غښتلي و، نو بيا ورته د خپل نظر څخه تنازل په کاردی او د نورو فقهاوو په خبره عمل په کاردی، په دې اړه امام محمد بن حسن شيباني د امام ابو حنيفه مذهب داسې نقل کوي، وايي:

**«قلت: وتحب للقاضي إذا أشكل عليه الشيء أن يسأل عنه من هو أفقه منه؟ قال: نعم، أحب له ذلك، ولا يسعه إلا ذلك. قلت: أرأيت إذا أشار عليه الذي هو أفقه منه في نفسه بقضاء، وكان ذلك القضاء عند القاضي خطأ، وكان رأي القاضي غير ذلك، ورأيه عنده الصواب، هل ينظر إلى رأي غيره وهو يعلم أن ذلك الرجل أفقه منه؟ فقال: يقضي بقوله وبالذي أبصر من ذلك. قلت: أرأيت إن كان اتهم رأيه لفضل علم ذلك الرجل الذي هو أفقه منه في نفسه، فقضى بقول ذلك العالم وترك رأيه، هل ترجو أن يكون في سعة من ذلك؟ قال: نعم، هذا موسع عليه»**[91].

ما د امام ابو حنيفه رحمه الله نه پوښتنه وکړه چې د قاضي لپاره ته دا خوښوې چې د کومې مسئلې حکم ورته څرگند نه وي، چې د داسې چا څخه پوښتنه وکړي چې له هغه څخه د فقاهت او علم په لحاظ زيات او قوي وي؟ وه يې ويل: هو، دا ورته زه خوښ گڼم، بلکې له دې پرته بله چاره نه لري، همدا کار بايد وکړي، ورته مې وويل: که هغه سړی چې له ده څخه زيات فقيه دی، ده ته د داسې پرېکړې مشوره ورکړه چې هغه پرېکړه او حکم پخپله د دې قاضي له نظره غلط و او د دې قاضي نظر د هغه د مشورې سره يو شانته نه و او خپل نظر ته يې د صحيح نظر په سترگه کتل، نو په دې حالت کې د هغه بل چا نظر مني په داسې حال کې چې دا پوهېږي چې هغه ترې ډېر فقيه دی؟ نو امام ابو حنيفه وويل: په خپل نظر دې پرېکړه وکړي او په هغه څه چې هغه ته صحيح معلومېږي. ما وويل: که د هغه بل عالم چې له ده څخه زيات فقيه دی، د هغه د علم د فضيلت له امله د خپل نظر په اړه شکمن شو او د هغه په نظر يې پرېکړه وکړه او خپل نظر يې پرېښوده، ايا دا کار به ورته جواز ولري؟ امام ابو حنيفه رحمه الله وويل: هو، دا کار ورته جواز لري.

د امام محمد بن حسن شيباني خبره واضحه او څرگنده ده، که حاکم مجتهد وي او د نورو علماوو او مجتهدينو د نظر په مقابل کې په خپل نظر يو څه شکمن وي، نو خپل اجتهادي نظر هم بايد پرېږدي او د نورو نظر غوره کړي، نو دا هغه حالت دی چې مجتهد هم په کې د شورا په پايلو د امام ابو حنيفه له نظره ملزم دی.

[91] الأصل چې په د امام محمد په مبسوط باندې شهرت لري، د امام محمد بن حسن شيباني ، مخکينى مصدر. ج ۷ ص ۱۹۰-۱۹۱.

همدا خبره په لنډ عبارت کې علاء الدين حصکفي کوي، هغه وايي: «**وَإِذَا أَشْكَلَ عَلَيْهِ أَمْرٌ وَلَا رَأْيَ لَهُ فِيهِ شَاوَرَ الْعُلَمَاءَ وَنَظَرَ أَحْسَنَ أَقَاوِيلِهِمْ وَقَضَى بِمَا رَآهُ صَوَابًا لَا بِغَيْرِهِ إلَّا أَنْ يَكُونَ غَيْرُهُ أَقْوَى فِي الْفِقْهِ وَوُجُوهِ الِاجْتِهَادِ فَيَجُوزُ تَرْكُ رَأْيِهِ بِرَأْيِهِ ثُمَّ قَالَ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مُجْتَهِدًا فَعَلَيْهِ تَقْلِيدُهُم وَاتِّبَاعُ رَأْيِهِمْ فَإِذَا قَضَى بِخِلَافِهِ لَا يَنْفُذُ حُكْمُهُ**»[92].

که د کومې مسئلې حکم ورته ځرګند نه و، نو د علماوو سره دې مشوره وکړي او (که مجتهد و) نو د هغوی په مذهبونواو اقوالو کې دې فکر وکړي هر یو یې چې په نظر سم او صحیح و د هماغې سره سمه دې پرېکړه وکړي، په بل څه به پرېکړه نه کوي، خو که بل څوک (چې دې ته یې مشوره ورکړې وي) په فقه او د اجتهاد په طریقو کې له ده څخه قوي او غښتلی و، نو په دې صورت (که مجتهد هم وي) خپل نظر ورته د هغه قوي فقیه د نظر په مقابل کې پرېښودل جایز دي، بیا وایي: که حاکم مجتهد نه و، نو هغه ته د مشوره ورکوونکو (چې مجتهدين دي) تقلید په کاردی او د هغوی نظر غوره کول په کاردي، که د هغوی د نظر څخه یې خلاف پرېکړه وکړه، پرېکړه نافذه نه ده.

همدا خبره ناصر الدين ابو القاسم الحسيني السمرقندي (ت ۵۵٦هـ ق) په خپل کتاب الملتقط کې کوي، وايي: " **وإذا أشكل على القاضي أمر، ولم يكن فيه رأي فعليه أن يشاور العلماء ثم ينظر إلى أحسن أقاويلهم وقضى بما يراه صوابا، و لا يقضي بما لا يراه صوابا إلا أن يكون غيره أقوى في الفقه ووجوه الاجتهاد فيجوز ترك رأيه...و هذا كله إذا كان من أهل الاجتهاد و إن لم يكن منه فعليه تقليد الفقهاء واتباع رأيهم، فإذا قضى بخلافه لا ينفذ حكمه**"[93].

که قاضي ته د يوې مسئلې حکم نا ځرګند شو او هغه په کې کوم نظر نه درلوده، نو ورته په کاردي چې د علماوو سره مشوره وکړي، بيا دې د هغوی د نظرونو څخه تر ټولو ښه نظر انتخاب کړي او څه چې ورته صحيح ښکاره شي پرېکړه دې پرې وکړي، یوازې په هغه نظر به پرېکړه کوي چې هغه ورته پخپله د حق او صحیح په سترګه ګوري، خو که بل فقيه له هغه څخه په فقه او د اجتهاد په طريقو کې قوي وي، نو بيا قاضي خپل نظر پرېښودلی شي. دا ټولې خبرې په هغه حالت کې دي چې قاضي مجتهد وي او که مجتهد نه و، نو بيا خو هغه د فقهاوو په تقليد او د هغوی د نظر په منلو ملزم دی او که د هغوی د نظر خلاف يې پرېکړه وکړه حکم يې نافذ نه دی.

ابن عابدين د حصکفي د عبارت په تشريح کې وايي: «**(قَوْلُهُ: إلَّا أَنْ يَكُونَ غَيْرُهُ) أَيْ إلَّا أَنْ يَكُونَ الشَّخْصُ الَّذِي أَفْتَاهُ أَقْوَى مِنْهُ، فَيَجُوزُ لَهُ أَنْ يَعْدِلَ عَنْ رَأْيِ نَفْسِهِ إلَى رَأْيِ ذَلِكَ الْمُفْتِي لَكِنْ هَذَا إذَا اتَّهَمَ رَأْيَ نَفْسِهِ**»[94]. ابن عابدين د الدر المختار د دې عبارت (چې که مشوره ورکوونکی له هغه څخه په علم او د اجتهاد په طريقو کې زيات پوهېده، نو بيا خپل نظر پرېښودلی شي او د هغه عالم نظر اخيستلی شي، سره له دې چې دا مجتهد هم وي) د دې قول په تشريح کې دومره اضافه کوي چې دا يوازې هغه وخت کولی شي چې د خپل نظر په اړه شکمن شي او مرجوح ورته ښکاره شي، خو که مرجوح ورته ښکاره نه شي، نو بيا به په خپل نظر پرېکړه کوي.

### درېیم حالت: چې حاکم مجتهد نه وي او مشوره ورکوونکي مجتهدين وي

درېيم حالت هغه حالت دی چې حاکم او قاضي غير مجتهدين وي او مشوره ورکوونکي مجتهدين وي، نو په دې حالت کې خو هيڅ اشکال نشته، ځکه په دې حالت کې د هغه مجتهدينو مشوره منل په دې حاکم لازم دي او د شورا په پايلو ملزم دی او که دا غير مجتهد حاکم او قاضي د هغوی نظر او مشوره ونه مني او د شورا پايلې تسليم نه کړي، نو حکم او

---

[92] - رد المحتار على الدر المختار شرح تنوير الأبصار، مخکینی مصدر، ج ۵ ص ۳٦۲.

[93] - الملتقط في الفتاوى الحنفية ص 367. تأليف: الإمام ناصر الدين أبو القاسم محمد بن يوسف الحسيني السمرقندي المتوفى عام 556هـ ق، تحقيق: محمود نصار و السيد يوسف أحمد، من منشورات محمد علي بيضون، دار الكتب العلمية، بيروت، لبنان، لومړی چاپ کال ۱۴۲۰هـ ق ۲۰۰۰م.

[94] - رد المحتار على الدر المختار شرح تنوير الأبصار، مخکینی مصدر. ج ۵ ص ۳٦۱.

پرېکړه يې مردوده ده او د منلو وړ نه ده، دا مو د حصكفي، ناصر الدين السمرقندي او نورو په دې مخکښنیو عبارتونو کې هم ولوستل او دلته هم یو څو عبارتونه د فقهاوو نقل کوم.

د مختصر الطحاوي په شرحه کې امام جصاص رازي وايي: «**مسألة: قال أبو جعفر: (فإن أشكل عليه: شاور رهطًا من أهل الفقه، ثم نظر إلى أحسن أقاويلهم، وأشبهها بالحق، فقضى به). وذلك لقول الله تعالى: {وشاورهم في الأمر}. وقال: {وأمرهم شورى بينهم}. وقال: {فبشر عباد (17) الذين يستمعون القول فيتبعون أحسنه}. مسألة: قال أبو جعفر: (وإن رأى خلاف رأيهم أحسن وأشبه بالحق: قضى به). قال أحمد: هذا على شريطة أن يكون القاضي من أهل الاجتهاد، وعالمًا بطريق القياس ووجوهه، فيكون كواحد منهم، يجوز له أن يخالف عليهم إذا رأى ذلك. فأما إن كان غير عالم بالفقه، وطرق الاجتهاد والقياس: فغير جائز له مخالفتهم جميعًا، بل عليه أن يجتهد حينئذ في تقليد أوثقهم في نفسه، وأعلمهم عنده، مثل العامي إذا نزلت به نازلة**»[95].

که کومه مسئله ورته مشکله او ناڅرګنده وه، د فقهاوو او مجتهدينو د يو جماعت سره دې مشوره وکړي، بيا دې د هغوی د اقوالو څخه درست او د حق سره نږدې مذهب انتخاب کړي او د هغه پر بنسټ دې پرېکړه وکړي، د دې يادو ايتونو په استناد. مسئله: امام طحاوي وايي: که نظر يې دا وه چې د هغه خپل نظر بهتر او د حق سره ډېر نږدې دی، نو په هغه خپل نظر به پرېکړه کوي. امام جصاص رازي وايي: دا په دې شرط چې دا قاضي مجتهد وي او د قياس په طريقو او علتونو باندې عالم وي، نو له دې امله چې دا هم يو مجتهد دی، نو دې لپاره دا روا ګرځي چې د هغوی (مجتهدينو) مخالفت وکړي که نظر يې د هغوی خلاف وي، خو که فقيه نه و او د اجتهاد او قياس په طريقو بلد نه و، د هغوی ټولو سره مخالفت ورته جواز نه لري، بلکې هغه ته په دې کې اجتهاد په کاردی چې د هغوی له جملې څخه د يو داسې چا په تقليد کولو کې کوښښ وکړي چې هغه پخپله ثقه عالم وي او دده له نظره تر ټولو زيات عالم وي، ځکه دا په دې حالت کې د عامي په څېر دی چې کله ورته کومه مسئله را پېښه شي (لکه هغه چې تقليد کوي دا يې هم بايد وکړي).

همدا خبره برهان الدين ابن مازة البخاري هم کوي، وايي: «**وإن لم يكن القاضي من أهل الاجتهاد في هذه الصورة، وقد وقع الاختلاف بين أهل الفقه، أخذ بقول من هو أفقه وأورع عنده كذا هنا، لأنه بمنزلة العامي والعامي إذا استفتى في حادثة، وقد وقع الاختلاف فيما بين الفقهاء، أخذ بقول من هو أفقه عنده، كذا هنا**»[96].

که قاضي او حاکم مجتهدين نه و او د هغه فقهاوو (مجتهدينو) ترمنځ اختلاف واقع شو چې دوی ته مشوره ورکوي، نو دا قاضي او حاکم بايد د داسې چا په خبره عمل وکړي چې ډېر فقيه او ډېر متقي وي، ځکه چې په دې حالت کې دا قاضي او حاکم د عامي انسان حيثيت لري او عادي انسان (چې مجتهد او فقيه نه وي) حکم دا دی چې کله د شرعي قضيې په اړه مشوره او فتوا وغواړي او د فقهاوو (مجتهدينو) تر منځ اختلاف واقع شي، نو هغه ته په کار دي چې د داسې چا په نظر عمل وکړي چې د ده له نظره ډېر فقيه وي، دلته هم بايد همداسې وشي.

په دې قضيه کې زموږ د فقهاوو څرګندونې او عبارتونه واضح او څرګند دي او همدا معقول دريځ هم دی، ځکه څوک چې د يوې مسئلې سره مخ شي او پخپله د دې توان ونلري چې د هغې شرعي مسئلې حکم معلوم کړی شي، نو حتماً به داسې چا ته رجوع کوي چې هغه پرې پوهېږي او که د هغې مسئلې د حکم په اړه څو مختلف او بېلابېل نظرونه راغلل، نو په دې حالت کې هغه بايد د دې نظرونو او مذهبونوترمنځ د ترجيح په لټه کې شي او د يو مطلق عامي لپاره يوازې همدا د

[95] - شرح مختصر الطحاوي، جصاص رازي، مخکينی مصدر، ج ۸ ص ۲۴.

[96] - المحيط البرهاني في الفقه النعماني، مخکينی مصدر. ج ۸ ص ۱۲-۱۳

ترجیح بنیاد کېدلی شي چې هغه نظر چې هغه یې باید غوره کړي د داسې چا نظر وي چې د هغه له نظره تر ټولو زیات عالم او متقي وي.

**څلورم حالت: چې حاکم هم غیر مجتهد وي او مشوره ورکوونکي هم**

دا هغه حالت دی چې نن ورسره په دې زمانه کې موږ مخامخ یو، په دې حالت کې نه مشوره اخیستونکی قاضي او حاکم مجتهد دی او نه مشوره ورکوونکي مجتهدین دي، په دې حالت کې په ډېرو مسئلو کې له مشورې پرته بله چاره نشته او مشوره هم الزامي ده، په دې اړه په الملتقط کې د ناصر الدین سمرقندي دا عبارت بالکل صریح دی چې په الدر المختار کې یې نقل کړی دی، په دې کې وایي: «**وَإِذَا أَشْكَلَ عَلَيْهِ أَمْرٌ وَلَا رَأْيَ لَهُ فِيهِ شَاوَرَ الْعُلَمَاءَ وَنَظَرَ أَحْسَنَ أَقَاوِيلِهِمْ وَقَضَى بِمَا رَآهُ صَوَابًا لَا بِغَيْرِهِ إلَّا أَنْ يَكُونَ غَيْرُهُ أَقْوَى فِي الْفِقْهِ وَوُجُوهِ الِاجْتِهَادِ فَيَجُوزُ تَرْكُ رَأْيِهِ بِرَأْيِهِ ثُمَّ قَالَ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مُجْتَهِدًا فَعَلَيْهِ تَقْلِيدُهُمْ وَاتِّبَاعُ رَأْيِهِمْ فَإِذَا قَضَى بِخِلَافِهِ لَا يَنْفُذُ حُكْمُهُ**»[97].

په دې عبارت کې خو په ښکاره دا یاد شوي چې که مشوره ورکوونکي علماء او مفتیان مجتهدین وي، خو ابن عابدین شامي وایي چې د مقلدو مفتیانو حکم هم همدا دی، یعنې که مشوره ورکوونکي خلک مجتهدین وي او که مقلدین وي، د هغوی مخالفت ورته جواز نه لري، ابن عابدین شامي وایي:«**قُلْت: وَهَذَا كُلُّهُ فِيمَا إذَا كَانَ الْمُفْتِيَانِ مُجْتَهِدَيْنِ وَاخْتَلَفَا فِي الْحُكْمِ، وَمِثْلُهُ يُقَالُ فِي الْمُقَلِّدِينَ فِيمَا لَمْ يُصَرِّحُوا فِي الْكُتُبِ بِتَرْجِيحِهِ وَاعْتِمَادِهِ أَوْ اخْتَلَفُوا فِي تَرْجِيحِهِ، وَإِلَّا فَالْوَاجِبُ الْآنَ اتِّبَاعُ مَا اتَّفَقُوا عَلَى تَرْجِيحِهِ أَوْ كَانَ ظَاهِرَ الرِّوَايَةِ أَوْ قَوْلَ الْإِمَامِ أَوْ نَحْوَ ذَلِكَ مِنْ مُقْتَضَيَاتِ التَّرْجِيحِ الَّتِي ذَكَرْنَاهَا فِي أَوَّلِ الْكِتَابِ وَفِي مَنْظُومَتِنَا وَشَرْحِهَا**»[98].

دا مخکې حکم په هغه صورت کې دی چې مفتیان (مشوره ورکوونکي) مجتهدین وي او فتواګانې یې متفاوتې وي، یعنې کله چې مقلد حاکم او یا عام انسان د مجتهدینو مفتیانو څخه فتوا (او مشوره) وغواړي او هغوی مختلفې فتواګانې(مشورې) ورکړي، نو باید چې د هغوی څخه د یو تقلید وکړي او که مفتیان (مشوره ورکوونکي) مقلدین هم وي باید چې همدا حکم وي، خو په هغه مسایلو کې چې د فقهې په کتابونو کې یې په ترجیح تصریح نه وي شوي او یا په ترجیح خو تصریح شوي وي، خو په ترجیح کې اختلاف نظر شتون لري او هغه مسئلې چې په هغوی کې فقهي قول شتون ولري، نو اوس په دې زمانه کې د عامي مستفتي لپاره او د غیر مجتهد قاضي لپاره په هغه قول عمل په کاردی چې په ترجیح باندې یې د مذهب علماوو اتفاق کړی وي او یا د ظاهر الروایة په کتابونو کې راغلی وي او یا د امام ابو حنیفة قول وي او همدا راز د ترجیح نور کوم اسباب چې دي د هغوی پر بنسټ باید عمل وشي کوم چې موږ د دې کتاب په پیل کې یاد کړي دي او پخپله منظومه (عقود رسم المفتي)[99] او د هغه په شرحه کې مو د هغې یادونه کړې ده.

د دې معنی دا شوه چې کومې مسئلې په فقهي کتابونو کې یادې شوي دي په هغوی کې دې د هغه ترجیح لپاره په هغه اصولو عمل وکړي چې بېلابېلو علماوو یې یادونه کړې ده او د او د ورستنیو زمانو د حالت سره سم یې تفصیل ابن عابدین شامي په خپله رساله (شرح عقود المفتي) کې یاد کړي دي، خو په اوسنۍ زمانه کې حاکم او مفتي د ځینو داسې مسئلو سره مخ کېږي چې د هغه تفصیلاتو لاندې نه راځي لکه ابن عابدین یې چې څه صورتونو ته په مخکې عبارت کې اشاره کړې ده چې وایي: « فِيمَا لَمْ يُصَرِّحُوا فِي الْكُتُبِ بِتَرْجِيحِهِ وَاعْتِمَادِهِ أَوْ اخْتَلَفُوا فِي تَرْجِيحِهِ» په دې او دې ډول نورو

[97] رد المحتار علی الدر المختار شرح تنویر الأبصار، مخکینی مصدر، ج ۵ ص ۳۶۱-۳۶۲.

[98] - همدا مصدر او همدا جلد او صفحه.

[99] - د دې رسالې په پیل کې همدا بحث دی، شرح عقود رسم المفتي، تألیف: خاتمة المحققین العلامة محمد أمین بن عمر بن عبد العزیز الشهیر بابن عابدین الشامي (ت 1252هـ ق)، چاپوونکې اداره: مکتبة البشری، کراچي، پاکستان، لومړی چاپ، کال ۱۴۳۰هـ ق ۲۰۰۹م. ص ۱۰، بیا وروسته ۳۲-۳۴.

حالاتو کې حاکم او قاضي سره له مشورې پرته بله لار نشته او بیا په هغه مشوره باندې د عمل کولو څخه پرته بله لار نشته، دا صورتونه دا لاندې کېدلی شي:

لومړی: هغه مسئلې چې په فقهي کتابونو کې اصلاً نه دي څېړل شوي، یا خو د هېواد د تنظیم اړوند اداري او د حکومتولۍ مسئلې دي، یا وقتي مسئلې دي چې باید په اړه یې د ګټې او زیان (مصلحت) پر بنسټ تصمیم ونیول شي، چې په دې کې هغه سیاسي او اداري مسئلې شاملې دي چې هر حکومت او نظام ورته د خپلو عادي کارونو په جریان کې اړتیا لري، لکه لوی اداري تصمیمونه، یا په ټاکلې زماني مقطع کې د یو هېواد سره د اړیکو جوړول یا ختمول، د حکومتولۍ بېلابېلې چارې او نور ډېر دا ډول کارونه.

دویم: هغه قطعي احکام چې عصري تطبیقات لري، شرطونه خو یې په کتابونو کې یاد شوي دي، خو په واقع کې د هغه د تنزیل لپاره څېړنې ته اړتیا ده، دا د پخوانیو کتابونو موضوع نه شي کېدلی، خو اوس یې په اړه احکام مشخص کول غواړي، لکه مخکې مو چې د شورا د ډګرونو په ضمن کې پرې بحث وکړ.

درېیم: هغه مسئلې چې فقهي نوازل دي او د فقهې په پخوانیو کتابونو کې نه دي څېړل شوي او نه یې څېړل ممکن وو، ځکه هغه داسې مسئلې دي چې پخوا یې شتون نه درلود. چې په دې کې د اضطراري حالاتو په اړه مسئلې هم شاملې دي، همدا راز هغه مسئلې چې د مصالحو او مصالحو، مفاسدو او مفاسدو او مصالحو او مفاسدو ترمنځ د موازنې پر بنسټ او یا هم د اولویتونو پر بنسټ هغه باید له سره وڅېړل شي او په اړه یې تصمیم ونیول شي.

څلورم: هغه مسئلې دي چې په فقهي کتابونو او په ځانګړي توګه په حنفي فقه کې څېړل شوي دي، خو په اړه یې په مذهب کې اختلاف وي او څو نظرونه یې په اړه شتون ولري او په مذهب کې د اهل ترجیح مشایخو له لورې په کې مفتی به قول نه وي متعین شوی او یا په مفتی به قول کې د مشایخو ترمنځ اختلاف شتون ولري.

پنځم: هغه مسئلې چې په اړه یې په حنفي مذهب کې څو قوله شتون ولري او په حنفي مذهب کې د اهل ترجیح مشایخو له لورې په کې مفتی به او راجح قول هم متعین شوی وي، خو د مفتی به قول د ترجیح سبب نص نه وي، بلکې مصلحت، مفسده او عرف او عادت وي، چې دا اسباب پخپله د بدلون وړ دي او په اړه یې موږ فقهي قاعده لرو چې «الفتوی تتغیر بتغیر الزمان والمکان»، د ترجیح د وجوهو د بدلون له امله دا مفتی به قول هم بدلون مومي او د اوسنیو حالاتو او ظروفو له امله لکه پخوانیو علماوو چې د ظاهر الروایة مسئلې له همدې امله پرې ایښې دي، اوس هم دا امکان لري چې دا مفتی به قول باید بدلون ومومي.

په دې او دې ته ورته صورتونو کې د غیر مجتهد حاکم او قاضي لپاره د مشورې او شورا پرته بله لار نشته، ځکه هغه پخپله مجتهد نه دی چې پخپله د دې قضیو حکم معلوم کړی شي، بل کوم مجتهد شتون نهلري چې هغه ته د مراجعې له لارې یې حکم معلوم کړی شي او د هغه تقلید وکړي، نو یوازې یوه لار پاتې کېږي او هغه د یو داسې مجلس سره مشوره کول دي چې په هغه کې د قضیو علم درلودونکي خلک را ټول شوي وي او بیا په هغه مشوره باندې عمل هم وکړي چې هغوی پرې متفق شي او که اتفاق ته ونرسېږي، نو د اکثریت په مشوره باید عمل وکړي، ځکه په دې حالت کې له دې پرته بله د ترجیح وجه نشته. لکه مخکې مو چې د الملتقط په عبارت کې ولوستل او د ابن عابدین شامي توضیح مو هم ولوسته، په دې اړه په مبسوط[100] کې د امام سرخسي رحمه الله وایي:«**وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مِنْ أَهْلِ اجْتِهَادِ الرَّأْيِ لِيَخْتَارَ بَعْضَ الْأَقَاوِيلِ نَظَرَ**

[100] - مبسوط په حنفي فقه کې د معتبر ترینو کتابونو څخه دی، د امام محمد بن الحسن رحمه الله د ظاهر الروایة شپږ کتابونه الحاکم الشهید په خپل مختصر کې چې (الکافي) یې ونوموه را مختصر کړل، او بیا د دې الکافي شرحه شمس الأئمة السرخسي چې مشهور فقیه او متکلم دی وکړه، دا کتاب د حنفي فقهې ډېر مهم مصدر دی، په دې اړه ابن عابدین په «شرح المنظومة المسماة بعقود رسم المفتي - ط إسطنبول» (ص20) کې وایي: «(قال) الشیخ إسماعیل النابلسي قال العلامة الطرسوسی: مبسوط السرخسی لا یعمل بما یخالفه ولا یرکن إلا إلیه ولا یفتی ولا یعول إلا علیه انتهی (وذکر) التمیمي في طبقاته اشعارا کثیرة في مدحه منها ما انشده لبعضهم:

**إلَى أَفْقَهِهِمْ عِنْدَهُ وَأَوْرَعِهِمْ فَقَضَى بِفَتْوَاهُ فَهَذَا اجْتِهَادٌ مِثْلُهُ وَلَا يُعَجِّلُ بِالْحُكْمِ إذَا لَمْ يَبِنْ لَهُ الْأَمْرُ حَتَّى يَتَفَكَّرَ فِيهِ وَيُشَاوِرَ أَهْلَ الْفِقْهِ؛ لِأَنَّهُ مَأْمُورٌ بِالْقَضَاءِ بِالْحَقِّ وَلَا يَسْتَدْرِك ذَلِكَ إلَّا بِالتَّأَمُّلِ وَالْمَشُورَةِ»**[101].

که قاضي او حاکم مجتهد نه و چې د اجتهاد په پایله کې یو نظر غوره کړی شي، نو بیا دې تقلید وکړي او د هغه چا قول دې غوره کړي چې د ده په نزد په فقه ډېره پوهه او ډېر تقوا لرونکی وي او په هماغې دې پرېکړه وکړي، ځکه دا د دې په څېر خلکو لپاره اجتهاد دی، خو تر څو چې ورته مسئله ښه نه وي څرگنده شوي په پرېکړه کې به عجله نه کوي، تر څو ښه فکر په کې وکړي او د فقهاوو سره مشوره په کې وکړي، ځکه هغه په حق باندې په پرېکړه کولو مأمور دی او دا کار د تدبر او مشورې پرته نه شي تر لاسه کېدلی.

نو دې حق ته د رسېدلو یوازینۍ لار فکر، تدبر او د فقهاوو او علماوو او پوهانو سره مشوره کول دي، حاکم او قاضي به پخپله هم تدبر او فکر کوي، خو دا یې باید د پوهانو سره د مشورې څخه مستغني نه کړي.

او کله چې مشوره وکړي، نو بیا باید په دې حالت کې مشوره ومني، ځکه دا مجتهد نه دی اود شورا او مشورې په پایلو ملزم نه بلل د مجتهدینو سره ځانګړی حکم دی، له همدې امله امام سرخسي رحمه الله هغه مشوره او شورا بې معنی ګڼي چې پایلې یې ملزمې نه وي، په مبسوط کې وایي: «**وأن من استشار أولى الرأي الكامل من الرجال فعليه أن يطيعهم إذا لم يتهمهم فيما أشاروا عليه؛ لأن فائدة المشورة لا تظهر إلا بالطاعة**»[102].

څوک چې د کامل نظر خاوندانو سره مشوره وکړي، نو هغه باندې بیا لازم دي چې د هغوی خبره ومني، که د ورکړې مشورې په اړه یې متهم نه ګڼل، (او د مشورې پایلې او پرېکړې منل لازم دي) ځکه چې د شورا د پایلو د منلو پرته په هغه کې کوم فایده نه ښکاري.

او له همدې امله امام محمد بن حسن شیباني په خپل اصل چې په مبسوط باندې شهرت لري دا ده حدیثونه یاد کړي دي، وایي: «**محمد عن أبي يوسف عن أبي بكر ابن عبد الله بن أبي مليكة عن عبد الله بن عبد الرحمن رفع حديثه إلى النبي صلى الله عليه وسلم قال: "من الحزم أن تستشير أولي الرأي ثم تطيعهم". محمد عن أبي يوسف عن علي بن أبي محمد عن عبد الرحمن بن يزيد رفعه إلى النبي صلى الله عليه وسلم قال: سأل النبي صلى الله عليه وسلم رجل: ما الحزم يا رسول الله؟ قال له: "أن ينظر الرجل إلى ذي رأي يستشيره ثم يطيعه"**»[103].

په لومړي حدیث کې وایي: د عقلمندۍ له جملې څخه دا خبره ده چې د نظر د خاوندانو سره مشوره وکړی او بیا د هغوی خبره ومنئ. او په دویم حدیث کې وایي: یو سړي د پیغمبر علیه السلام نه پوښتنه وکړه، ای د الله پیغمبره عقل څه ته وایي؟ پیغمبر علیه السلام ورته وویل: عقل دا دی چې انسان د نظر خاوند ولټوي ترڅو مشوره ورسره وکړي او بیا یې مشوره ومني.

کله چې په دې حالت کې مشوره وشي، نو له دې امله چې په دې حالت کې خو د تقلید خبره مطرح نه ده چې تر ټولو زیات فقیه او زیات پرهیزګاره انسان وګوي او د هغه تقلید وکړي، له دې امله دلته لاندې دوه صورتونه متحقق کېږي:

---

عليك بمبسوط السرخسي أنه ... هو البحر والدر الفريد مسائله

ولا تعتمد إلا عليه فإنه ... يجاب باعطاء الرغائب سائلُه» شیخ اسماعیل نابلسی وایي، علامه طرسوسي وایي: په هغه څه عمل کول درست نه دي چې د سرخسي د مبسوط د محتوا سره په ټکر کې وي، یوازې همدې ته باید پناه یوړلې شي، د فتوا او اعتماد یوازینی مرجع همدا ده. تمیمي په خپل کتاب الطبقات کې د مبسوط په مدحه کې ډېر اشعار ذکر کړي دي چې یو ده شعرونه یې د چا په لاندې ډول ذکر کړي دي: باید د سرخسي مبسوط ته مراجعه وکړی، هغه د علم بحر دی، او په هغه کې ذکر شوی مسئلې نادرې ملغلرې دي، له هغه پرته په بل کتاب اعتماد مه کوه، ځکه د هغه څخه غوښتونکي ته هغه څه ورکول کېږي چې هغه یې غواړي (رغبت په کې لري).

[101] - المبسوط، سرخسي، مخکینی مصدر. ج ١٦ ص ۸۴

[102] - المبسوط للسرخسي، مخکینی مصدر. ج ١٦ ص ۱۷۴.

[103] - الأصل، لمحمد بن الحسن، مخکینی مصدر. ج ١١ ص ۵۵۱.

لومړی صورت: چې ټول په یوه خبره متفق شي، په دې کې اشکال نشته، دا د ټولو له نظره ملزمه پرېکړه ده، که مشوره اخیستونکی مجتهد وي او که غیر مجتهد، مشوره ورکوونکي مجتهدین وي او که غیر مجتهدین، په دې ټولو حالتونو کې حاکم د شورا د پایلو په منلو ملزم دی.

دویم صورت: مشوره اخیستونکی هم غیر مجتهد وي او مشوره ورکوونکي هم غیر مجتهدین وي او ترمنځ یې په مسئلو کې اختلاف نظر رامنځته شي، دا حالت خو د تقلید حالت نه دی چې زموږ په فقهي مصادرو کې یاد شوی چې زیات فقیه او زیات متقي دې د تقلید لپاره انتخاب کړي، نو یوازې یو حالت پاتې کېږي چې هغه د هغه مجلس د اکثریت پرېکړه ده، ځکه په اکثریت باندې ترجیح ورکول په حنفي فقه کې یو بنسټیز اصل دی.

**د شورا په مجلس کې په اکثریت پرېکړه یو اصل دی**

یو شمېر هغه خلک چې د نصوصو څخه درست فهم نه لري په هغو عمومي نصوصو باندې استدلال کوي چې اکثریت ته اعتبار نشته، هغه نصوص چې په قرآن کې راغلي او اکثریت ته اعتبار نه ورکوي، په دې نصوصو کې چې کوم اکثریت له اعتبار څخه غورځول شوی دی دا هغه اکثریت دی چې د کفر په صورت کې د حق په مقابل کې ولاړ وي، یا هغه اکثریت مراد دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مقابل کې ولاړ وي، اوس دلته د دې قضیې د څېړنې فرصت نشته، خو کله چې د اسلامي امت په دننه کې د اکثریت او اقلیت خبره راشي په طبیعي توگه دا د ترجیح یوه بنسټیزه وسیله ده، د احنافو څخه پرته د نورو درې واړو مذهبونو له نظره په اتفاق سره اکثریت د ترجیح معیار دی او د هغوی سره د احنافو څخه صاحبین هم په همدې نظر دي، په عامه توگه د امام ابو حنیفه رحمه الله له نظره هم اکثریت (خو د لږ تفصیل سره چې وروسته به راشي) د ترجیح معیار گڼل کېږي له همدې امله موږ اجماع حجت گڼو او له همدې امله د خبر واحد او خبر متواتر ترمنځ په فرق باندې قائل یو، له همدې امله زموږ په فقهي تراث کې دا اکثریت د ترجیح د یوې بنسټیزې وجهې په توگه معرفي شوی دی.

د دې په اړه مشهور حنفي فقیه امام علاء الدین الکاساني وایي: «**وأمكن الترجيح بالكثرة نصا واعتبارا، أما النص فقول النبي صلى الله عليه وسلم «يد الله مع الجماعة»، وقوله «من شذ شذ في النار»، وقوله «كدر الجماعة خير من صفو الفرقة» . وأما الاعتبار فهو الاستدلال بالإمامة الكبرى حتى قال عمر رضي الله عنه في الشورى: إن اتفقوا على شيء وخالفهم واحد فاقتلوه**»[104].

په اکثریت باندې ترجیح ورکول (یا اکثریت د ترجیح معیار گڼل) په نص او قیاس دواړو باندې ثابت دي، نص خو د پیغمبر علیه السلام دا وینا ده چې فرمایي: (يد الله مع الجماعة) د الله تأیید او مرسته د جماعت سره ده او دا وینا چې فرمایي: (من شذ شُذ في النار) څوک چې د جماعت څخه جدا شو هغه به په اور کې واچول شي او دا چې فرمایي: (كدر الجماعة خير من صفو الفرقة) په اتفاق کې لږ مشکل تېرول د افتراق د ښه حالت څخه بهتر دی. او قیاس باندې هم ثابت دی چې دا په خلافت او امامت کبری باندې قیاس کړی شي، تر دې چې حضرت عمر رضي الله عنه د هغه شورا (چې د خلافت چاره یې د خپل شهادت څخه وروسته هغې ته سپارلې وه) وویل: که چېرته دوی په یو شي اتفاق وکړي او یو تن له دوی څخه د هغه مخالفت وکړي نو هغه ووژنئ.

د امام کاساني دا عبارت خو بالکل صریح او واضح دی او د امامت او خلافت او د هېواد د قیادت په اړه خو د هغه په نزد قضیه داسې ثابته ده چې هغه مقیس علیه گرځي او په نورو ځایونو کې باید په اکثریت باندې ترجیح په هغه قیاس کړی شي.

---

104 - بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع، ملك العلماء الکاساني، مخکینی مصدر. ج ۱ ص ۲۲۵.

په کثرت باندې ترجیح ورکول او په غیر منصوصي مسئلو کې د اکثریت نظر د ترجیح معیار ګرځول یو داسې اصل دی چې امام سرخسي یې د فقهې یو اصل ګڼي او د یوې فقهي مسئلې په ضمن کې د حنفي مذهب دا قاعده یادوي، وایي: «**فإنه نص هنا على الترجيح بالكثرة، وهو أصل في الفقه فإن للأكثر حكم الكمال**»[105]. الحاکم الشهید په الکافي کې دلته د کثرت پر بنسټ په ترجیح ورکولو تصریح کړې ده او دا (کثرت د ترجیح بنسټ ګڼل) په فقه کې یو اصل دی، ځکه اکثر د کامل په حکم کې وي.

خو په یو بل ځای کې یوې مهمې قاعدې ته اشاره کوي او هغه دا چې کثرت د ترجیح سبب هغه وخت ګرځېدلی شي چې په اصل کې دواړه دلیلونه په قوت کې په یوه کچه وي، د بېلګې په توګه که یو لور ته نص وي او بل لور ته د ډېرو خلکو نظر په دې حالت کې کثرت د ترجیح بنسټ نه شي ګرځېدلی، خو که یو لور ته د څو تنو غیر مجتهدو علماوو نظر وي او بل لور ته د ډېرو غیر مجتهدو علماوو نظر وي په دې حالت کې کثرت د ترجیح بنسټ ګرځي، امام سرخسي وایي: «**وَالْمَصِيرُ إلَى التَّرْجِيحِ بِالْكَثْرَةِ عِنْدَ الْمُسَاوَاةِ فِي الْقُوَّةِ**»[106]. کثرت هغه وخت د ترجیح بنسټ ګرځي کله چې دلائل په قوت کې سره مساوي وي.

له دې څخه څرګندېږي چې هغه خبره چې په یو شمېر شروحو کې یې احنافو ته نسبت کېږي چې کثرت د احنافو له نظره د ترجیح وجه نه ده، هغه سمه نه ده، ځکه په حنفي مذهب کې د کثرت په اړه دوه نظره نقل کېږي، یو نظر امام ابو حنیفه رحمه الله ته نسبت کېږي چې هغه کثرت ته اعتبار نه ورکوي او بل مذهب صاحبینو ته نسبت کېږي چې هغوی کثرت ته اعتبار ورکوي.

د دې قضیې اصل د خنثی مشکل په قضیه کې د احنافو د امامانو په اختلاف کې دی، امام ابو یوسف به ویل چې بولې به کتل کېږي چې اکثره یې له هر مخرج څخه راوتلی خنثی ته به هماغه حکم ورکول کېږي، که د فرج څخه په کثرت سرهراوتلی نو ښځه به وي او که د ذکر څخه زیاتې راوتلې، نو سړی به شمېرل کېږي، امام ابو حنیفه رحمه الله په کثرت باندې ترجیح قبیحه وګڼله او ورته یې وویل چې ابو یوسفه! قاضي به کښېني او د هغه بولې به په لوخي باندې پیمانه کوي؟ له همدې امله امام ابو حنیفه په دې قضیه کې توقف کاوه[107].

خو ورسره ګورو چې د امام سرخسي او د علاء الدي کاساني په څېر متقن حنفي علماء کثرت د ترجیح لامل ګڼي او کله چې علامه بدر الدین عیني په کثرت باندې ترجیح ورکوي او څوک پرې اعتراض کوي، چې ستاسې ظاهر مذهب خو دا دی چې په کثرت باندې ترجیح درسته نه ده، نو هغه په ځواب کې وایي چې د حنفي مذهب مشایخ په روایت کې په کثرت رواتو باندې د ترجیح قایل دي، د هغه عبارت داسې دی، وایي:

«**الثاني: أن أحاديثنا أكثر فكانت أولى، قال محمد في " السير الكبير ": أخذنا بما أجمع عليه أهل العراق دون ما انفرد به أهل المدينة، فرجح بالكثرة. فإن قلت: هذا خلاف ظاهر مذهبكم، فإن الترجيح بالكثرة لا يعتبر عندكم. قلت: قد ذكر بعض مشايخنا الترجيح بكثرة الرواة؛ إذ الظن بصدق خبر الاثنين أقوى منه بخبر الواحد**»[108].

---

105 - المبسوط للسرخسي، مخکینی مصدر. ج ۲ ص ۱۱۵.

106- المبسوط، سرخسي، مخکینی مصدر. ج ٢٦ ص ٨٣.

107 - امام سرخسي رحمه الله دا قضیه په «المبسوط» (30/ 104) کې ذکر کړې وایي: «وأما إذا خرج منهما جميعا فقد أخذا اسم المبال في وقت واحد على صفة واحدة؛ لأن هذا الاسم لا يختلف بكثرة ما يخرج منه البول وقلته ثم إن أبا حنيفة رحمه الله استقبح الترجيح بالكثرة على ما يحكى عنه أن أبا يوسف رحمه الله لما قال بين يديه يورث من أكثرهما بولا قال يا أبا يوسف وهل رأيت قاضيا يكيل البول بالأواني؟، فقد استبعد ذلك لما فيه من القبح وتوقف في الجواب؛ لأنه لا طريق للتمييز بالرجوع إلى المعقول ولم يجد فيه نصا فتوقف وقال: لا أدري»

108 - البناية شرح الهداية (3/ 270). البناية شرح الهداية، تأليف: محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن الحسين المعروف بـ «بدر الدين العينى» الحنفى (ت 855 هـ)، تحقيق: أيمن صالح شعبان، چاپوونکې اداره: دار الكتب العلمية - بيروت، لبنان، لومړی چاپ، کال 1420 هـ - 2000 م. ج ۳ ص ۲۷۰.

يعنې امام محمد بن حسن شيبانی په کثرت باندې ترجيح ورکړې ده، که څوک دا اعتراض وکړي چې دا خو ستاسې د ظاهر مذهب (د امام ابو حنيفه رحمه الله د قول) سره خلاف خبره ده، ځکه په کثرت باندې ترجيح ستاسې په نزد باندې اعتبار نه لري، نو زه (عيني) به ووايم چې زموږ د مذهب يو څه مشايخو په کثرت رواتو باندې د ترجيح يادونه کړې ده، ځکه کوم خبر چې دوه تنه نقل کړي د هغه په صدق باندې د هغه خبر د صدق په نسبت ګومان غالب وي چې يو تن يې نقل کړي. هدف يې دا دی چې دا خبره په عمومي ډول درسته نه ده چې زموږ په مذهب کې په کثرت باندې ترجيح ورکول صحيح نه دي.

له دې امله دا بايد زغرده ووايو چې د امام ابو حنيفة رحمه الله څخه چې د کثرت د عدم اعتبار کوم نظر په عمومي توګه نقل کېږي دا درست فهم نه دی، بلکې امام ابو حنيفه رحمه الله کثرت يوازې په هغه ځای کې د ترجيح دليل نه ګڼيچې په خپله په حجت کې کثرت واقع شي، شيخ برهان الدين مرغيناني د هدايې مصنف وايي: «**لِأَنَّهُ لَا مُعْتَبَرَ بِالْكَثْرَةِ فِي نَفْسِ الْحُجَّةِ**»[109]. پخپله په حجت کې کثرت ته اعتبار نشته، په دې معنی چې کوم څه چې پخپله مستقل حجت وي، لکه يو حديث چې د صحت په شرطونو برابر وي او بل لور ته دوه حديثونه وي، يوازې يو لور ته د حديثونو کثرت د ترجيح سبب نه کېږي، همدا راز يو څه چې په شريعت کې په دوو ګواهانو ثابتېږي، هلته که څلور ګواهان موجود شي، نو دا کثرت د ترجيح دليل نه شمېرل کېږي، دا تفسير په مطلق ډول دا نه نفي کوي چې کثرت دې د امام ابو حنيفه په نزد د ترجيح سبب نه وي، له همدې امله د حنفي فقهې په کتابونو کې په نورو ډېرو حالتونو کې کثرت د ترجيح دليل شمېرل شوی دی[110].

دا فرق زموږ د اصول فقهې په کتابونو کې په ډېر ښه او څرګند شکل باندې توضيح شوی دی، صدر الشريعة په خپل مشهور کتاب التوضيح لمتن التنقيح (چې متن او شرحه دواړه د ده خپل دي) کې د هغه دقيق فرق ډېر ښه انځور کړی دی چې په يو شمېر ځايونو کې احناف کثرت د ترجيح سبب ګڼي او په يو شمېر نورو ځايونو کې په کثرت باندې ترجيح نه بنا کوي، په دې اړه وايي:«**واعلم أنا نرجح بالكثرة في بعض المواضع كالترجيح بكثرة الأصول وكترجيح الصحة على الفساد بالكثرة في صوم غير مبيت،ولا نرجح بالكثرة في بعض المواضع كما لم نرجح بكثرة الأدلة ولنا في ذلك فرق دقيق. وهو أن الكثرة معتبرة في كل موضع يحصل بها هيئة اجتماعية ويكون الحكم منوطا بالمجموع من حيث هو المجموع وأنها غير معتبرة في كل موضع لا يحصل بالكثرة هيئة اجتماعية ويكون الحكم منوطا بكل واحد منها لا بالمجموع واعتبر هذا بالشاهد فإن كل أمر منوط بالكثرة كحمل الأثقال والحروب ونحوهما فإن الأكثر فيه راجح على الأقل وكل أمر منوط بكل واحد واحد كالمصارعة مثلا فإن الكثير لا يغلب القليل فيها بل رب واحد قوي يغلب الآلاف من الضعاف فكثرة الأصول من قبيل الأول; لأنها دليل قوة تأثير الوصف فهي راجعة إلى القوة فتعتبر وكثرة الأدلة من قبيل الثاني; لأن كل واحد دليل هو مؤثر بنفسه بلا مدخل لوجود الآخر أصلا فإن الحكم منوط بكل واحد لا بالمجموع من حيث هو المجموع**»[111].

دا دې څرګنده وي چې موږ په يو شمېر مسئلو کې د کثرت پر بنسټ ترجيح ورکوو، لکه هغه قياس ته ترجيح چې د هغې لپاره اصول (مقيس عليه نصوص) زيات وي (په هغه قياس باندې چې اصول يې کم وي) (په دې کې د اصولو کثرت د

---

[109] - العناية شرح الهداية (8/ 287). العناية شرح الهداية، تأليف: محمد بن محمد بن محمود، أكمل الدين أبو عبد الله ابن الشيخ شمس الدين ابن الشيخ جمال الدين الرومي البابرتي (المتوفى: 786هـ)، چاپوونکې اداره: دار الفكر، بيروت، لبنان. ج 8 ص 287و ج 10 ص 516.

[110] - همدا خبره ابن نجيم په «البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري» (8/ 539) کې کوي، وايي: «وَلِأَنَّ نَفْسَ الْخُرُوجِ دَلِيلٌ بِنَفْسِهِ فَالْكَثْرَةُ لَا يَقَعُ بِهَا التَّرْجِيحُ عِنْدَ الْمُعَارَضَةِ كَالشَّاهِدَيْنِ، وَالْأَرْبَعَةِ.»

[111] - شرح التلويح على التوضيح لمتن التنقيح في أصول الفقه، تأليف: سعد الدين مسعود بن عمر التفتازاني الشافعي (المتوفى : 793هـ) (التوضيح او متن التنقيح د صدر الشريعة دي)، تحقيق: زكريا عميرات، چاپوونکې اداره: دار الكتب العلمية بيروت – لبنان، لومړی چاپ، کال 1416 هـ - 1996 مـ. ج ۲ ص ۲۴۴. دا عبارت د توضيح دی، او د هغه شرحه تلويح هم ورسره چاپ ده.

ترجیح سبب ګرځول شوی خو په دې شرط چې علت یې یو وي، که همدا و صف څو نصوصو کې علت ګرځول شوی وي، نو دا کثرت د هغه د (علتیت) علت کېدو د تقویت لامل ګرځي د هغه وصف په مقابل کې چې علت کېدل یې په یو نص باندې ثابت وي) همدا راز په هغه روژه کې چې له شپې یې روژه نیوونکي نیت نه وي کړی او سهار یې نیت وکړي موږ د دې روژې صحت ته پر فساد باندې (د متباقي ورځې د اکثریت له امله) ترجیح ورکوو او په یو شمېر نورو مسئلو کې د کثرت پر بنسټ ترجیح نه ورکوو، لکه د دلایلو کثرت زموږ له نظره د ترجیح سبب نه دی (که یو لور ته یو حدیث وي او بل لور ته ډېر احادیث وي، نو په دې حالت کېد احادیثو کثرت د احنافو له نظره د ترجیح لامل نه ګرځي بلکې د حدیث قوت لامل ګرځي)، وایي چې په دې قضیه کې د دې دواړو (چې په کوم ځای کې کثرت د ترجیح بنسټ ګرځوو او په کوم ځای کې یې نه ګرځوو) په منځ کې موږ ډېر دقیق فرق کوو او هغه دا چې کثرت په هغه ځای کې معتبر ګڼو چېرته چې د هغې د مجموعې څخه یو ټولیز حالت رامنځته شي او حکم هغه ټولې مجموعې باندې د مجموعې په توګه بنا وي او کثرت په هغه ځای کې اعتبار نه لري چېرته چې د کثرت په پایله کې په هغه څېر ټولیز حالت نه رامنځته کېږي، بلکې حکم په هر یو باندې په ځانته ډول بنا وي، په ټولیز توګه په ټولو نه وي بنا، په دې باندې د یو حسي مثال په ذریعه ځان پوهه کړئ، نو د هر کار سرته رسول چې په کثرتباندې (د ټولیز حالت په توګه) موقوف وي نو په هغه کې زیات په کمو راجح دي لکه د وزن پورته کول او د جنګ مخته وړل (چې په دې کې ډېر خلک په ټولیز توګه دا کارونه سرته رسوي) او هر هغه کار چې سرته رسول یې په ځانته ځان هر هر فرد پورې تړاو ولري، په دې کې بیا کثرت ته اعتبار نشته لکه کشتي (غېږه نیول، چې دا په انفرادي توګه سرته رسېږي، که یو غېږه نیونکی په یو وخت په پرله پسې او په نوبت نوبت د لسو تنو سره هم غېږه ونیسي نو دا یو تن په دې لسو تنو غالبېدلی شي، ځکه هغه لس تنه په ټولیز هیئت غېږه نه نیسي بلکې هر یو یې په مستقل ډول په ځانته ځان دا کار کوي نو دلته کثرت ته اعتبار نشته) په دې کې کېدلی شي چې یو قوي تن په ډېرو غالب شي (خو که ډېر خلک په ټولیز هیئت د یو سره غېږه ونیسي بیا دا لومړی حالت ګرځي دلته بیا کثرت د ترجیح لامل ګرځي).

نو په دې مخکې مسئلو کې د اصولو کثرت (په قیاس کې) د لومړي حالت مثال دی، ځکه د اصولو کثرت د وصف (کوم چې علت ګرځول کېږي) د تأثیر په قوت باندې دلالت کوي، نو دا کثرت د قوت سبب ګرځي، نو معتبر به وي (یعنې په هر حالت کې چې کثرت د قوت سبب وګرځي هلته معتبر ګڼل کېږي) او د دلائلو کثرت د دویم حالت مثال دی، ځکه هر دلیل پخپله مؤثر دی (او په ځانته ځان په مستقله توګه د مدعا د اثبات کار کوي) او د بل دلیل موجودیت د ده په تأثیر کې هیڅ رول نه لري، ځکه حکم په هر دلیل باندې په ځانته ځان ولاړ دی، هغه دلائل د ټولیز هیئت په توګه د حکم بنسټ نه دی.

د دې معنی دا ده چې په کوم ځای کې د کثرت څخه داسې ټیم جوړېږي چې هغه ټول ټیم هغه کار سرته رسوي نو په دې حالت کې کثرت د احنافو د ټولو امامانو په نزد معتبر دی او په کوم ځای کې چې له دې څخه ټیم نه جوړېږي او هر تن ځانته ځانته هغه مسؤولیت سرته رسوي او یو بل ته د هغه کار په سرته رسولو کې مرسته نه شي رسولی نو په دې حالت کې بیا کثرت معتبر نه دی، موږ چې په شورا کې د کوم کثرت خبره کوو هغه د احنافو په نزد باندې معتبر کثرت دی، ځکه په دې کې د یو تن نظر لذاته دلیل نه دی، ځکه دوی مجتهدین نه دي چې د هر یو اجتهاد دې د مسئلې د اثبات لپاره دلیل وي، بلکې له دوی څخه د زیاتو نظر چې په یو څېر شي نو یو بل تقویه کوي او د یو شي د اثبات لپاره سبب ګرځي.

د دې خبرې لنډیز سعد الدین التفتازاني داسې را ویستلی دی، وایي: «**وحاصل الكلام في هذا المقام أن الكثرة إن تأدت إلى حصول هيئة اجتماعية هي وصف واحد قوي الأثر كانت صالحة للترجيح؛ لأن المرجح هو القوة لا الكثرة غايته أن القوة حصلت بالكثرة وإلا فلا،فكثرة أجزاء العلة توجب القوة كما في حمل الأثقال بخلاف كثرة جزئياته كما في المصارعة إذ**

**المقاوم واحد...قوله: "وعلى هذا" يعني كما أن كل ما يصلح دليلا مستقلا على الأحكام لا يصلح مرجحا لأحد الدليلين كذلك كل ما يصلح علة لا يصلح مرجحا؛ لأنه لاستقلاله لا ينضم إلى الآخر،يتحد به ليفيد القوة»**[112].

د خبرې لنډيز دا شو چې که کثرت داسې يو ټوليز حالت رامنځته کړي چې له هغه څخه يو داسې صفت جوړ شي چې قوي اغېز ولري، نو په دې حالت کې کثرت د ترجيح لپاره بنسټ گرځي او دا ځکه چې د احنافو له نظره د ترجيح اصلي لامل په حقيقت کې قوت دی (چې دا د احنافو مشهور مذهب دی[113]) خو دا قوت د کثرت څخه په لاس راغلی دی، خو که کثرت داسې نه وي بيا د ترجيح سبب نه گرځي، نو د علت د اجزاو کثرت (چې همدا يو علت په څو اجزاو (نصوصو) باندې ثابت شي) د قوت موجب گرځي، لکه د اثقالو په اوچتولو کې د ډېرو کسانو راجمع کېدل (کله چې ډېر کسان د يو بار د اوچتولو لپاره سره را يو ځای شي نو يو د بل د تقويت سبب گرځي، همدا راز کله چې د هماغه يو وصف د علتيت د اثبات لپاره ډېر نصوص راجمعه شي نو يو د بل د تقويت لامل گرځي)، د جزئياتو د کثرت بر خلاف (يعنې د علتونو کثرت د تقويت لامل نه گرځي) لکه د کشتۍ په حالت کې چې کشتي نيونکی يو انسان دی. (يعنې هر علت پخپله په مستقله توگه په مقيس کې حکم ثابتوي، که علتونه زيات شي يو بل نه شي تقويه کولی، لکه په کشتۍ کې چې يو غېږه نيوونکی د ډېر سره په نوبت نوبت غېږه نيسي، دا ډېر غېږه نيونکي يو بل نه تقويه کوي، ځکه هر يو په ځانته ځان او به مستقل ډول د هغه يو غېږه نيونکي سره غېږه نيسي او يو ټوليز حالت نه ايجادوي، چې يو د بل د تقويې لامل وگرځي) ... نو پر دې بنسټ هر هغه شی چې د احکامو د اثبات لپاره د مستقل دليل د جوړېدو صلاحيت لري هغه د بل دليل د ترجيح لامل نه گرځی (د دلائلو کثرت د ترجيح لامل نه شي گرځېدلی، ځکه هر دليل خپل کار چې د حکم اثبات دی په ځانته ځان او په مستقل ډول کوي، يو د بل سره په دې کې مرسته نه شي کولی چې يو د بل د تقويت لامل وگرځي) همدا راز هر وصف چې په مستقل ډول د علتيت اهليت ولري يو د بل لپاره د ترجيح لامل نه شي گرځېدلی، ځکه دا هر يو مستقل دليل دی، بل سره نه شي يو ځای کېدلی تر څو هغه سره يوځای شي او د هغه د تقويت لامل شي.

د امام ابو حنيفه رحمه الله د مذهب د دې تشريح پر بنسټ معنی دا شوه چې:

که د شورا مجلس په داسې خلکو مشتمل وي چې هر يو غړی يې مجتهد وي او د هر يو په اجتهادي نظر مسئله په مستقل ډول ثابتېدلی شي، نو د دوی حالت به د مستقلو دليلونو په څېر وي چې يو د بل د تقويې لامل نه گرځي، نو په دې کې به د امام صاحب له نظره کثرت د ترجيح بنسټ نه گرځي. خو که دا مجلس په غير مجتهدينو باندې مشتمل وي چې د هر يو شخص نظر په ځانته ځان د څه د ثابتولو جوگه نه دی، بلکې د يو ټوليز هيئت د غوره کولو په حالت کې يو بل تقويه کوي او په نظر يې پرېکړه بنا کېږي نو په دې حالت کې به کثرت د امام ابو حنيفه رحمه الله د اصل سره سم د ترجيح سبب گرځي، دا خو د امام ابو حنيفه رحمه الله له نظره او د صاحبينو له نظره خو کثرت مطلقا د ترجيح لامل گرځي، نو په دې ډول مجلس کې به هم د کثرت پر بنسټ پرېکړې درستې وي. دا خبره په صراحت سره د ابن مازة البخاري په عبارت کې راغلی.

کله چې د مجتهدينو صحابه کرامو ترمنځ اختلاف په يوې مسئلې کې اختلاف رامنځته شو، نو له دې امله چې دوی مجتهدين ؤ نو په دې حالت کې د اکثرو قول ته د کمو په قول باندې د امام ابو حنيفه په نزد ترجيح نه ورکول کېږي، خو د صاحبينو په نزد به د کثرت پر بنسټ ترجيح ورکول کېږي، ابن مازة وايي: «**ولا يفضل قول الجماعة على قول الواحد، قال الفقيه أبو جعفر رحمه الله: وهذا على أصل أبي حنيفة رحمه الله، أما على أصل محمد: يفضل قول الجماعة على قول**

---

112 - شرح التلويح على التوضيح لمتن التنقيح ج ۲ ص ۲۴۳. دا په التلويح کې د تفتازاني عبارت دی.

113 - ځکه احناف وايي لا ترجيح بكثرة الأدلة بل بقوتها.

**الواحد، وقد ذكر محمد رحمه الله في «السير الكبير» في مسألة: قال أهل العراق وأهل الحجاز كذا، وقال أهل الشام: كذا، فأخذنا بقول أهل العراق والحجاز لكثرتهم ولانتفاء التهمة عن قولهم»**[114].

ابن مازة د صحابه کرامو د اقوالو د مراتبو په اړه خبره کوي او وايي چې د هغوی ترمنځ په کومه مسئله کې اختلاف وي نو په دې حالت کې به د کثرت پر بنسټ د يو جماعت قول ته له هغوی څخه د يو تن په قول باندې ترجيح نه ورکول کېږي[115]، فقيه ابو جعفر وايي چې دا د امام ابو حنيفه د اصل پر بنسټ برابره خبره ده او د امام محمد بن الحسن الشيباني د اصل سره سم د اکثريت نظر تهد اقليت پر نظر ترجيح ورکول درست دي، امام محمد په خپل کتاب «السير الکبير» کې د يوې مسئلې په ترڅ کې وايي: د عراق او حجاز علماوو داسې ويلي او د شام علماوو داسې ويلی او موږ د عراق او حجاز د علماوو په قول عمل کوو، ځکه هغوی په اکثريت کې دي او د هغوی په مذهب کې کوم شک او تهمت هم نشته.

دويم حالت هغه حالت دی چې د شورا په مجلس کې مجتهدين نه وي، د غير مجتهدينو نظر په مستقل ډول د مسئلې د اثبات وسيله نه ګرځي، نو له دې امله په دې حالت کې د يو نظر د بل د نظر د تقويت لامل او سبب ګرځي، نو په دې بنسټ به په داسې يو مجلس کې چې غير مجتهدين يې غړي وي، اکثريت د ترجيح بنسټ ګرځي، په دې کې د احنافو د امامانو ترمنځ هيڅ اختلاف نشته، لکه صدر الشريعة چې په تفصيل سره خبره توضيح کړه، نو په اوسنيو ظروفو کې که په افغانستان يا کوم بل مسلمان هېواد کې د شورا لپاره کوم مجلس تشکيلېږي نو په داسې مجالسو کې به په اکثريت پرېکړه کول به بشپړ ډول د احنافو د مذهب سره برابر وي، هم د امام ابو حنيفه د مذهب سره او هم د صاحبينو د مذهب سره.

نه يوازې دا چې اکثريت د ترجيح بنسټ ګرځول درست کار دی بلکې که چېرته په ياد اکثريت باندې ترجيح، د ترجيح د کومې بلې وجهې سره په تعارض کې واقع شي نو د اکثريت پر بنسټ ترجيح ته به د ترجيح په هرې بلې وجهې لومړيتوب ورکول کېږي، په دې اړه ټولو اصوليون تصريح کړې، موږ دلته يوازې د صدر الشريعة دا عبارت لولو هغه په توضيح لمتن التنقيح کې وايي: «**مسألة إذا تعارض وجوه الترجيح فما كان بالذات أولى مما كان بالحال أي الترجيح بالوصف الذاتي أولى من الترجيح بالوصف العارض كما إذا تعارض جهتا الفساد والصحة في صوم رمضان لم يبيته هو يرجح الفساد بكونه عبادة ونحن نرجح الصحة بكون النية في أكثر اليوم فالترجيح بالكثرة ترجيح بالذات وذلك بالعارضي**»[116].

په اکثريت باندې ترجيح د احنافو په نزد باندې ډېره قوي ترجيح ده، تر دې چې کله د ترجيح وجوهات په خپلو کې سره متعارضې شي او يوه وجه په کې د اکثريت پر بنسټ ترجيح وي نو دې ته به په نورو وجوهاتو ترجيح ورکول کېږي او دا ځکه چې دا وجه د ذاتي وصف پر بنسټ ترجيح ده او په مقابل کې به يې په عارضي اوصافو باندې ترجيح وي او کومه ترجيح چې په ذاتي وصف باندې ولاړه وي هغه په عارضي وصف باندې ولاړې ترجيح باندې فوقيت لري. په دې اړه صدر الشريعة وايي: مسئله کله چې د ترجيح وجوهات په خپلو کې سره په تعارض کې واقع شي، نو کومه وجه ترجيح چې په ذاتياتو باندې ولاړه وي هغه به د ترجيح د هغې وجهې په مقابل کې فوقيت او ترجيح لري چې په حال (عارضي وصف) باندې بنا وي، يعنې د ذاتي وصف پر بنسټ ترجيح ورکول د عارضي صفت پر بنسټ په ترجيح ورکولو فوقيت لري، لکه کله چې د هغه روژې چې د شپې څخه يې نيت نه ويشوی د فساد او صحت د ترجيح اسباب سره متعارض واقع شول، امام شافعي

---

[114] - المحيط البرهاني في الفقه النعماني، مخکينی مصدر. ج ۸ ص ۸.

[115] - له همدې امله کله چې د مجتهدينو ترمنځ اختلاف واقع شي نو د احنافو په کتابونو کې د امام ابو حنيفه رحمه الله د مذهب سره سم ويل کېږي چې اقوی دې غوره کړی شي، کوم فقيه او مجتهد چې د هغه له نظره ډېر فقيه او ډېر متقي وي د هغه تقليد دې وکړي، په دې حالت کې په کثرت باندې فيصله نه کېږي، خو د غير مجتهدينو په حالت کې دا اصل نه دی، او وجه يې هماغه ده چې التوضيح لمتن التنقيح کې ورته صدر الشريعة په تفصيل سره اشاره درلوده.

[116] - التلويح شرح التوضيح لمتن التنقيح ج ۲ ص ۳۹۶. دا عبارت د تنقيح دی. همدا خبره امام بزدوي، او د هغه شارح عبد العزيز البخاري هم په تفصيل سره مطرح کړې ده، وګورئ: كشف الأسرار عن أصول فخر الإسلام البزدوي، عبد العزيز البخاري، مخکينی مصدر. ج ۴ ص ۱۳۹- ۱۴۰.

رحمه الله وايي چې روژه يې فاسده ده او دې ته ترجيح ورکوي او د ترجيح وجه دا بيانوي چې دا عبادت دی او عبادت له نيت څخه پرته نه متحقق کېږي او موږ (احناف) وايو چې د دې روژې صحت راجح دی، ځکه نيت د ورځې په اکثره برخه کې شتون لري، (نو احناف د کثرت پر بنسټ ترجيح ورکوي) نو په کثرت باندې ترجيح د ذاتي صفت پر بنسټ ده او د امام شافعي رحمه الله ترجيح د عارضي وصف پر بنسټ ده، نو په ذاتي وصف باندې ترجيح به په عارضي وصف باندې په ترجيح فوقيت لري او د احنافو ترجيح چې په کثرت باندې ولاړه ده راجح وي.

په دې توګه دې پايلې ته رسېږو چې په د شورا په مجالسو کې په ځانګړې توګه په اوسنۍ زمانه کې بايد پرېکړې د اکثريت پر بنسټ سرته ورسېږي او په اکثريت باندې شوې پرېکړې بايد ټولو ته ملزمې وي، د شورا په اوسني حالت کې د احنافو د ټولو امامانو له نظره اکثريت د ترجيح يوه معتبره وجه ده، بلکې دا د نورو وجوهو په نسبت قوي وجه ده او کله چې نور وجوه د دې سره په تعارض کې واقع شي نو د اکثريت وجهې ته به په نورو ترجيح او فوقيت تر لاسه وي.

**د څېړنې پايلې**

د دې لنډې ليکنې په پای که نه غواړم چې د لنډيز په نوم بيا د دې ليکنې مضامين تکرار کړم تر څو د لوستونکي لپاره د ستړيا لامل و نه ګرځي، دلته يوازې هغه پايلې راوړل غواړم چې د دې څېړنې په پايله کې ورته رسېدلی يم:

لومړی: شورا د اسلام يو عام ارزښت دی چې په ټول ژوند کې يې د تطبيق غوښتنه کوي، هغه که شخصي مسئلې وي او که ټولنيزې او سياسي مسئلې.

دويم: د شخصي مسئلو په اړه عام فقهاء وايي چې مشوره په کې مستحب کار دی او دا ډول مشوره ځکه په شريعت کې مستحب کړی شوې ده چې خلک په حرج اوستونزو کې اخته نشي، ځکه که دا ډول مشوره واجب شوی وی خلک به ډېر مشکل کې وی، دويم لامل يې دا کېدلی شي چې د دې ډول مسئلو سره د خلکو شخصي ګټې تړلي وي، نو خلک يې حتماً سرته رسوي، له دې امله ډېر تأکيد پرې نه دی شوی.

دريم:په ټولنيزو مسئلو کې د عام ولايت درلودونکو لپاره مشوره واجب ګرځول شوې ده، ځکه د دې سره داسې مقاصد تړلي دي چې شريعت ته مطلوب دي، د شورائيت څخه پرته د هغو ټولنو جوړول او مخ ته تګ ډېر ګران دي چې اسلام ته مطلوب دي او اسلام يې غواړي.

څلورم: په اوسنۍ زمانه کې هغه ټولې مسئلې چې انساني نظر او فکر ته پرېښودل شوي دي او شريعت کې په کې څرګند حکم نه دی مشخص کړی، د شورا ډګرونه شمېرل کېږي، په دې کې دا لاندې ډګرونه د يادولو وړ دي:

1. د قطعي احکامو په واقع کې تطبيق چې د علماوو په اصطلاح کې ورته د شريعت د احکامو تنزيل ويل کېږي.
2. د ظني الدلالة نصوصو د معنی تعيين.
3. د متعارضو نصوصو سره د تعامل ډګر.
4. فقهي نوازل او د اوسنۍ زمانې مسئلې.
5. هغه مسئلې چې په حنفي مذهب کې بحث شوي دي، خو مفتی به قول په کې نه دې مشخص شوی.
6. هغه مسئلې چې په حنفي مذهب کې بحث شوی دي او مفتی به قول هم په کې مشخص شوی دی، خو په مفتی به قول کې اختلاف شتون لري.
7. هغه مسئلې چې مفتی به قول په کې مشخص شوی دی، خو د اختيار سبب يې عرف، عادت، ضرورت، مصلحت، مفسده او داسې نور بدلېدونکي وجوهات دي چې په پايله کې يې مفتی به قول هم بدلېږي.
8. هغه سياسي او ټولنيز مسائل چې غالباً د منضبطو مصلحتونو او مفسدو تابع وي.
9. هغه اداري ترتيبات، د حکومت ولې مسئلې او د قوانينو جوړونه او تعديل چې د افرادو ژوند اغيزمن کوي.

پنځم: د هغه عمومي قضيو او مسئلو په اړه چې د ټولو خلکو په ژوند اغېز لري باید د ټولو خلکو سره مشوره وشي، لکه د هېواد قیادت ټاکل، په ځانګړي توګه په اوسنی زمانه کې چې په داسې مشورو کې د ټولو خلکو ګډون ممکن دی.

شپږم: په هغو کارونو کې چې د ټول ملت د سرنوشت سره تړاو ولري، خو ډېر راپېښېږي او د ډېرو را پېښېدو له امله په کې د ټولو سره مشوره ممکنه نه وي، نو د داسې مسئلو د بحث او فیصلو لپاره داسې مجالس جوړول په کاردي چې په پوهانو، متخصصینو، د خلکو او ولس په مشرانو او نماینده ګانو مشتمل وي او غړي یې ځانګړي خصوصیتونه ولري چې معرفت او علم، عملي تجربه او په اسلامي ارزښتونو التزامیې مهمې ځانګړتیاوې دي.

اووم: د شورائیت د تطبیق لپاره فقهاء په دې لاندې امورو ټینګار کوي:

1. د شورا لپاره یو مستقل او ځانګړی مجلس باید شتون ولري، چې دا ډول مجلس حضرت عمر رضي الله عنه درلوده.
2. په دې مجلس کې د خلکو عرفاء او نمایندګان شتون ولري، چې دا کار د پیغمبر علیه السلام په وخت کې هم تطبیق شوی دی.
3. د شورا په مجلس کې د یو مزاج او یو تخصص خلک نه وي را ټول کړی شوي، ځکه په دې حالت کې شورا بې معنی ګرځي.
4. مشوره او شورا باید په انفرادي شکل سرته ونه رسېږي، ځکه په انفرادي توګه مشوره اخیستل د شورا مقاصد له منځه وړي، بلکې دا باید د مجلس په داخل کې سرته ورسېږي.

اتم: په دې کیفیت باندې د شورا په تطبیق او ممارست ځکه ټینګار شوی چې د شورا لاندې شرعي مقاصد ترې ترلاسه شي:

1. سمې پرېکړې ته د رسېدلو لار شي او د فردي او مزاجي پرېکړو د نقصانونو څخه ټولنه وژغوري.
2. د شورائیت د تطبیق په پایله کې په ټولنه کې یووالی او همغږي رامنځته شي.
3. په ټولنه کې د حاکم نظام دیکتاتوري، استبداد او ظلم له منځه یوسي او ټولنه د سلیقوي تعامل څخه وژغوري.
4. ټولنه په ازاد مزاجی باندې وروزي چې د شرعي ادبونو د رعایت سره خپله هره خبره په داسې توګه مطرح کړی شي چې د معقولیت په صورت یې حاکم نظام په منلو مجبور کړي.
5. په ټولنه او د ادارې او هېواد په کچه بد ګومانیو ته د پای ټکی کېږدي.
6. د هغو پرېکړو مسؤولیت توزیع کړي چې پایلې یې ښې نه وي.

نهم: د دې ډول شورا پرېکړې که په اجماعي توګه ونیول شي، نو پر ټولو یې منل او عملي کول لازم دي دا اجماعي خبره ده په دې کې د هیڅا اختلاف هم نشته.

لسم: که د شورا د غړو او یا د حاکم او شورا د غړو ترمنځ اختلاف رامنځته شو او حاکم مجتهد و، نو هغه دې په خپل نظر عمل وکړي او د شورا پر پرېکړو ملزم نه دی، خو کومه خبره چې امام محمد د امام ابو حنیفه رحمهما الله څخه نقل کړې ده، هغه دا ده چې که مجتهد خپل نظر په دې حالت کې پرېښوده او د مقابل نظر یې عملي کړ دا کار یې درست دی.

یوولسم: کله چې حاکم او د شورا غړي ټول غیر مجتهدین وي، نو په دې حالت کې د شورا پرېکړې عملي کول لازم دي، موږ چې په کوم حالت کې ژوند کوو، هغه همدا حالت دی، اوس باید د شورا پرېکړې ملزمې واوسېږي.

دوولسم: د دې الزامي پرېکړو د لاسته راوړلو لپاره حاکم ته اختیار نشته چې د هر لورې پرېکړه یې غوره کړه، ځکه دا د تقلید حالت دی او مشوره ورکوونکي مجتهدین نه دي چې دا غیر مجتهد حاکم یې تقلید وکړي او نه حاکم مجتهد دی چې

د مطلق اختیار حق ورکړل شي، ځکه دا حکم بالتشهي دي چې دا کار حرام دی، نو باید چې د ترجیح د لاملونو څخه په یو لامل عمل وکړي.

دیارلسم: په دې حالت کې د تر ټولو زیات عالم، تر ټولو زیاتفقیه او تر ټولو زیات پرهېزګار په څېر د ترجیح وجوهات نه عملي کېږي، ځکه د دې وجوهاتو څخه په هغه حالت کې استفاده کېږي چې غیر مجتهدد مجتهدینو له جملې څخه د یو مجتهد قول غوره کول وغواړي او دلته چې د چا قول غوره کېږي هغوی مجتهدین نه دي، په دې کې تر ټولو زیات فقیه نشته، بلکې دوی اصلاً غیر فقیه (غیر مجتهدین) دي، نو کله چې غیر فقیه شول، نو د افقه (تر ټولو زیات فقیه) خو سوال نه پیدا کېږي.

څوارلسم: په دې حالت کې یوازې یوه وجه د ترجیح ممکنه ده او هغه د اکثریت په قول باندې الزاماً عمل کول دي.

پنځلسم: په اکثریت باندې ترجیح ورکول د جمهورو (امام مالک، امام شافعي، امام أحمد) او د احنافو څخه د صاحبینو مذهب دی او امام ابو حنیفه رحمه الله ته چې څوک مطلقاً دا قول منسوبوي چې هغوی اکثریت د ترجیح وجه نه ګڼي، دا درست نسبت نه دی، ځکه هغوی په هغه وخت کې د دلایلو اکثریت حجت نه ګڼي چې هر دلیل په مستقل ډول مدعا ثابته کړی شي، په دې حالت کې هغوی د دلایلو د کثرت پر ځای د دلیل قوت د ترجیح دلیل ګڼي، خو که اکثریت کې هر فرد په مستقله توګه د اثبات وسیله نه وي او د یو هیئت په توګه کار کوي، چې په دې ټولیز حالت کې یو بل تقویه کولی شي، نو په دې حالت کې یې امام ابو حنیفه رحمه الله هم د ترجیح معیار بولي او موږ چې په کوم حالت کې قرار لرو چې د غیر مجتهدینو شورا وي، چې په دې کې د هر غړي نظر مستقل حیثیت نه لري، خو که یو د بل سره یو ځای شي، نو یو بل تقویه کوي، له دې امله دا هغه صورت دی چې په دې د امام ابو حنیفه رحمه الله په ګډون ټول مجتهدین اتفاق لري، په دې حالت کې هیڅوک هم اختلاف نه لري، په دې حالت کې امام ابو حنیفه رحمه الله هم اکثریت د ترجیح لامل ګڼي لکه صدر الشریعة چې په تفصیل سره دا خبره کړې ده او د صاحبینو په نزد خو مطلقا اکثریت د ترجیح بنسټیزه وسیله او دلیل دی، نو دا حالت د احنافو په مذهب کې هم اجماعي حیثیت لري او په امت کې هم اجماعي حیثیت لري.

**وړاندیزونه**

د شورائیت د حکم او څرنګوالي په اړه په عامه توګه د فقهي مذهبونو او په ځانګړي توګه د حنفي مذهب د څرګند دریځ د روښانه کېدو وروسته د اسلامي امارت مسؤولینو ته دا لاندې سپارښتنې لرم او د الله تعالی څخه امید لرم چې زړونه ورته پراخه کړي او د تطبیق هڅه یې وکړي:

لومړی: په ټولنیزو چارو، حکومتولی، سیاسي مسئلو او نورو ټولو مسئلو کې د نظام د مسؤولینو لپاره شورا کول یو واجب او لازمي امر دی او په دې باندې اجماع نقل شوې ده، بناءً په هېواد کې د دې له تطبیق پرته بله چاره نشته، نو باید دا د یو شرعي واجب په توګه واخیستل شي.

دویم: له دې امله چې په شریعت کې د هر حکم خپل حکمتونه او مقاصد وي او په ځانګړي توګه کوم حکمونه چې د معاملاتو (د عباداتو پرته نور ټول احکام معاملات شمېرل کېږي) که هغه مقاصد ترلاسه نه شي، نو په حقیقت کې هغه حکم په درست او صحیح ډول نه دی تطبیق شوی، نو موږ باید شورائیت په داسې توګه تطبیق کړو چې د شریعت حکمتونه او مقاصد ترې ترلاسه شي، که هغه مقاصد تر لاسه نه شي، نو هغه بیا د هغه شرعي حکم شکلیات دي او حقیقت یې نه دی او په شکلیاتو باندې هغه پایل نه مرتبېږي چې شریعت یې غواړي، نو که موږ غواړو چې واقعي پایلې پرې مرتب شي، نو واقعي او حقیقي شورائیت باید رامنځته کړو.

دریم: د شورائیت دا مقاصد چې په څېړنه کې ورته اشاره وشوه، په دې توګه په لاس راځي چې د هغه اصولو په رعایت سره پلی شي چې د عملي تطبیقاتو او د علماوو د څرګندونو او عبارتونو څخه په لاس راځي او دا په لاندې ډول دي:

1. د هېواد په کچه باید د شورا لپاره یو لوی او باصلاحیته مجلس شتون ولري، چې د تشکیل، کار او فعالیت، صلاحیتونو، مکلفیتونو او نورو اړوندو مسئلو په اړه یې باید تفصیلات په یوه وثیقه کې ځای پر ځای شي.
2. دا مجلس باید په علماوو د بېلابېلو رشتو په متخصصینو، د بېلابېلو مزاجونو او مخینو درلودونکو افرادو، د ملت په نمایندګانو، اهل نظر او عقل مندو خلکو مشتمل وي،په کې غړیتوب ولري.
3. د مهمو او استراتېژیکو قضیو اړوند مشاورت له دې مجلس بهر هیڅکله هم صورت و نه نیسي، بلکې دا ډول ټول مشاورتونه د همدې مجلس حق وي.
4. د دې مجلس د کار ډګر به هر هغه څه وي چې شریعت د اجتهاد ډګر ګرځولی دی، چې په دې څېړنه کې ورته اشاره وشوه.
5. د دې ترڅنګ د نورو تخصصي کارونو لپاره د هغه ډګر د متخصصینو څخه ځانګړي مجلسونه هم تشکیلېدلی شي، چې هر مجلس به د خپل اختصاص په دائره کې فعالیت کوي.
6. د شورائیت پرېکړې به ملزمې وي، د اسلامي امارت مشرتابه، مسؤولین او په هره کچه مسؤولین باید په دې فیصلو وجوبا التزام وکړي او هیڅوک هم ځان د شورا د پرېکړو څخه پورته و نه ګڼي، ځکه د فقهاوو د تصریحاتو سره سم غیر مجتهد حاکم او قاضي او مسؤول د شورا د پرېکړو په منلو ملزم دی.
7. که حاکم، مسؤول او قاضي مجتهد وي، نو هغه د شورا پر پرېکړو ملزم نه دی ځکه شرعي اشکال ترې جوړېږي او هغه دا چې د مجتهد په حق کې سم نظر هماغه دی چې د مجتهد د اجتهاد سره سم وي، نو که هغه د شورا هغه نظر باندې الزاماً عمل وکړي چې د هغه خپل اجتهاد د هغه سره په ټکر کې واقع دی، نو هغه به په خپل آند په نا سم مذهب پرېکړه کوي او هغه په دې ملزم دی چې په حق باندې پرېکړه وکړي او د هغه له نظره حق هغه څه دي چې د ده اجتهادي نظر دی، خو دا شرعي مانع په غیر مجتهد کې نشته، نو بناءً غیر مجتهد د شورا پر پرېکړو ملزم دی.
8. د شورا د غړو ترمنځ د اختلاف په صورت کې (کله چې حاکم هم غیر مجتهد وي او د شورا غړي هم غیر مجتهدین وي) د حنفي مذهب د دري واړو امامانو او نورو دري واړو مذهبونواتفاقي نظر دا دی چې اکثریت د ترجیح بنسټ ګرځي، نو باید په دې حالت کې د اکثریت په نظر باندې عمل وشي.

که مو په دې شکل شورائیت ته لاره هواره کړه، نو موږ به د تاریخ په دې حساس پړاو کې د ډېرو ستونزو مخه نیولې وي او هېواد او ملت به مو سمې لارې ته برابر کړی وي.

**مأخذونه**

په دې مأخذونو کې یوازې هغو کتابونو ته ځای ورکړل شوی چې په دې بحث کې ورڅخه استفاده شوې او په مستقیم ډول ترې نقل شوی دی، هغه کتابونه چې اقتباس ترې نه دی شوی هغوی ته په کې ځای نه دی ورکړل شوی. ټول کتابونه د قرآن کریم څخه پرته د الف با په ترتیب راوړل شوي دي، په دې کې د الف لام رعایت نه دی شوی.

1. القرآن الكريم.
2. الأحكام السلطانية، تأليف: أبو الحسن علي بن محمد بن محمد بن حبيب البصري البغدادي، الشهير بالماوردي (ت 450هـ)، چاپوونکې اداره: دار الحديث – القاهرة، مصر.
3. أحكام القرآن، تأليف: أحمد بن علي أبو بكر الرازي الجصاص الحنفي (ت 370هـ)، تحقيق: عبد السلام محمد علي شاهين، چاپوونکې اداره: دار الكتب العلمية بيروت – لبنان، لومړی چاپ، کال: 1415هـ/1994م.

4. أحكام القرآن، تأليف: القاضي محمد بن عبد الله أبو بكر بن العربي المعافري الاشبيلي المالكي (ت 543هـ)، تحقيق وتعليق:محمد عبد القادر عطا، چاپوونکي اداره: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان، دریم چاپ، کال: 1424 هـ - 2003 م.

5. أدب القاضي، تأليف: أبو العباس أحمد بن أبي أحمد الطبري المعروف بابن القاص (ت 335 هـ)، تأليف: د. حسين خلف الجبوري [ت 1444 هـ]، چاپوونکي اداره: مكتبة الصديق - المملكة العربية السعودية/الطائف، لومړی چاپ، کال 1409 هـ - 1989 م.

6. الاستذكار، تأليف: أبو عمر يوسف بن عبد الله بن محمد بن عبد البر بن عاصم النمري القرطبي (المتوفى: 463هـ)، تحقيق: سالم محمد عطا، محمد علي معوض، چاپوونکي اداره: دار الكتب العلمية – بيروت، لومړی چاپ، کال: 1421 – 2000م.

7. الأصل، چې د امام محمد بن حسن په مبسوط باندې شهرت لري، تأليف: امام أبو عبد الله محمد بن الحسن بن فرقد الشيباني (ت 189 هـ)، تحقيق: دکتور محمد بوينوكالن، چاپوونکي اداره: دار ابن حزم، بيروت او وزارت اوقاف قطر، لومړی چاپ، کال: 1433 هـ - 2012 م.

8. أصول الدين، تأليف: عبد القاهر بن طاهر بن محمد بن عبد الله البغدادي التميمي الأسفراييني، أبو منصور (المتوفى: 429 هـ)، چاپوونکي اداره: مدرسة الإلهيات بدار الفنون التركية-تركيا اسطنبول، لومړی چاپ، د چاپ کال: 1346 هـ ق 1928م.

9. الأم، تأليف: الشافعي أبو عبد الله محمد بن إدريس بن العباس بن عثمان بن شافع بن عبد المطلب بن عبد مناف المطلبي القرشي المكي (المتوفى: 204هـ)، نشروونکي اداره: دار المعرفة، بيروت، د چاپ کال: ۱۹۹۰م ۱۴۱۰هـ ق.

10. بدائع الصنائع ج ۷ ص ۵.بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، تأليف: علاء الدين، أبو بكر بن مسعود الكاساني الحنفي الملقب بـ «بملك العلماء» (ت 587 هـ)، دار الكتب العلمية، بيروت، لبنان، لومړی چاپ، کال 1327 - 1328 هـ.

11. البناية شرح الهداية (3/ 270). البناية شرح الهداية، تأليف: محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن الحسين المعروف بـ «بدر الدين العينى» الحنفى (ت 855 هـ)، تحقيق: أيمن صالح شعبان، چاپوونکي اداره: دار الكتب العلمية - بيروت، لبنان، لومړی چاپ، کال 1420 هـ - 2000 م.

12. تاريخ بغداد، پوره نوم یې دی (تاريخ مدينة السلام وأخبار محدثيها وذكر قطانها العلماء من غير أهلها ووارديها)، تأليف: أبو بكر أحمد بن علي بن ثابت الخطيب البغدادي (392 - 463 هـ)، تحقيق: د بشار عواد معروف، چاپوونکي اداره: دار الغرب الإسلامي – بيروت، لومړی چاپ، کال 1422 هـ - 2002 م.

13. تأويلات اهل السنة «تفسير الماتريدي = تأويلات أهل السنة» (2/ 516):تأويلات أهل السنة المعروف ب (تفسير الماتريدي)، تأليف: امام محمد بن محمد بن محمود، أبو منصور الماتريدي (ت 333هـ)، تحقيق: د. مجدي باسلوم، چاپوونکي اداره: دار الكتب العلمية - بيروت، لبنان، لومړی چاپ، کال: 1426 هـ - 2005 م.

14. تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشِّلْبِيِّ، د تبيين مؤلف: عثمان بن علي الزيلعي الحنفي او د حاشية الشلبي مؤلف: شهاب الدين أحمد [بن محمد بن أحمد بن يونس بن إسماعيل بن يونس] الشِّلْبِيُّ [ت 1021 هـ] چاپوونکي اداره: المطبعة الكبرى الأميرية - بولاق، القاهرة، لومړی چاپ، کال 1314 هـ.

15. تمهيد الفصول في الأصول، چې په أصول السرخسي مشهور دی، تأليف: الإمام أبو بكر محمد بن أحمد بن أبي سهل السرخسي (ت 483 هـ)، تحقيق: أبو الوفا الأفغاني، رئيس اللجنة العلمية لإحياء المعارف النعمانية [ت 1395 هـ]، چاپوونکې اداره: جنة إحياء المعارف النعمانية بحيدر آباد بالهند.

16. الجامع [مطبوع آخر مصنف عبد الرزاق]، تأليف:معمر بن راشد الأزدي، رواية: عبد الرزاق الصنعاني، تحقيق: حبيب الرحمن الأعظمي، چاپوونکې اداره: المجلس العلمي- الهند، توزيع المكتب الإسلامي – بيروت، لبنان، دويم چاپ، کال 1403 هـ - 1983.

17. الجامع لأحكام القرآن المعروف ب(تفسير القرطبي)، تأليف: أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي (المتوفى: 671هـ)، تحقيق: أحمد البردوني وإبراهيم أطفيش، چاپوونکې اداره: دار الكتب المصرية – القاهرة، مصر، دويم چاپ، کال: 1384 هـ - 1964 م.

18. الجواهر المضية في طبقات الحنفية، تأليف: عبد القادر بن محمد بن نصر الله القرشي، أبو محمد، محيي الدين الحنفي (المتوفى: 775هـ)، چاپوونکې اداره: مير محمد كتب خانه – كراتشي، بدون تاريخ.

19. حلية الأبرار وشعار الأخيار في تلخيص الدعوات والأذكار المستحبة في الليل والنهار، چې په (الأذكار النواوية) مشهور دی، تأليف: أبو زكريا، يحيى بن شرف النواوي (631 - 676 هـ) تحقيق او اهتمام: بَسّام عبد الوهّاب الجابي [ت 1438 هـ]، نشروونکې اداره: الجفان والجابي للطباعة والنشر - دار ابن حزم للطباعة والنشر، لومړی چاپ، د چاپ کال: 1425 هـ- 2004 م.

20. حياة الصحابة، تأليف: محمد يوسف بن محمد إلياس بن محمد إسماعيل الكاندهلوي (ت 1384هـ)، تحقيق: الدكتور بشار عوّاد معروف، چاپوونکې اداره: مؤسسة الرسالة للطباعة والنشر والتوزيع، بيروت – لبنان، لومړی چاپ، کال: 1420 هـ - 1999 م.

21. درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، تأليف: علي حيدر خواجه أمين أفندي (المتوفى: 1353هـ)، عربي ته ترجمه: فهمي الحسيني، چاپوونکې اداره: دار الجيل، بيروت، لبنان، لومړی چاپ، کال: 1411هـ - 1991م.

22. رد المحتار، على الدر المختار: شرح تنوير الأبصار، تأليف: محمد أمين، الشهير بابن عابدين [ت 1252 هـ] چاپوونکې اداره: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي وأولاده بمصر، دويم چاپ، کال: 1386 هـ = 1966 م.

23. سراج المريدين فی سبیل الدین چې پوره نوم يې (سراج المريدين في سبيل الدين لاستنارة الأسماء والصفات في المقامات والحالات الدينية والدنيوية بالأدلة العقلية والشرعية القرآنية والسنية وهو القسم الرابع من علوم القرآن في التذكير)، إملاء: أبو بكر محمد بن عبد الله بن محمد ابن العربي المعافري الإشبيلي (ت 543 هـ)، تحقيق: الدكتور عبد الله التوراتي، چاپوونکې اداره: دار التحديث الكتانية (طنجة – المغرب / بيروت - لبنان) لومړی چاپ، کال: 1438 هـ - 2017 م.

24. السياسة الشرعية في إصلاح الراعي والرعية، تأليف: شيخ الإسلام أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام ابن تيمية (661 - 728 هـ)، تحقيق: علي بن محمد العمران، چاپوونکې اداره: دار عطاءات العلم (الرياض) - دار ابن حزم (بيروت)، څلورم چاپ، کال: 1440 هـ - 2019 م.

25. سير أعلام النبلاء، تأليف: شمس الدين محمد بن أحمد بن عثمان الذهبي (673 - 748 هـ)، تحقيق: محمد أيمن الشبراوي، چاپوونکې اداره: دار الحديث، القاهرة – مصر، د چاپ کال: 1427 هـ - 2006 م.

26. شرح أصول اعتقاد أهل السنة والجماعة، تأليف: أبو القاسم هبة الله بن الحسن بن منصور الطبري الرازي اللالكائي (ت 418 هـ)، تحقيق: أحمد بن سعد بن حمدان الغامدي [ت 1434 هـ]، چاپوونکي اداره: دار طيبة – السعودية، اتم چاپ، کال 1423 هـ / 2003 م.
27. شرح التلويح على التوضيح لمتن التنقيح في أصول الفقه، تأليف: سعد الدين مسعود بن عمر التفتازاني الشافعي (المتوفى : 793هـ) (التوضيح او متن التنقيح د صدر الشريعة دي)، تحقيق: زكريا عميرات، چاپوونکي اداره: دار الكتب العلمية بيروت – لبنان، لومړی چاپ، کال 1416 هـ - 1996 مـ.
28. شرح عقود رسم المفتي، تأليف: خاتمة المحققين العلامة محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز الشهير بابن عابدين الشامي (ت 1252هـ ق)، چاپوونکي اداره: مكتبة البشرى، كراچي، پاكستان، لومړی چاپ، کال ١٤٣٠هـ ق ٢٠٠٩م.
29. شرح فتح القدير على الهداية، تأليف: كمال الدين، محمد بن عبد الواحد السيواسي ثم السكندري، المعروف بابن الهمام الحنفي [ت 861 هـ] چاپوونکي اداره: شركة مكتبة ومطبعة مصفى البابي الحلبي وأولاده بمصر، لومړی چاپ، کال 1389 هـ - 1970 م.
30. شرح مختصر الطحاوي، تأليف: أبو بكر الرازي الجصاص (305 - 370 هـ)، تحقيق: په ام القرى پوهنتون کې د دکتوراه د محصلينو يوه مجموعه، چاپوونکي اداره: دار البشائر الإسلامية - ودار السراج، لومړی چاپ، کال 1431 هـ - 2010 م.
31. صحيح البخاري، چې پوره نوم يې دی(الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله - صلى الله عليه وسلم - وسننه وأيامه)، تأليف: أبو عبد الله محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة الجعفي البخاري (ت 256 هـ)، تحقيق: د. مصطفى ديب البغا، نشروونکي اداره: : (دار ابن كثير، دار اليمامة) – دمشق، سورية، پنځم چاپ، د چاپ کال 1414 هـ - 1993 م.
32. الطبقات الكبرى، تأليف: محمد بن سعد بن منيع الهاشمي البصري المعروف بابن سعد (ت 230 هـ)، تقديم: إحسان عباس، چاپوونکي اداره: دار صادر – بيروت، لومړی چاپ، کال ١٩٦٨م.
33. العناية شرح الهداية (8/ 287). العناية شرح الهداية، تأليف: محمد بن محمد بن محمود، أكمل الدين أبو عبد الله ابن الشيخ شمس الدين ابن الشيخ جمال الدين الرومي البابرتي (المتوفى: 786هـ)، چاپوونکي اداره: دار الفكر، بيروت، لبنان.
34. غياث الأمم في التياث الظلمد عبد العظيم الديب تحقيق.
35. الفصول في الأصول، تأليف: امام أحمد بن علي أبو بكر الرازي الجصاص الحنفي (ت 370هـ)، چاپوونکي اداره: وزارة الأوقاف الكويتية، دويم چاپ، کال: 1414هـ - 1994م.
36. فضائح الباطنية، تأليف: امام أبو حامد محمد بن محمد الغزالي الطوسي (ت 505هـ)، تحقيق: عبد الرحمن بدوي، چاپوونکي اداره: مؤسسة دار الكتب الثقافية – الكويت.
37. فقه الشورى والاستشارة، دكتور توفيق الشاوي، دار الوفاء، المنصورة، مصر، الطبعة الثانية عام 1992م ـ 1413.
38. الكافي مخطوط د دې مخطوط تصوير په انترنت باندې نشر شوی دی او ما سره يې په کمپيوتر کې يوه نسخه شته دی.

39. كشف الأسرار عن أصول فخر الإسلام البزدوي، تأليف: عبد العزيز بن أحمد بن محمد، علاء الدين البخاري (المتوفى : 730هـ)، تحقيق: عبد الله محمود محمد عمر، چاپوونكې اداره: دار الكتب العلمية -بيروت، لبنان، لومړی چاپ، كال:1418هـ/1997م.

40. كنز الوصول الى معرفة الأصول المعروف ب(أصول بزدوي)، تأليف: امام علي بن محمد البزدوي الحنفيی، چاپوونكې اداره: مطبعة جاويد پريس، كراچي، پاكستان.

41. المبسوط، تأليف: محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي (ت 483 هـ) تحقيق: ابو الوفاء الأفغاني، چاپوونكې اداره: مطبعة السعادة – مصر.

42. المحرر الوجيز في تفسير الكتاب العزيز چې په تفسير ابن عطية مشهور دی، تأليف: أبو محمد عبد الحق بن غالب بن عبد الرحمن بن تمام بن عطية الأندلسي المحاربي (ت 542هـ)، تحقيق: عبد السلام عبد الشافي محمد، چاپوونكې اداره: دار الكتب العلمية – بيروت، لومړی چاپ، كال 1422 هـ.

43. المحيط البرهاني في الفقه النعماني: فقه الإمام أبي حنيفة رضي الله عنه، تأليف:برهان الدين أبو المعالي محمود بن أحمد بن عبد العزيز بن عمر بن مَازَةَ البخاري الحنفي (ت 616 هـ)، تحقيق: عبد الكريم سامي الجندي، چاپوونكې اداره: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان، لومړی چاپ، كال: 1424 هـ - 2004 م.

44. مختصر الخرقى على مذهب ابي عبد الله أحمد بن حنبل الشيباني، تأليف: أبو القاسم عمر بن الحسين بن عبد الله الخرقي (المتوفى : 334هـ)، چاپوونكې اداره: دار الصحابة للتراث، د چاپ كال: 1413هـ-1993م.

45. المختصر من علم الشافعي ومن معنى قوله المعروف ب(مختصر المزنى) تأليف: أبو إبراهيم إسماعيل بن يحيى المزني (ت 264 هـ)، تصحيح وتعليق: أبي عامر عبد الله شرف الدين الداغستاني، ومعه: مقدمات منهجية بين يدي المختصر للإمام المزني، وملحق: كتاب الأمر والنهي على معنى الشافعي رحمه الله من مسائل المزني رضي الله عنه، برواية أبي إسحاق إبراهيم بن إسحاق عنه، چاپوونكې اداره: دار مدارج للنشر – الرياض، لومړی چاپ، 1440 هـ - 2019 م.

46. مسند الإمام أحمد بن حنبل، تأليف: الإمام أحمد بن حنبل (164 - 241 هـ)، تحقيق: شعيب الأرنؤوط [ت 1438 هـ]- عادل مرشد – وآخرون، إشراف: د عبد الله بن عبد المحسن التركي، چاپوونكې اداره: مؤسسة الرسالة.

47. المصباح المنير في غريب الشرح الكبير، تأليف: أحمد بن محمد بن علي الفيومي ثم الحموي، أبو العباس (ت نحو 770 هـ)، چاپوونكې اداره: المكتبة العلمية – بيروت، بدون تاريخ.

48. مصنف عبد الرزاق، تأليف أبو بكر عبد الرزاق بن همام الصنعاني، الناشر : المكتب الإسلامي – بيروت، دويم چاپ، كال: 1403هـ ق، تحقيق : حبيب الرحمن الأعظمي.

49. مفاتيح الغيب، المعروف ب (التفسير الكبير)، تأليف: أبو عبد الله محمد بن عمر بن الحسن بن الحسين التيمي الرازي الملقب بفخر الدين الرازي خطيب الري (ت 606هـ)، چاپوونكې اداره: دار إحياء التراث العربي – بيروت، دريم چاپ، كال: 1420 هـ.

50. الملتقط في الفتاوى الحنفية تأليف: الإمام ناصر الدين أبو القاسم محمد بن يوسف الحسيني السمرقندي المتوفى عام 556هـ ق، تحقيق: محمود نصار و السيد يوسف أحمد، من منشورات محمد علي بيضون، دار الكتب العلمية، بيروت، لبنان، لومړی چاپ كال ۱۴۲۰هـ ق ۲۰۰۰م.

51. المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج، چې په (شرح الامام النووي على صحيح مسلم) شهرت لري، تأليف: أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (ت 676هـ)، چاپوونکې اداره: دار إحياء التراث العربي – بيروت، دويم چاپ، کال: ۱۳۹۲هـ ق.

52. موسوعة الإجماع في الفقه الإسلامي، تأليف: د دکتوراه د رسالو مجموعه چې په جامعة الملك سعود سعودي کې ليکل شوي دي، چاپوونکې اداره: الناشر: دار الفضيلة للنشر والتوزيع بالرياض، المملكة العربية السعودية، لومړی چاپ، کال (۲۰۱۲م څخه تر ۲۰۲۱م پورې).

53. نهاية الوصول في دراية الأصول، تأليف: صفي الدين محمد بن عبد الرحيم الأرموي الهندي (715 هـ)، تحقيق: د. صالح بن سليمان اليوسف - د. سعد بن سالم السويح، چاپوونکې اداره: المكتبة التجارية بمكة المكرمة، لومړی چاپ، کال 1416 هـ - 1996 م.